
| د کرونا کیسې | ۵ |

د بلخ، جوزجان، فاریاب، سرپل، سمنګان، تخار او کندز کیسې

# د مرګ او وېرې ورځې


محمد عالم کوهکن او علي پيام

ژباره: حبیب وقار

ACKU

د کرونا کیسې

د مرګ او وېرې ورځې

د اړیکو شمېرې: ۴۵۳

Facual Stories on Covid-19

# The Days of Fear and Death


M. Alim Kohkan and Ali Payaim


دا هم زما له بده نصيبه دي. زوړ پلار مې ناروغه شو. دوه اونۍ کيږي چې نه رغيږي. وروڼو مې ودونه وکړل، خوينديې مې هم د خپل بخت کور ته ولاړې. پلار مې وايي «تا هم د خپل بخت کور ته ولېږم، بل کوم ارمان په ژوند کې نه لرم». فکر مې کاوه چې ناروغي به يې موسمي ناروغۍ وي، خو نه، ناروغۍ يې کرونا ته پاتې کيږي؛ دا ناوړه درد له کومه را پيدا شو؟ د تره زوی مې له بهر څخه راغلی و. پلار مې د هغه ليدو ته ورغلی و، دا ناروغۍ يې له هغه ځايه له ځان سره راوړه. هغه چې ځوان و، پياوړی و، ژر ورغېده. خدای دې زما په پلار ورحميږي، که په هغه څه وشي زه به څه وکړم؟ خدای دې هغه ورځ نه راولي. وروڼه مې شته. خو وروڼه کله پلرونه کېدلی شي! خدای خبر چې ما به چاته ورکړي! وايي "يتيمه انجلۍ اووه پلارونه لري." ای خدايه پاکه ته رحم وکړه...!

توانا

برنامه‌ای برای نشر کتاب، ترویج فرهنگ کتاب‌خوانی و توسعه‌ی کتابخانه‌ها در افغانستان

ACKU Box Library Extension


ISBN 978-9936-662-22-3

بسم الله الرحمن الرحيم

# د وېرې او مرګ څپې

## (د کرونا کیسې)

لیکوال: محمد عالم کوهکن او علي پیام
ژباړه: حبیب وقار

# د وېرې او مرگ څپې

(د کرونا کیسې)

لیکوالان: محمد عالم کوهکن او علي پیام

ژباړه: حبیب وقار

ادبي څارونکی: کاوه جبران

انځورگره: ام‌البنین بهادري

گرافیک او اوډونکی: توانا

خپرونکی: په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز ACKU

د پروگرام مسول: کاظم‌حمیدي‌رسا

خپرونکې کمېټه: عبدالوحید وفا، زینت‌الله قانت، حبیب وقار او محب‌الله زغم

پرلپسې شمېره: ۴۵۳

ای اېس بي اېن: ISBN 978-9936-662-22-3

د چاپ کال: ۱۴۰۱هـ لمریز

# د مطالبو لیکلړ


له لوستونکو سره خبرې اترې.......................................... ۷

د نیمایي بدن په لټه.......................................... ۱۱

کرونا پوله نه پېژني.......................................... ۲۱

د ژوند درس.......................................... ۲۷

روغه خندا.......................................... ۳۹

ازموینه.......................................... ۴۷

توخته مېش.......................................... ۵۵

قیزلرشاه.......................................... ۶۳

وصیتپانه.......................................... ۷۱

د وېرې او مړینې ورځې.......................................... ۷۹

پېریان.......................................... ۹۱

په ځمکه کې پټه اروا.......................................... ۱۰۵

د تودې دوړې بوی.......................................... ۱۱۳

آی‌جمال.......................................... ۱۲۱

تور قارچ.......................................... ۱۲۹

# له لوستونکو سره خبرې اترې

ځینې انساني پېښې یوازې یوه تاریخي پېښه نه وي چې وکولای شو په ثبتولو سره یې تاریخ ولیکو. دغه پېښې په خپله د تاریخ پیل دی: د نوي ژوند له پاره، د تړاو او ارادې ټکی او د تاریخ تګلورې بدلوي او له هغې وروسته له تاریخ څخه د انسان پوهه بل ډول څرنګوالی لري.

د کرونا نړیواله ناروغي، یوه له همدې پېښو څخه ده. هغه ناروغي چې یوازې د یوې ساري ناروغۍ بې درېغه خپرېدل وو. د نړیوالې اقتصادي ګډوډۍ، د بې کنټروله بېکارۍ وده، د نړیوالو روغتیايي نظامونو ښویېدل او تر ټولو مهمه دا چې د یوویشتمې پېړۍ انسان د وروسته پاتې والي لامل شو. هغه انسان چې د خیال او لوړې ځان غوښتنې له مخې یې دا ټول د پوهې پر نړۍ واکمن شوي وو خو ډېر په اسانه ډول د هغې موجود پر وړاندې چې څو میلیونه وارې ترې وړوکی دی ورته ناتوانه شو.

سربېره پر دې، د کرونا ویروس خپرېدل یوازې د یوې ساري ناروغۍ خپرېدل نه وو بلکې د بشر د نوي تاریخ یو پړاو و چې ذهن ته د سپارلو او خاطره جوړولو کار یې هم یوازې د تاریخ لیکنې او تاریخ ته سپارلو پر غاړه نه وو. که څه هم تاریخ د روایت جوړونې پر بنسټ، یوازې د لویو پېښو

روایت کوونکی دی او ورو جزیاتو او کیفیاتو ته پاملرنه نه کوي، د یوې ټولنیزې فاجعې بېلابېل اړخونه نه څېړي، په ځانګړي ډول د هغې فاجعې په څېړلو تکیه نه کوي. دلته ادبیات دي چې چاپېریال ته ننوزي او د پېښې څرنګوالي ته په پوره پاملرنې سره ګوري، جزئیات او کیفیات یې شني، تخیل پکې کاروي او په پای کې هغه د ټولو خاطرو ته سپاري.

د همدې دلیل له مخې، اړینه بلل کېږي د کرونا ساري ناروغي یوازې د رسمي او نارسمي مکتوب په توګه پاتې نه شي، بلکې ادبیات هم د دې پېښو په ژوندي ساتلو کې برخه ولري. ادبیات باید د تاریخ ډېره برخه کار ترسره کړي چې د هغې پېښو د ثبت چارې ډېر پاینښت ومومي.

له همدې کبله د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU) د یوه فرهنګي مرکز په توګه چې په بېلابېلو برخو کې د بشري تجربو ساتنه او پاینښت له خپلو اصلي دندو بولي، مخکې شو او هڅه یې وکړه، د دې لوی حیاتي کار مدیریت په لاس کې واخلي.

ستاسې په لاس کې کتاب د همدې هڅو او هدف پایله ده. له کرونا ناروغۍ سره د افغانانو د مبارزې د کیسو ټولګه. د اتلو انسانانو د اتلولیو حکایات، زېریو، ماتو او بریاوو کیسې چې د ژوندي پاتې کېدو له پاره یې هڅې کړې دي. هغه هم په داسې یوه ښار کې چې نظر د نړۍ د ډېرو ښارونو په نسبت د ډېرو لږو امکاناتو او توانایي لرونکی دی، په دې جګړه کې ښکېل و.

د دې کتاب د لیکلو د څرنګوالي په اړه په مختصره توګه ویلای شو چې په هېواد کې د کرونا ویروس د لومړۍ څپې په پای کې، د افغانستان د معلوماتو د مرکز له لوري له کرونا سره د مبارزې د تجربو راټولول طرحه شول. هوډ په دې شو چې د دې مبارزې بشري تجربې د هېواد له شپږو زونونو راټولې شي. دغه شپږ زونونه له کابل، شمال، جنوب، ختیز، لویدیز

او مرکزي سيمو څخه عبارت دي. په لومړيو کې راپورټرانو له خلکو څخه د مرکې په ډول د اطلاعاتو او معلوماتو تجربې راټولې کړې. راټول شوي معلومات د ټاکل شوې ډلې له ارزونې وروسته ليکوالو ته ورکړل شول. ليکوالو يوه يا څو تجربې په يوه کيسه بدلې کړې. په دې سره، ويلای شو چې د دې ټولګې ټولې کيسې په رښتينو پېښو ليکل شوې دي. ټولې پېښې رښتينې دي او په دې کيسو کې د ليکوال د تخيل رول يوازې صحنه جوړول، جملې اوډل او د ټون توليد دی.

د کيسو په ليکلو کې تر شونې کچې هڅه شوې، ټون او ټول اصطلاحات د همغې کليوالې سيمې وي چېرته چې پېښه شوې. په دې ټون کې د خلکو او ځايونو نومونه، پوښاک، خوراک او بوټي شامل دي چې په قصدي توګه په ټولو کيسو کې ساتل شوي دي.

بايد وويل شي چې کيسې په لومړيو کې د ليکوالو له لوري په دريو پښتو، فارسي او ازبيکي ژبو ليکل شوې دي. وروسته هره کيسه په ملي ژبو ترجمه شوې ده.

پايله يې په شپږو کتابونو کې راټوله شوې ده چې دا کتاب هم له همدې ډلې دی.

**ځواکمن پروګرام**

**د افغانستان د معلوماتو مرکز ACKU**



## د نیمایي بدن په لټه[1]

زه ډاکټره اولکر سنیشه یم. غواړم تاسې ته د خپل ژوند د یوه کوچني برخلیک کیسه وکړم چې په خپل ژوند کې مې په دې نژدې وخت کې تېر شوی دی. زه مې د کور، کار ځای، خپلوانو او ملګرو په اړه خبرې نه کوم، بلکې خپل دردونه مې له هغه ځایه بیانوم چې هلته مې ستونزې او ناخوالې تجربه کړې دي.

زه او مېړه مې په یوه روغتون کې کار کوو. د هوا په سړېدو سره ناروغان ورځ په ورځ ډېرېږي. په روغتون کې مو ډاکټران هم لږ دي. په دې وختونو کې مو روغتون ته د ناروغانو راتګ هم ډېر شوی دی او کاري ساعتونه مو ورسره ډېر شوي دي. د ډاکټر تیمور سنیشته کار هم سخت دی. هغه جراح او زه د ماشومانو ډاکټره یم. د انټرنیټي شبکو له لارې پېښې، خبرونه او د طبابت د نړۍ لاسته راوړنې څارم. کرونا د طبابت په نړۍ کې یوه نوې موضوع ده. په مجازي نړۍ کې د دې ناروغۍ په هکله بېلابېل او کله هم ضد او نقیص معلومات

---

۱- لیکوال: ایشانچتوره

خپرېږي. کرونا ویروس په نړۍ کې ورځ تر بلې په چټکۍ سره خپرېږي.

موږ په کور کې وو. د خلکو په منځ کې له چین څخه د ناپېژانده ناروغۍ د خپرېدو بحثونه تاوده وو. ډاکټران له مسائلو خبرېږي. د خلکو اندېښنې ډېرې شوې دي. هر څوک هرڅه وایي.

له روغتون زنګ راغی. ویې ویل:

"د ساري او خطرناکې ناروغۍ خپرېدل پیل شوي دي، باید اړین تدابیر ونیول شي".

له موږ یې وغوښتل سبا سهار په بېړنۍ غونډه کې د ګډون له پاره روغتون ته وختي ورشو. سبا سهار روغتون ته وختي لاړو. په علمي کمیسیون کې خبرې پرې وشوې چې ټوله ورځ ناروغان ګورو. فکر کوو د ساعت ستن ډېره ورو ګرځي. په اسمان کې تورې ورېځې خپانده دي. هوا بدله شوې. ژوند خلکو ته د ارامۍ اجازه نه ورکوله. په دهلېزونو کې د ناروغانو د مرګونو غږونو ځپې اورېدل کېدې. د ماشومانو او ښځو پرلپسې ځوږ ډاډ له منځه وووړ. هغوی چې روغتون ته راغلي وو، په څېرو کې یې د ناروغۍ تر څنګ د بېوزلۍ نښې له ورایه ښکارېدې. د دې حالت په لیدو ډېره ځورېدم. په زکام د اخته کسانو کچه تر نورو ډېره ده. د هغو ناروغو ښځو کتار چې ټوخېدې او ډېرو یې ماشومان په غېږ کې نیولي وو تر نورو اوږد و. د دې ناروغانو له ډلې د هغوی چې نفس تنګي او تبه یې لرله، هم کم نه و. په هر ځای کې مرګ خپل سیوری غوړولی و.

څو چې اونۍ پوره کېده وضعیت نور هم ترینګلی شو. په بېړني حالت کې له ناروغانو سره مرسته کوو. له روغتون چې بهر کېدم لمر لوېدو ته یو ساعت پاتې و، په ښار کې مې څو هلکانو چې سپېلنی یې دوداوه پام ور واړاوه. یوه هلک چې نهه یا لس کلن به و او نازک کالي یې په تن وو، زما په لور را منډه کړه، د سپېلني قوتی یې رانه ګرځاوه چې دود او بوی ترې پورته کېده. په

همدې حال کې یې دا خبرې زمزمه کولې:

"سپېلنی د زرگونو دردونو درمل- سپېلنی د بلا ترونکی" زما په لور یې لاس را اوږد کړ. نور سپېلني کوونکي هلکان هم یو پر بل پسې راتلل او ټول رانه تاو شول. په دوی کې یې یو دوو تنو په لوړ غږ وویل:

"دا دی ماسک، دا دی ماسک، ماسک واخلئ چې له کرونا مو خلاصوي..."

باید ژر کور ته تللې وای.

ما چې له خپل مېړه سره خدای پاماني کړې وه کور ته راغلم. مېړه مې ډاکټر سنیشته په روغتون کې نوکري و. په هر لوري د "کرونا" او د "چینایي ویروس" کیسې او خبرې دي. کوچنی او لوی د همدې ناروغۍ په اړه خبرې کوي. په ټلویزون هم ټول د کرونا په اړه خبرې تعقیبوي او نورو ته یې وایي. ځوک یې رښتیا او ځوک یې هم یوازې یوه دروغجنه گنگوسه بولي. یو شمیر اندېښمن دي او ځینې هم وایي:

"بې اځله مرگ نشته".

اندېښنو په هر ځای سیوری غوړولی دی. په لومړیو ورځو کې یې ټول له سیوري تښتېدل.

سبا ته په بېړه روغتون ته لاړم. کله مې چې خپلې کاري کوټې ته ننوتم، وجود مې ولړزېد، ټکان مې وخوړ. په ژوند کې دا لومړی ځل و چې له تابوت سره مخ کېدم. د دوو مړیو په لیدو چې له روغتون یې ویستل ووېرېدم. پوهېږم چې د کرونا په څېر ساري ناروغي خطرناکه ده. که دې لړ تېروتنه هم وکړه، پرې اخته کېږې او بیا دې ښه کېدل اسانه نه دي.

کور کې یم، مېړه مې ډاکټر سنیشته راته وویل:

ناروغ یم.

رنگ مې والوت، ووېرېدم، ومې ویل:

څه وايې، ناروغ نه يې، له څېرې خو رک روغ ښکارې.

د بدن په تودوخه ښودونکي مې يې تبه وکتله، ۳۹ درجې وه. يوه پياله سړې اوبه مې راوړې، پراستامول مې ورکړ. لږ ځنډ نه و شوی چې شک مې په يقين بدل شو. زموږ ډاکټر په کرونا ناروغۍ اخته شوی و. موږ دواړو ډاکټرانو اړينې چارې پلان کړې. ډاکټر سنيشته ځان قرنطين کړ. په يوه کوټه کې مې چې ښه هوا يې لرله بستره ورته تياره کړه. د سابو له ترکيب څخه جوړ شوي پياوړي خواړه او څښاک مې ورکول. اړين دارو مې ورته برابر کړل. څومره هڅه مې چې کوله مثبته پايله نه ترلاسه کېده. له تبې به لړزېده، درد يې نه کمېده. کورنۍ مو ډېره اندېښمنه وه. ژر مو ونه شو کړای خپل مور او پلار خبر کړو. هغوی له موږ ډېر ليرې ژوند کوي. د ماشومانو ساتنه راته ډېره ستونزمنه وه.

ګاونډيانو له موږ کرکه کوله. موږ ته به يې په بده سترګه کتل. موږ به تل له دوی سره لاس په سينه چلند کاوه. موږ دواړو د خپلو ډېريو ګاونډيانو درملنه کړې وه او ژوند مو يې ژغورلی و. سره له دې چې وضعيت مې په صبر او زغم سره کنټرول کاوه، خو بيا هم دوی له موږ کرکه کوله. دوی به هر ځای ويل:

"دوی کرونا نيولي دي، له دې ځای دې کډه شي، له دې ځای دې ورک شي، بدمرغه دي، که خپله لاړ نه شي پوليسو ته يې شکايت کوو".

ګواښونه يې له حد وتلي وو. د ډاکټر ناروغي هم ډېرېده. په بدن کې يې شومه پاتې نه وه. د ګاونډيو له تمې ليرې چلندونه، که دوی پوهېدل يا نه پوهېدل زموږ پر ټپونو مالګه پاشل وو. د ډاکټر سنيشته زړه مات شوی و. د ګاونډيو له ګواښه ډکې خبرې:

"که هغوی له دې ځايه کډه ونه کړي نو کالي او بسترې يې ور غورځوو".

موږ يې ډېر اندېښمن کړي وو. فکر مو کاوه له اسمان د لعنت باران را باندې ورېږي.

بهرنيو مرسته کوونکو سازمانونو مرستې پيل کړې. لازمي تدابير يې ونيول.

خواړه یې ورسول. درمل یې برابر کړل.

تر دې چې زموږ کور ته یې هم د اکسیجن بالون او نور تجهیزات راوړل او روحیه یې را کړه. ډاکټر تیمور سنیشته د خبرو کولو ځواک نه درلود. له نفس تنګي ځورېده. خپله مې د هغوی پوښتنو ته په انګلیسي ژبه ځواب ورکاوه. د بدن د تودوخې درجه یې ښکته او پورته کېده. ۴۰ درجې تبې یې وجود مړاوی کړی و. هېڅ نه پوهېږم چې هغه ویروس له کوم ځای واخیست؟ پرله پسې مې درمل ورکړل. تودوخه یې دوه درجې ښکته شوه. یو څه په هوښ راغی ورو یې وویل:

"اولکر! څه مې چې په ذهن کې دي نه یې شم ویلای. په ژوند کې به تر ټولو سخت درد د کرونا درد وي. فکر کوم ټول وجود مې د کوفتې له ماشین ایستل شوی دی. ډېر سخت درد تېروم".

د خبرو اورېدل یې ډېر راته سخت وو.

مرستندوی تدابیر مې برابرول. له نیمې کاسې اش سره کوټې ته ورننوتم. سترګې یې له اوښکو ډکې وې. په سترګو کې یې درد ښکارېده. له مینې ډکې سترګې یې فکر کېده د سر کاسې ته تللې وې. په داسې حال کې چې د سترګو ګاټې یې له اوښکو ډک وو، په ټیټ او له پرېشانۍ ډک غږ یې وویل:

"څه فکر کوې، زه له دې نړۍ ځم؟ زه مې خپلې ټولې لویې هیلې ګور ته وړم؟ "

ډاډ مې ورکړ ومې ویل:

"اولادونه دې د لیدو تږي دي. ډېر ژر به د ګل په څېر روغ شې. له خپلوانو او دوستانو سره مو یو ځای خوږې شېبې په تمه دي".

د لوښو مینځلو له پاره پخلنځي ته لاړم. ځمکې او اسمان ځای نه راکاوه. کوټې ته مې لاړم، ومې ژړل. هېڅ کار مې نه شوای کوی، پرېشانه شوې وم. دا وضعیت مې زغمی نه شوای، له کور ووتم. بهر مې په ازاده هوا کې قدم وواهه

او بېرته راغلم. بيا مې هم په خپله کوټه کې يوازې وژړل. د کور ټولو وسايلو په بې خبرو ژبه د يوه راتلونکي خپګان خبر را کاوه. په کور کې مې زړه تنګ شوی و. ته به وايې د کور له دروازو او دېوالونو غم را ورېږي. مرګ له دروازې او کړکيو پټ پټ راکتل، لکه ژوند چې د بېلتون سندرې وايي. د دې له پاره چې ډاکټر سنيشته ډېر ناهيلی نه شي، درد او خپګان مې يوازې خپله زغمه. د هغه ژوند زما په وجود کې دی. ناهيلۍ سخت زور راباندې کړی. غبږ مې له خپل ځان پرته بل چا نه اورېده، بله لاره مې نه لرله. اسمان لوړ او ځمکه سخته وه. تر ټولو ډېره مې يوازيتوب ځورولم.

خوب مې ورک دی. په خپګان کې پټه يم. خوړو ته مې زړه نه کېږي. د ماشومانو شور او ځوږ ډېره نارامه کړې يم. د ډېرې ستړيا له کبله، مې سترګې په خوب پټې شوې وې. عجيب او غريب خوبونه وينم. له بالښت او بړستنې سره په شخړه يم. هر څومره چيغې چې وهم د اولادونو پلار يې نه اوري. د يو چا تور لاسونه مې د لاس سرخي ورسره وړي. وېرېدلې را کښېناستم، خو هېڅوک مې هم تر څنګ نه وو. د توبې په ډول مې خپل ګرېوان راونيوه. ليدلي خوبونه مې را په ياد کړل. له خوېندو او همزولو سره مې د ترور-ترور لوبه کوله. له خپلې ګرانې نانځکې سره مې په لوبو بوخته وم. د ماشومتوب زمانې ته تللې يم. په خوب کې مې چيغې وهم:

"زما نانځکه څه شوه، زما نانځکه چا يوړه؟"

يوه اونۍ کېږي مېړه مې په روغتون کې بستر دی. لومړی په کور کې ماشومانو ته خواړه ورکوم بيا روغتون ته ځم. هڅه کوم ډاکټر سنيشته په روغتون کې د يوازيتوب احساس ونه کړي. په وروستيو ورځو کې يې سمه ساه نشوای اخيستی و. ساه يې د ماشين په واسطه اخيسته. نن کور ته يو څه وختي راغلم. کور ته را نژدې شوم. ماشومانو چې له ليرې وليدم په کړکۍ کې ولاړ وو ژړل يې. کور ته چې ننوتم د کور د هوا د بدلېدو له پاره مې دروازې او

کرکۍ پرانیستې. اولادونه مې غلي کړل. خواږه مې ورکړل. هغوی د خپل پلار لیدو ته ډېر لېواله وو. ورته ومې ویل:

"سبا یا بل سبا مو له خیره سره پلار راځي".

په همدې سره مې قناعت ورکړ. شپې او ورځې همداسې تېرېدې.

نه پوهېږم څه ډول ویده شوې وم، را ویښه شوم. رڼا له بهر څخه د کوټې منځ ته راځي. له ځایه په سختۍ را پورته شوم، د ډاکټر سنیشته بسترې ته مې وکتل تشه وه. د کړکۍ له څنډې چې لږ رڼا د ننه راتله د ډاکټر سنیشته په انځور لګېده، او انځور د ښیښې د ننه روښانه او ځلانده ښکارېده. انځور مې یې په لاس کې ونیو. په ځیر مې ورته وکتل. خپلې سینې ته مې جوخت کړ او ومې ژړل. انځور یې لوند و. زما ترخې اوښکې د هغه له ورینې څېرې سره یو ځای شوې وې.

د لمر وړانګو د تل په څېر رڼا پاشله. خلک چې پوهېدل وضعیت ترینګلی دی، له ناچارۍ یې کور پرېښوده او د ښارونو په لور تلل. په کوڅه کې د چرګو د هګۍ پلورونکي ماشوم غږ اورېدل کېده:

"واخلئ، واخلئ، د چرګانو هګۍ دي وایې خلئ، لږ پاتې دي".

مور د سهارنۍ خوړو ته چمتو کېدو. اولادونو د پلار په نشتوالي کې سمه ډوډۍ نه خوړه.

ناڅاپه مې زوی په بیړه مبایل راته راووړ او ویې ویل:

"مورې، مورې! له روغتون څخه یو څوک غواړي له تاسې سره وغږېږي".

په اندېښنې سره مې مبایل ترې واخیست او سلام مې ورکړ. د روغتون رییس و. په ټیټ او پرېشانه غږ یې وویل:

"د تقدیر خبره ده، روغتون ته د راتګ زیار مه باسئ، بله لاره نلرو اولادونو ته مو پاملرنه وکړئ. مور ډاکټر له لاسه ورکړ. تاسې ته د زړه صبر غواړم".

د دې خبرو په اورېدو سره نوره زه هم ژوندۍ نه وم. په حقیقت کې هغه نه

بلکې زه په تابوت کې وم. زړه مې ډېر را ډک شو، چیغې مې کړې:
"اخخخخخخ، غمه! له بخت مې بېله شوم. نیمایي وجود مې له لاسه ورکړ".



يوازې همدا په ياد لرم. نوره په هوښ کې نه وم.

تقريباً يو کال تېر شوی و. زه هماغه اولکر سنيشته يم. يوه لور او دوه زامن مې ترڅنګ ولاړ دي. يو دوه ساعته وروسته لمر افق ته رسېږي. اړ يو ژر تر



ژره کور ته را وګرځو. همدا شېبه د ډاکټر سنیشته د ابدي کور تر څنګ یو. درې اولادونه مې یې د پلار ابدي کور ته راوستلي دي. موږ څلورو د ډاکټر له ابدي کور غېږه چاپېر کړې او ژاړو. اولادونو مې د "پلار، پلار" په ویلو سره په سلګیو سلګیو ژړل، خو هېڅوک یې غږ نه اوري. زموږ له غریب سنیشته هیڅ نښه پاتې نه ده. د قبر په سر یې د شګو پر ځای خپل غمونه او دردونه شیندم.

دا کیسه مې تاسې ته د ډاکټر سنیشته د قبر تر څنګ په اوښلنو سترګو بیان کړه. هیله لرم هغه درد او غم چې موږ تېر کړی، تاسې ورڅخه په امان شئ.

ستاسې خدمتګاره، نامراده اولکر ډاکټر تیمور سنیشته



# کرونا پوله نه پېژني[1]

ایلمراد د یوه لیرې ولایت، د "اوزبیکانو" په کلي کې ژوند کاوه. نوموړی د درېو اولادونو پلار دی. د ژوند کچه یې په منځني اقتصاد ولاړه ده. هغه څو غواوې او پسونه او درې څلور جرېبه کرنیزه ځمکه لري. زیارکښ انسان دی. د بېوالۍ ښه وړتیا لري. د خپلې کورنۍ اړتیاوې په کار او زیار سره پوره کوي. پخوا به له ښوونځي تښتېده. د زده کړو کچه یې دومره لوړه نه ده. لوستی شي خو په لیکلو کې ستونزه لري. په جغرافیه کې کافي معلومات لري. د دولتونو نومونه، نفوس او د هغوی موقعیت پېژني. د مملکتونو د سیندونو، غرونو، کښت او کانونو په هکله پوښتنو ته سم ځوابونه ویلای شي.

د اوزبېکانو کلی برېښنا او تلویزیون نه لري. ایلمراد یوه پخوانۍ راډیو لري چې له پلار په میراث ورته پاتې ده. خبرونه له راډیو اوري. هغه د خبرونو خزانه دی. خلک هغه ته له ټوکو "بي بي سي" وایي. ایلمراد یو باغیرته او باعزته سړی دی. چپنه اغوندي، خپله ملا تل په پړي یا هم د شفتالو گل په دستمال تړي. په وړکتوب کې یې پوزه خوږ شوې، له همدې کبله یې غږ یو څه نیولی

---

۱- لیکوال: ایشانچتوره

دی. گردی مخ او نښتې وروځې لري. پر سر د تومارچه گل خولۍ يو څه کږه
ږدي. زيږ غږ لري. خبرې يې نرمې او په زړه پورې دي.

ايلمراد کليوالو ته د يو ډول ناخوښې او ناپېژندل شوې ناروغۍ په اړه چې
نړۍ ته يې ټکان ورکړی، خبر ورکړ. عام خلک چې د دې ناروغۍ په اړه دومره
نه پوهېدل په کيسه کې يې نه وو او بې پروا ښکارېدل، هره ورځ به يې د پخوا په
څېر خپل عادي ژوند کاوه. پهلوان ايلمراد (د هغه دويم لقب) به له خپل غوږ
څخه راډيو نه ليرې کوله. خبرونه به يې پرله پسې اورېدل او له نورو خلکو سره
به يې شريکول. تقريبا دوه مياشتې کېږي چې د ليرو کليو خلک هم د کرونا
ناروغۍ له خپرېدو خبر دي. ايلمراد د نورو په څېر د دې ناروغۍ پر وړاندې
بې پروا دی. هغه وايي:

"له بهر څخه به څوک زموږ پيري ځپلي کلي ته راځي، د خدای شکر دی
له کرونا بې غمه يو".

د خلکو تر منځ به د کرونا په هکله عجيبې او غريبې خبرې خپرېدې. خو
ايلمراد له چا سره کار نه درلود، د خپل ژوند په چارو بوخت و او د خلکو بې
منطقه خبرو اورېدو ته يې وخت نه درلود.

له کوڅې څخه يې د جارچي لوړ غږ واورېد چې کليوال يې جنازې ته
خبرول. ايلمراد وويل:

"خدايه خير، بيا څوک مړه شوي".

جارچي ته يې سم غوږ ونيوه او بيا يې له ځان سره وويل:

"وووای، خدای ببښلی څومره ښه سړی و، انسان يوه ورځ نړۍ ته راځي
او بله ورځ بېرته ترې ځي".

هغه خپل لاسونه يې د دعا په دود پورته کړل.

ايلمراد اودس وکړ، پاک کالي يې واغوستل او بل کلي ته د جنازې لمانځه
ته لاړ. مړی چې د جنازې لمانځه د اداء کولو ځای ته لېږدول کېده، ايلمراد
هم ور ورسېد. د ثواب له پاره يې د تابوت يو اړخ ونيو او پر اوږه يې کړ. څو

دقیقې وروسته یې تابوت پر ځمکه کېښود، ټول د جنازې لمانځه اداء کولو ته چمتو او د ملا امام شاته کتار ودرېدل. څه له پاسه دوه سوه تنه د جنازې لمانځه ته را ټول شوي وو، درې کتاره جوړ شول. ایلمراد تازه د جنازې نیت لوست، د منځني عمر سړی چې تر څنګ یې ولاړ و، درې- څلور ځلې پرله پسې وپرنجېد. ایلمراد ټکان وخوړ، امام په غوسې سره شاته وکتل، سر یې وښوراوه او څه یې ونه ویل. جنازه وشوه. ایلمراد د قبر لور ته نه لاړ. ژر کور ته روان شو.

هوا سړه وه. لومړی باران او وروسته واوره و اورېده. د مرغیو د "چن، چن" غږونه چې پر ونو ناستې وې اورېدل کېدل، څو شېبې وروسته ټول ځایونه په واورو سپین شوي وو. ایلمراد د څارویو له پاره د بېدې او وښو په تیارولو بوخت شو. تېر کال یې کافي واښه او بېده نه وو تیار کړي، نو ځکه یې یو څه څاروي مړه شوي وو.

خلک د ماښام د لمانځه له پاره جومات ته تلل. ایلمراد له نورو خلکو مخکې جومات ته رسېدلی و او د جومات له ملا امام سره یې د کرونا په هکله خبرې کولې، که چا له لیرې لیدلي وای فکر به یې کاوه چې دوی د کومې مسالې پر سر شخړه لري. د جومات امام خپله امسا د جومات پر دېوال تکیه کړه. په داسې حال کې چې د لاس تسبیح یې په ګوتو یوه یوه اړوله، په لوړ غږ یې وویل:

«ایلمراده! په تا څه شوي؟ بدبخته، لکه چې عقل دې له لاسه ورکړی دی؟ ولې په خپل سر خبرې کوې، لېونی شوی خو به نه یې»؟

«ملا ارام اوسه، ما هغه خبرې چې له راډیو مې له ډاکټرانو او پوهانو اورېدلي وې، تاسې ته وکړې، دا نو څه بدي لري»؟

«دا خبرې دې پرېږده! خدای چې درد ورکوي، درمل هم ورکوي، خپل امانت خپله اخلي. نورې دا پوچې او بې معنی خبرې ونه کړې»!

«ملا صاحب دا خبرې تازه او پوچې نه دي! کلونه کېږي چې ټول یې

وايي، کله چې څوک ناروغ شوي په يوه منډه ډاکټر ته ورځي. اوس خو خلک دم او دعا ته کم ځي. تاسې هم چې يو ځل ناروغه شوي وئ، ډاکټر ته تللي وئ».

«ايلمراده! له خدای ووېرېږه، خبره بله خوا مه وړه. زه ډاکټر ته د شرعي امر له پاره تللی وم. د امر بالمعروف له پاره تللی وم. خپله يې زه د خيرات له پاره غوښتی وم».

«ملا صاحب! زه په ډاکټر، دارو او درمل باور لرم، تاسې خپله په دې خبرو ښه پوهېږئ».

ملا څو ځلې "استغفرالله، استغفرالله" وويل او په غوسه يې ايلمراد ته وکتل او ويې ويل:

«وه سړيه! ته په داسې خبرو د ايمان ملا ماتوې، د خدای په قهر به اخته شې، کرونا مورونا نشته، دا د کفارو چل او فرېب دی. پوه شوې که نه»؟

«ملا صاحب، زه ډېر وخت کېږي چې په خرافاتو باور نه لرم».

«ته په داسې خبرو سره د نورو مؤمنانو مسلمانانو ايمان کمزوری کوې، زما خبرې ښې په پام سره واوره. دا کرونا مسلمانان نه نيسي. څوک چې پنځه وخته لمونځ کوي، اووه زره ملايکې خپل وزر پرې غوړوي، پوه شوې؟ کرونا مسلمانان نه، بلکې کافران نيسي، شک مه کوه، زما په خبرو باور ولره»!

کليوالو په جماعت سره د ماښام لمونځ اداء کړ. ملا امام مخکې له دې چې اوږده دعا وکړي، په جومات کې يې خلکو ته مخ واړاوه او ويې ويل:

«او ملته! تاسې ته وايم، دا ماسک دی او که پاسک دی، مه يې اغوندئ. دا شيطاني کارونه دي. دا نو اوس کومه خبره شوه چې په پوزه کڅوړه ور اغوندئ؟ استغفرالله وواياست، ياربه! څنګه بد معلومېږي. دا کار په ځينو روايتونو کې مکروه بلل شوی. تاسې دا کارونه مه کوئ».

يوه ورځ اوازه خپره شوه چې د جومات ملا امام په کرونا اخته شوی دی. د ايلمراد پهلوان وجود او په ځانګړې توګه ستوني درد کاوه. پرله پسې ټوخي

يې وضعيت ور خراب کړی و. سره له دې هم ايلمراد د سهار د لمانځه له پاره جومات ته لاړ. ويې ليدل مسجد کې هېڅوک هم نشته. ملا امام هم جومات ته نه دی راغلی. خپله يې لمونځ وکړ او بېرته کور ته راغی. چاته يې څه ونه ويل او ځان يې قرنطين کړ. په داسې حال کې چې يو مخ تږخېده، خپلې مېرمنې ته يې وويل، يو څه زکام شوی ژر به بېرته روغ شي.

ايلمراد لږ او ډېر پنځه لس ورځې قرنطين و. بله چاره يې نه درلوده. پياز به يې په اور کېښود او بخار به يې تنفس کاوه. کله کله به يې پياز هم وخوړ. د تودو پيازو په خوړلو عادت شوی و، يوه ورځ يې پياز خوړلی و، فکر يې کاوه ټول کور د پيازو بوی نيولی دی، نو د تازه هوا له پاره يې د کور کړکۍ خلاصې کړې. تاوده او اوبلن خواړه به يې له نيمکښې دروازې اخيستل او چاته به يې کوټې ته د ننه کېدو اجازه نه ورکوله. هره ورځ به يې نوي او تازه خبرونه اورېدل. د کرونا خبرونه به يې څارل. هغه باوري شوی و چې پر کرونا د غلبې له پاره تر ټولو مهم دا چې لوړه روحيه او پياوړې هوډ ولرې. لمونځ به يې نه قضا کاوه. اودس به يې کاوه، لاسونه او پښې به يې په صابون مينځل او قران کريم به يې تلاوت کاوه. خدای ته يې ځان سپارلی و او د رغېدو غوښتنه يې له الله تعالی کوله. د جومات د ملا په خبرو پسې ونه گرځېد. لاسونه به يې په سنيټايزر الکولو لړل.



ایلمراد دوه اونۍ وروسته روغ شو. ګاونډیانو او نورو ته به یې معلومات ورکول چې دی څه ډول له کرونا روغ شو. نوموړي به ویل:

"د ژوندي پاتې کېدو له پاره به مې ځینې وخت د کوکنارو له شیرې هم لږ لږ ګټه اخیسته، تودو پیازو ډېره ګټه راته وکړه. پیاز د کرونا پر وړاندې یو پیاوړی خنډ و، په رښتیا چې زه همدې پیازو له کرونا خلاص کړم. پیاز به مې چې خوړل له سترګو مې اوښکې راتلې. سینه مې یې نرموله. هره ورځ به مې یو لوی پیاز دوه ټوټې کاوه او په تاقچه کې به مې ایښود. فکر کوم همدې پیازو د ویروس په له منځه وړلو کې ډېره مرسته راسره وکړه."

ایلمراد روغ شو. د کورنۍ غړو یې د قرنطین پر مهال د ده څاروي ساتل. هغه به راډیو هم اورېده. له دې پېښې وروسته ایلمراد په کلي کې ډېر باوري شو. هغه نور د خپل قوم د لاربنود او متنفذ په توګه منل شوی و. ټولو به مشوره ترې اخیسته. نوموړي د کلیوالو د ټولنیز مشر مسؤلیت پر غاړه واخیست.

د جومات د ملا د مړینې خبر په کلي کې خپور شو. ټولو وویل:

"ملا له کرونا مړ شوی دی".

د هغه د تدفین او جنازې مسؤلیت د ایلمراد په غاړه و. باید یو څوک د ملا پر ځای مخکې شوی وای. په اوزبېک کلي یوازې یو کس په کرونا مړ شوی و، نور لس تنه روغ شوي وو. ایلمراد وویل:

"پروردګار زموږ پر اولادونو رحم وکړ. ژوند په هر حال ادامه لري، خدایه شکر، دا دي د کرونا واکسین هم جوړ شول، خدای دې مړي وبښي، هغوی چې ژوندي پاتې دي، خدای ج دې خوشاله ژوند ورکړي".

هغه څو څو ځلې شکر پر ځای کړ او د کرونا د واکسین پلي کېدو ته په تمه و. اوس ایلمراد د خپل کښت د محصولاتو لکه د مرجان په څېر سرو انارو، زېړو بهیو، طایفي انګورو، خټکیو، هندوانو، ممیزو او د باغ د نورو محصولاتو د پلورلو په فکر کې دی. کافي ده چې د بازار قرنطین پای ته ورسېږي، نوموړی به هم بډایه شي.



# د ژوند درس[1]

د پیرودونکو ګڼه ګوڼه لږ کمه شوې وه، طبیب خپلې ښځې چې سړې هوا کرختې کړې وې، منقل ته تودې کړې او له خپل زوی ابراهیم یې وغوښتل منقل تر صندلۍ لاندې کېږدي او د دوکان په کنج کې چې لویه بړستن ده پرې اواره کړي.

صندلۍ برابره شوه. ابراهیم د صندلۍ یوه څنګ ته یوه توشکه چې د دوکان په د دروازې په خوله کې ایښې وه اواره کړه او دوې تکیې یې د دېوال ډډې ته کېښودې.

«مهرباني وکړئ پلار جانه! صندلۍ برابره شوه».

طبیب په داسې حال کې چې د پلورنځي مخې ته یې د وچو بوټو او ګلانو ډولونه لکه دارچین، زنجبیل، توره دانه، زیره او نور چې د دوکان په طاقچو کې یې په یوه ځانګړي ترتیب سره ایښي وو کتل:

«خیر یوسې زویه».

هغه د تکیو په لور لاړ او کښېناست. پښې یې په صندلۍ کې وغزولې او په بړستن کې پټ شو. څو شېبې وروسته په ارامه ویده شو.

---

۱- لیکوال: محمد عالم کوهکن

څه وخت لا نه و تېر شوی، زوی يې د صندلۍ له بلې خوا، غږ وکړ:
«پلاره! پلاره! وينې شه چې درمل غواړي».
«امممممم، څوک دي زويه! څوک راغلي»؟
سترګې يې د ښوونځي د دورې په ملګري توردی قل ولګېدې چې نصواري رنګ چپنه يې اغوستې وه او د پلورنځي د دروازې په خوله کې په موسکا ولاړ و او د طبيب پر لور يې په مسکا او ځير کتل.
«سترې مشې ګرانه، راځه هوا سړه ده، په صندلۍ کې ځان تود کړه. خيريت خو دی، کوم باد دې لوري ته راوستې؟ ډېر وخت وشو بيخي ورک يې».
«يو څه کار مې درلود، په همدې پلمه مې وغوښتل تاسې هم ووينم»!
«په خير راغلې وروره! د ليدو په تمه مو وم».
طبيب يې خپل زوی ابراهيم ته وکتل او ويې ويل:
«ابراهيمه زويه، له ترموز چای واچوه، يو څه د قيصار تور مميز او د ګرزيوان مټک (چهارمغز) هم را واخله. څنګه کيسه ده چې ګران ملګری مې ليدو ته څو مياشتې وروسته راغلی».
«توردي قل ملګريه کيسې وکړه څه خبرې دي»؟
څو پورې چې توردي قل څه ويل، د پلورنځي په دروازه کې يو دنګ ځوان ودرېد، غوښتل يې څه ووايي.
«په خير راغلې وروره، وايه خدمت کې مو يم».
«ډاکټر کاکا! څو ورځې مخکې له ايران راغلی يم، تبه لرم. سر مې ډېر درد کوي. ټول ځان مې داسې خوږېږي لکه چا چې په اونګ کې ټکولی يم، اشتها خو هېڅ نه لرم. لږ لږ زړه بدي هم لرم. ورځ په ورځ مې حالت خرابېږي. ډېر بې ځواکه يم. ګاونډيانو مې تاسې ته راولېږم. ستاسې پلورنځی مې په سختۍ وموند. يو څه درمل راکړئ، وضعيت مې بيخي خراب شوی دی».
«په ايران کې دې څومره وخت تېر کړ»؟
«کم او زيات درې کاله مې ايران کې مزدوري وکړه».

«بېرته ولې راغلې»؟

«ډاکټر کاکا، هره ورځ به چوک ته تلم، يوه ورځ به کار پيدا شو، دوه- درې ورځې به بېکاره پاتې وم. په همدې هم راضي وم. د ايران پوليسو کډوال نيول او له هېواد يې بهر اړول. ايران ته له چين څخه د کرونا په نوم ناروغي راغلې. دې ناروغۍ ډېرى ايرانيان ووژل. زه هم پوليسو ونيوم او را وايې ړولم.

«وروره، وايي کرونا له ايران څخه کډوالو راوړې ده. ډېرى يې حکومت په روغتونونو کې قرنطين کړي دي. درد او درمل دواړه خداى ج ورکوي. توکل په خداى، کرونا ته مې يو ډول درمل جوړ کړي، هغه به درکړم، ورسره ښه کېږې. لاړ شه ماسک واخله او لاسونه دې ژر ژر په صابون مينځه. د اش او اوماچ په څېر اوبلن او تاوده خواړه خوره. که کرونا هم يې، پخير سره به روغ رمټ شې».

«طبيب عبدالرازق يوه کوچنۍ پلاستيکې کڅوړه د بوټو له هغو درملو چې د پلورنځي په طاقچه کې په ډبيو کې اېښي وو ډکه کړه او ناروغ ځوان ته يې ورکړه. ملگرى يې چې په صندلۍ کې ناست و او چاى يې څښه، طبيب ته يې وکتل او ويې ويل:

«زه هم ستونزه لرم. اوښى مې يې له ايران را اړولى. اوس په کور کې ناروغ پروت دى. رښتيا ووايم روغتون ته يې نه شو وړى، وېرېږو. وايي دا ناروغي درمل نه لري. که روغتون ته لاړ شي او که لاړ نه شي مړ کېږي. اوښي ته به مې هم له همدې درملو ورکړم».

«څو ورځې کېږي خلک همدا درمل اخلي. ډېرى يې روغ شوي دي. څښتن تعالى يو سبب ورته پيداکوي. ما به دا درمل د ټوخي او سينه بغل له پاره ورکول. دا درمل مې له تورې دانې، د خيرو سپين گل او زنجبيل له ترکيب برابر کړي دي. کرونا هم يو ډول سينه بغل او زکام دى. دا يوسه ورېې کړه، په خير سره به د گل غوندې روغ شي. څو چې روغ شوى نه وي له کور دې نه راوځي. ډوډۍ او چاى له دروازې ورکوئ».

توري قل چای وڅښه او یوځه تور ممیز یې جېب ته واچول، طبیب ته یې مخ واړاوه او ویې ویل:

«ښه، که ستاسې اجازه وي لاړ به شم. ورځ ناوخته شوې ده. ته هم ځان سره پام کوه. دا ډېره ناوړه ناروغي ده. ډاکټر ماکټر نه پېژني. خدای دې په خپل امن کې وساته. وایي چې ډېری ډاکټران یې هم نیولي دي».

«توري قل وروره، خدای مو دې وساتي. دا ناروغي مو خپلې خوښې ته نه پرېږدي. څو ورځې سخت قرنطین شو. حکومت مو پلورنځی بند کړی و. خلکو زه په کور کې هم پرې نه ښودم. نیمه شپه به په درملو پسې راتلل. که رښتیا پوښتې، زه هم وېرېږم. وایي (بې اځله مرګ نشته). په خیر لاړ شې. بیا خبر راکړه».

«د خدای په امان عبدالرزاق وروره».

«خپل کور ته پخیر لاړ شې، له اولادونو سره دې پام کوه»!

عبدالرزاق تقریباً یو ساعت نور هم په پلورنځي کې و. په څو تنو یې د کرونا درمل وپلورل. جېب یې د پنځه سوه، سل او پنځوس افغانیو په نوټونو ډک شوی و. په څو وروستیو ورځو کې یې عاید ښه شوی دی. لمر په ډوبېدو و. پلورونکو د پلورنځیو دروازې تړلې او د کور په لوري روانېدل. پلار او زوی هم د یوې ورځې پیسې جېب ته کړې، پلورنځی یې وتاړه او د کور په لور روان شول. د هرې ورځې په تېرېدو سره به یوناني طبیب ته د خلکو راتګ ډېرېده. د شپې به یې کور کې درمل جوړول او په سبا به یې پلورنځي ته راوړل. هغه به اړ و په کرونا ویروس ککړو ناروغانو سره ووینې. هغوی ته درمل ورکوي. درمل به یې په لوړه بیه پلورل. هغه په کور کې ځان قرنطین کوی نشي. پیسې ګټل هم یو بېل خوند لري.

پلار او زوی یو پر بل پسې کور ته ننوتل. په انګړ کې د طبیب مېرمن په یوه لاس کې له کوزې او په بل لاس کې له لاس پاک سره ولاړه وه چې د هغوی لاسونه پرېمینځي.

ـ په خير راغلئ، لومړی مو مخ او لاسونه په صابون او اوبو ووينځئ. کرونا او که شرونا ده، ډېره ناوړه ناروغي ده. درمل نه لري، دا به څنګه کېږي؟ هره ورځ خلک وژني، همدې ناروغۍ نن زموږ ګاونډی رسول بای هم وواژه. تاسې هم هره ورځ پلورنځي ته ځئ وېرېږم، څو ورځې په کور کې پاتې شئ، له لوږې څوک مړه شوي؟

هغې، د ابراهيم او د هغه د پلار لاسونه پرېمنځل، ورته ويې ويل سترخان ته د ډوډۍ له پاره کښېني زياته يې کړه:

«يوه مياشت دوکان ته مه ځئ»؟

«ته هم رښتيا وايې ښځې! په پرمختللو هېوادونو کې دولت په مياشتو مياشتو قرنطين اعلانوي. خلک په خپل کور کې پاتې کېږي. دولت يې د ډوډۍ او نورو اړتياوو لګښت ورکوي. زموږ دولت کله دا کار کوي، دولت مو خپله د بهرنيانو په مرسته چلېږي. دولت زموږ د يوې مياشتې لګښت هم راکوی نه شي. بې کاره هم نه کېږي. احتياج کېږو. ځان به تقدير ته وسپارو. هم به کار کوو او هم به پام کوو. کرونا خو له يوې مخې ټول هم نه وژني. ډېری يې ښه کېږي. ما يې درمل جوړ کړي. ډېريو کسانو چې له ما درمل وړي ښه شوي دي. توکل په خدای وکړه ښځې»!

د عبدالرزاق مېرمنې چلمچي او کوزه يوې خواته کېښودل او ويې ويل:

«زه هم وايم اولادونه دې لا تر اوسه واړه دي. ودونه يې نه دي کړي. خدای مه کړه پر تاسې څه ونه شي. وايي چې زموږ بل ګاونډی اېګمبيري د کرونا له کبله مړ شوی، پنځه، شپږ واړه او لوی اولادونه يې يتيم او مېرمن يې کونډه شوې ده».

«ښځې ډېره انديښنه مه کوه، (بې اځله مرګ نشته) دا وبا په ټولو راغلې، که حل لاره ولرم نو يوه ورځ هم له کوره نه وځم.

عبدالرزاق، ښځه او اولادونه يې پر سترخان راټول او د شپې ډوډۍ يې وخوړه. سترخان ټول شو او د ډوډۍ د پای دعا وويل شوه. طبيب مخ خپلې

ښځې ته واړاوه او ویې ویل:

«عجبه زمانه شوه، داسې ورځې مو په خوب هم نه وې لیدلې. دا وبا له ایران راغله. نن مې له یوه کس سره چې د درملو له پاره راغلی و خبرې وکړې. هغه دوه ورځې مخکې له ایران راغلی و. ویې ویل، یو کس خپلوان یې په ایران کې په کرونا مړ شوی دی. نه یې غوښتل مړی یې په پردي هېواد کې خښ کړل شي. مړی یې له ایران خپل کلي ته راووړ او په خپله هدیره کې یې خښ کړ. خدای دې خیر ورکړي. باغیرته هلکان وو. هغه بېچاره هم کرونا نیولی و، درمل مې ورکړل. خدای وکړي روغ شي. ځوان و، زړه مې پرې وسوځېد».

«له لیرې ځایونو هم تاسې ته د درمل اخیستو له پاره راځي»؟

«هوکې راځي، خلکو یې گټه لیدلې ده. له روغتون څخه هم ډاکټران د کرونا ناروغان ماته را لېږي. زما درمل یې کابل ته هم وړي دي. هم خرما او هم ثواب دی. خلک ورسره روغ شوي دي. زما کار هم ښه ورسره روان دی. تر اوسه مې شپږ سوه زره افغانۍ کار کړی».

همدا چې د شپې ډوډۍ وخوړل شوه د اولادونو سترگې یې یو پر بل پسې له خوب ډکې او مور یې د خوب ځای ته ولېږدول. مېرمنې یې مېړه ته تریخ شین چای دم کړ. ښځې او مېړه یو ساعت نور هم له یو بل سره خبرې وکړې. د شپې له لسو اوښتې وې. عبدالرزاق د کوټې په وروستۍ برخه کې په خپله بستره څملاست. ښځې یې د صندوق له سر بړستن را واخیسته او پرې اواره یې کړه. عبدالرزاق په فکر کې ډوب شو:

«شکر چې د پلار کسب مې له منځه نه و وړی. پایله مې یې ولیده. که کار مې همداسې ښه پر مخ لاړ شي، زوی ته به مې واده هم وکړم. نور چې څه نه لرو هم به یې واخلم. د خلکو روزگار ښه نه دی، د درملو بیه به هم ټیټه کړم. که بیا قرنطین شي او پلورنځي وتړل شي نو د خلکو کاروبار بیا خرابېږي. بیا کېدای شي خلک کور ته په پوښتنه راشي. درمل به له کوره پلورم».

پر همدې مهال د کور له برنډې یو غږ واورېدل شو، د طبیب حواس تیت

پرک شول.

«څه خبره ده ښځې»؟

«مه وېرېږه، څه نه دي. پښه مې په دې ګل مېخ کې بنده شوه، او د تورې دانې ډبلی مې له لاسه ولوېد. ویلي دې وو چې:

"د تورې دانې او شیرین بویه ډبلي له پسخانې را واخله او بهر یې کښېږده، سبا یې پلورنځي ته وړم".

«دومره خبره نه وه. سهار وختي دې هم دا کار کوی شوای».

طبیب ځان په بړستن کې پټ کړ او څو شېبې وروسته یې سترګې په خوارږه خوب پټې شوې.

«ښځه او مېړه د تل په څېر د چرګانو په اذان را پاڅېدل. اولادونه یې لا تر اوسه ویده وو.

طبیب غوښتل د اوداسه له پاره پورته شي، وجود یې کمزوری شو. له ځای پورته کېده خو سر یې پرې وڅرخېده. پر ځمکه بې حاله کښېناست او ښځې ته یې غږ کړ:

«وه ښځې، چېرې یې»؟

«بهر یم اوس راځم، خیریت دی»؟

«راشه، بې حاله یم. تبه لرم، سر را باندې ګرځي».

«خدای دې خیر کړي، د پسرلي د لومړیو ورځو سړه هوا ډېره بده وي. خامخا سړو وهلی یې، ښه کېږې. تېره ورځ هم باران اورېده، هوا سړه وه. یخ یې د ژمي د څیلې په څېر و».

مېرمنې یې سر په دسمال ور وتاړه، شاته یې څو تکیې کېښودې او ورته یې وویل:

«زه ژر چای دم کوم او هَی هَی[۱] تیاروم».

---

۱- ـ هی هی یا های های یو ډول خواړه دي چې ډېری د افغانستان په شمالي ولایتونو کې د غوړو او توتاتو یا د انګورو له شیرې تیارېږي.

لمر يوه نېزه را پورته شوی و. مېرمنې يې په بېړه سره طبيب ته په هغه چاينکه کې چې له پلاره ورته پاتې وه چای راوور او په پخوانۍ چيني کاسه کې چې مېرمنې د خپل پلار له کور راوړې وه، هی هی راوور. فکر يې کاوه کوم څه يې هېر کړي دي. عبدالرزاق يې مېرمنې ته وويل:

«ډوډۍ مې په داش کې ايښې وه، هېره مې شوه».

هغې څو شېبې وروسته له داش توده ډوډۍ کوټې ته راوړه او په سترخان يې کېښوده ويې ويل:

«که يخ وهلی يې، نو هی هی گټه درته رسوي، تود تود يې وخوره. په خير سره به روغ شې».

«ښځې، ولې پرېشانه او خپه يې؟ خدای پاک لوی دی».

«ښځې، احتياط کول اړين دي. وېرېږم چې کرونا نه وم نيولی. څو ورځې له ما ليرې اوسئ. که مې عمر پاتې وي، جوړ به شم».

«خوله دې په خير خلاصه کړه. هېڅ هم نه دي شوي، د گل په څېر به روغ شې».

«چاته مه وايه، دا څنگه بد درد دی، که څوک ترې مړ شي خلک يې جنازې ته هم نه راځي».

«د هغو خلکو جنازې ته تللی وم چې د کرونا له کبله مړه شوي وو. هېڅوک مړي ته نه نژدې کېدل. دوو تنو خپلوانو يې مخونه پټ کړل، دستکشې يې په لاس کړې او مړی يې په قبر کې کېښود. خدای دې خير پېښ کړي».

طبيب له چای وروستي غړپونه وکړل او په بستره اوږد وغزېد. مېرمنې يې اولادونو ته چې تازه له خوبه را پاڅېدلي وو، چای ورکړ او هغوی يې د پلار له وضعيت خبر کړل. ابراهيم يې د پلار د کوټې دروازې ته، ورغی او په وېرېدلي غږ سره يې وويل:

«څه کيسه ده پلار جانه؟ ډاکټر ته ځې»؟

«نه زويه، ډاکټر ته نه ورځم. روغتون ته چې لاړ شې که نه مړ کېږې هم مړ

يې. ډاکټرانو ويلي کرونا درمل نه لري. ډاکټران د کرونا ناروغان بېرته کورونو ته لېږي. هغوی څه نه شي کوی. هغه درمل راوړه چې خپله مې جوړ کړي. هم به يې خپله وخورم هم به يې په نورو پلورو. مه وېرېږه که د الله تعالی خوښه وه روغ به شم».

عبدالرزاق فکر کوي په کرونا ناروغۍ اخته شوی دی. تبه لري، سر درد يې ځوروي، خوراک يې زړه ته نه کېږي او نه پوهېږي په کرونا چېرته او څنګه اخته شوی.

«ماسک مې هم اغوست، لاسونه به مې هم په صابون مينځل. چاته مې لاس هم نه ورکاوه. چاته مې غېږ نه ورکوله او مچې مې هم نه اخيستې. دا افت به له کوم ځايه راته رسېدلی وي؟ کېدای شي د درمل پېرودونکو له پيسو راغلی وي».

په همدې شېبه يې سترګې په مېرمن ولګېدې چې په دروازې کې غلې ولاړه وه.

«خيريت دی؟ اولادونه ښه دي؟ ته ښه يې»؟

«شکر، موږ ښه يو. تاسې څنګه ياست، لړزه لرئ که نه»؟

«ای خدايه، لړزه مې کله پرېږدي».

ښځې يې د هغه لړزېدلی غږ په سختۍ واورېد او ويې ويل:

«ابراهيم مو درمل راوړل. ليمو يې هم راوړي دي، وايي چې ليمو، تاوده او اوبلن خواړه د کرونا له پاره ښه دي. د وجود معافيت لوړوي. ما هم د زنجبيل، شلغم، زېرې، زرچوبې او نسکو خوندور اش درته پوخ کړی. اوس يې درته راوړم. ځان ښه تود کړه چې خوله وکړې خامخا به روغ رمټ شې».

د طبيب خوړو ته زړه نه کېږي. د ښځې خبرې يې د اش خوړلو ته يو څه احساساتي کوي او په زور يو څه اش خوري. سر په بالښت ږدي. ناروغي يې دويمې اونۍ ته ځي. قوي خوړو، مېوو، سابو او استراحت ګټه ورته وکړه. ځان يې تر پخوا ښه احساساوه. هغه درمل چې خپله يې له بوټو جوړ کړي وو

په پرلپسې ډول خوړل.

”هرڅه چې کېږي، درد ته نه تسليمېږم. پياوړې روحيې زه تر اوسه ژوندی ساتلی يم“.

«ښځې، دا ستا اش ډېر ښه وه، ماته د اش او اوماچ په څېر تاوده او اوبلن خواړه تيار کړه. خپل درمل هم خورم. زه باور لرم، همدا گټه رسوي.

د طبيب په کور کې د نورو ورځو پر خلاف سکوت واکمن و. مېرمن او اولادونه يې ارام او پرېشان وو. د کور چاپېريال يې له وېرې او وهم ډک و. مور يې يوه اندازه پيسې چې د نږور د گڼو (زېورات) له پاره يې ساتلې وي، له صندوق را وويستې او ابراهيم ته يې وويل:

«لاړ شه زويه په دې پيسو له کلي يو پسه راوله. حلال او خيرات به يې کړو. خيرات بلا له منځه وړي پلار به دې ژر ښه شي».

د مازيگر خواته ابراهيم پسه راووست. سهار وختي يې حلال کړ او غوښې



يې پر ګاونډيانو ووېشلې. د مسجد ملا ته يې د پسه يو بشپړ ورون او پنځه سوه افغانۍ ولېږې چې د قران کريم ختم وکړي. د عبدالرزاق ناروغي درېيمې اونۍ ته وغزېده. بې حالي يې نوره هم په لوړېدو او پر بستره پروت و، د کوټې د چت لرګيو ته يې کتل. يو ځل يې خپل تېر پنځوس کلن عمر ور په ياد کړ او ويې ويل:

«په ټول عمر کې داسې بې حاله شوی نه وم. وايي کرونا هغه ناروغان له منځه وړي چې کومه بله ناروغي ولري. زه خو روغ مټ وم، ښه کېږم. يوازې همدا ساه را پاتې ده، په هغه هم شکر دی.

طبيب په چپ اړخ را واوښت. ګوري چې مېرمنې يې بيا هم تود اش، ليمو او څو ډوله مېوه ورته راوړې ده.

«سرېه! لږ راپورته شه. هر ډول چې کېږي دغه اش او مېوه وخوره. خدای دې قبول کړي يو پسه مو هم حلال او خيرات کړ. له مټو دې نيسم لږ راسم شه».

«ښه دې وکړل مېرمنې! د قسمت او تقدير خبره ده، بخت به مو همداسې و. په نفس باور نشته، ماته يو قلم او کاغذ راوړه.»

مېرمن يې په قلم او کاغذ پسې لاړه، طبيب اش د زړه په زور وخوړ. د ليمو اوبه يې هم په قاشوقه کې وڅښې، خپل درمل يې هم وخوړل. قلم او کاغذ يې واخيستل، په يوه ډډه څملاست او ليکل يې پيل کړل. يوه پاڼه يې ډکه کړه او کاغذ يې ورو تر خپل بالښت لاندې کېښود، خپلو اولادونو او مېرمنې ته يې وصيت وليکه.

طبيب ورو ورو د ښه والي احساس وکړ. اوس يې خوړو ته زړه کېده. مېرمنې ته يې غږ وکړ:

«هغه ستا اش او اوماچ مې زړه وهلی، يو چرګ حلال کړه او يوه ښه خوندوره شوروا ترې پخه کړه. پياز ډېر ورته ميده کړه، تور مرچ هم ورسره راوړه».

«په سترګو ژړ يې تياروم».

يو ساعت نه و تېر شوی چې د چرګ خوندوره شوروا تياره شوه. طبيب توده توده وڅښه. تود شو خولې يې وکړې او په بړستن کې يې ځان پټ کړ. کم او زيات دوه ساعته ويده و. له خوب څخه په ښه احساس راويښ شو، په پښو ودرېد. سر يې لږ لږ درد کاوه. په خپلو قدمونو له کور بهر شو. په برنډه يې خپل اولادونه وليدل. ژوند د تل په څېر ځپې وهلې. هر څوک په خپل کار بوخت وو. د اولادونو په سترګو کې يې د خوښۍ اوښکې ډنډ ولاړې وې. خپل خپلوان يې د پتنګانو په څېر پرې راټول وو. طبيب نيلي اسمان ته وکتل او له ځان سره يې وويل:

«خدايه! دا چې بيا دې عمر راکړ زر ځله شکر کوم، سلام لمره! سلام ژونده ستا له تودو ساه ګانو خوشاله يم. پر اولادونو چې راکړل شوی دي وياړ کوم. دا ماته يو لوی درس و. ژمنه کوم چې د نورو له پاره به تل ښه وم او ښه به ورسره کوم».

طبيب په يوې پلرنۍ مينې سره خپل اولادونه په غېږ کې ونيول او دوی ته يې په مينه ناکو کتلو سره وويل:

ستاسې سترګې مې د درد درمل شول، تاسې هر يوه زما په زړه کې د هيلو زړي وکرل.

هغه يې خپلوانو او دوستانو ته وويل:

ناشکري مه کوئ، خدای له تاسې سره مينه لرله چې زه يې روغ کړم او د مرګ له کومي بېرته راغلم.

طبيب عبدالرزاق لوی خيرات وکړ. بېرته يې خپل کار ته روان شو. پيرودونکو يې د پخوا په څېر تګ راتګ کاوه.



# روغه خندا[1]

په دې ورځو کې تازه په تازه د کرونا ناروغۍ په اړه خبرې کېږي. اوس هېڅوک هم د دې ناروغۍ په هکله سم نه پوهېږي. د همراه قل کورنۍ له خپل ژوند سره لاس او ګرېوان وه. ټوله کورنۍ یې نالوستې ده چې د کورنۍ کوم غړی یې ناروغ شي خپله یې درملنه کوي.

د ماشومانو مور ای بدل ترور په فال لیدونکي او کوډګر باور لري. هغه سره له دې چې زړه او بوډۍ مېرمن ده، که یې کوم وخت ښپښه په ډبره ولګېږي، د فال کتونکي دروازه ورټکوي او خپله هستي ترې ځاروي.

یوه اونۍ مخکې د نادرې غاښ درد کاوه. مور د دې له پاره چې د غاښ درد یې ارام شي، مټک (څهارمغز) مغز ورته سور او په غاښ کې یې ور کېښود. د څهارمغز تر بریده زیات تودوالي نادره په ژړا کړه. هغې د مور لاس له خپل سر څخه لیرې کړ او په لړزېدلي غږ یې وویل:

"دا څه کوې؟ خو ودې وژلم".

له خپلې مور سره یې ښه جنجال وکړ. په سبا یې هم غاښ درد کاوه. مور یې په بېړه کور ته راغله او نادرې ته یې وویل:

---

۱- لیکوال: محمد عالم کوهکن

«غاښ دې ځنگه شو؟ تللې وم په ونه کې مې مېخ ټک واهه او راغلم. هر وخت چې به ستا غاښ درد کاوه، ما به په ونه کې مېخ ټکواهه. درد به دې ورسره ورک شو.»

نادرې په تریو تندي مور ته وکتل او ویې ویل:

"دا ځیزونه گټه نه رسوي، په وچه ونه کې د مېخ ټک وهل د غاښ درد نه شي کموی. دا ټول خرافات دي خرافات. توبه، ناپوهي خو همدې ته وايي".

هغه د غاښ د درملنې له پاره کلينيک ته لاړه.

نادره ښوونکې ده. دوه مياشتې کېږي ښوونځی يې د کرونا ويروس د ناروغۍ د خپرېدو له کبله رخصت دی. هغه په کور کې پتنگ شوې ده. هره ورځ په ټلويزون د کرونا خبرونه ځاري. ځلور ورځې مخکې يې غاښ ايستلی و. اندېښمنه وه په کور کې زړه تنگې نه شي. څو اونۍ مخکې يې مطالعه پيل کړې وه. د عبدالله قادري اوتکن کونلر په نوم (تېرې ورځې) رمان يې لوستی و، اوس د پيريم قول قادروف رومان يولدوزلی تونلر (د ستورو شپه) چې له ملگرې يې امانت وړی لولي.

هغې خپلې مور ته وويل:

"مورجانې! ښه نه يم زکام يم، فکر کوم د شپې مې ساړه شوی".

مور يې چې د کور د توشکو پنبې ټکولې وويل:

"هره شپه پام درباندې کوم، برستن مې در باندې اچولې وه او شپه خو دومره سړه هم نه وه".

هغې د پنبې ټکولو لښته کېښوده او لاس يې د نادرې په تندي کېښود، د اسويلي په ايستلو سره يې وويل:

"تبه لرې، کوم کور گډې په نظر کړې يې، څوک زموږ دا حالت هم زغمی نه شي. وايي، لور يې ښوونکې شوې ده، هره مياشت دومره تنخوا اخلي، پر موږ يې دا حالت نه لورېږي".

هغې له بهر څخه په يوه لوښي کې اور راووړ او د لور مخې ته يې کېښود. بيا يې د سپېلنې دانې پرې واچولې چې د کوټې ټوله هوا يې له لوگي ډکه کړه.

نادرې يې د مور د دې کار مخالفت ونکړ ويې ويل:

"له سپېلنی مې له پخوا ښه راځي. وايي چې په سپېلني کې حکمت پروت دی. په کتابونو کې مې لوستي وو، سپېلنی د ويروس او ميکروب ضد دی. دا چې خلک ناروغه کېږي، ډېر لاملونه لري، له هغوی څخه يې يو لامل هم ويروس يا ميکروب دی." مور يې چې د لور خبرې په پاملرنې سره اورېدې، وويل:

"څه وکړم له بې وسۍ او ناتوانۍ يې کوم. ته چې ناروغه شې زړه مې خولې ته راځي".

ای بدل ترور ايرې، سپېلني او اور واخيست او له کوټې بهر شوه.

د نادرې ناروغي پسې زياته شوه. د تبې په ډېرېدو سره يې وضعيت ترينګلی کېده. فکر يې بې ځايه و. ستونی يې سوزېده، له بل لوري يې سخته سر دردي لرله.

نادرې په بې سکه حالت کې له خپل ځان سره ويل:

"اوفففف په داسې رنځ اخته شوم چې درملنه نه لري. فکر کوم کرونا ده، که کرونا شوې يم نو له چا به يې نيولې وم؟ اوفففف اوس به څه کوم. د غاښ درملنې کلينيک ته چې تللې وم له هغه ځايه به يې نيولې وم. نن خو ناوخته ده، سبا ته به روغتون ته لاړه شم، د کرونا ازمايښت به مې وکړم معلومه به شي".

نادرې دوه درې ځلې په مور پسې نارې کړې. مور يې ځواب ور نه کړ. ساه يې تنګېده. بيا يې له ځان سره وويل:

"خامخا کرونا نيولې يم".

مور يې له دروازې را وکتل ويې ويل:

"ماته دې غږ کاوه لورې؟ دغه دی راغلم. څنګه يې"؟

د مور لاس کې يې اورلګېت و هغه يې د پخواني صندوق په لاندينۍ برخه کې کېښود او لاس يې د لور په تندي ونيو. په تندي يې د مور لاس وسوزېده. ای بدل ترور سر وښوراوه او ويې ويل:

"وووووووی لوري بيخي تنور اوښتې يې. په خپل ژوند کې مې داسې تبه

نه وه لیدلې. کوم کور رنګې کوډې دربندې کړې دي".

نادرې خپلې مور ته وکتل ویې ویل:

"مورجانې! تاسې له دې خبرو لاس وانه خیست. په بکس کې مې یو پاکټ پاراسټامول دي، رایې کړه چې ویې خورم. تبه به مې یو څه را کمه کړي. یوه ټوټه په اوبو راته لنده کړئ، په تندي مې یې کېږدئ ګټه کوي".

مور یې پاراسټامول ورکړ او له کوټې ووته، له خپلې بوخچې یې کتانې دسمال را واخیست لوند یې کړ بیا یې نادرې ته راوړ او په تندي یې ورته کېښود. لږ وروسته د نادرې تبه راټیټه شوه، یو څه یې ځان ارامه احساس کړ.

په سبا ورځ نادره نوره هم بې سېکه شوه. ساه یې بندېده. سر او ټول ځان یې په شدت سره درد کاوه. هغه باوري وه چې ځورونکې ناروغي یې کرونا ده. یو ځل بیا یې له ځان سره وویل:

"روغتون ته ځم. د کرونا ازمایښت کوم. له ډاکټرانو سره سلا کوم".

هڅه یې وکړه له ځایه پاڅېږي، لاس او مخ پرېمنځي او روغتون ته لاړه شي. په پښو یې د تګ ځواک نه درلود. بېرته پر خپل ځای کښېناسته او پښې یې وغزولې. یو ځل بیا یې مور په لوښي کې له اور سره چې سپېلنی یې پکې دود کړی و کوټې ته راغله او د سپېلني عبارت یې "وچ سپېلنی وچ، د پان، د پیري، د تور سترګي د شین سترګي، وچ سپېلنی وچ" یې تکراراوه. د سپېلني لوګي ټول کور په سر واخیست.

نادرې یې مور ته وویل:

"مورجانې، تاسې ته څو ځله ووایم چې دا کارونه کرونا ته ګټه نه لري. که دود، سپېلني، جادو او کوډو د ویروسي او میکروبي ناروغیو درملنه کولای نو په پخوا زمانو کې به یې د چیچک او سرخکانو درملنه کړې وه. تاسې خپله راته ویلي وو په پخوا وختونو کې د چیچک او سرخکانو له لاسه ډېر خلک مړه کېدل".

سترګې یې له اوښکو ډکې شوې وې. په داسې حال کې چې له سترګو یې اوښکې تویېدې خپلو خبرو ته یې ادامه ورکړه:

"پوهان، عالمان، او څېړونکي میکروبونه او ویروسونه کشفوي، واکسین او درمل تولیدوي. خلک د پوهانو له لاسته راوړنو ګټه اخلي. وګوره چې نن توبرکلوز، سرخکان، چیچک او ډېری نورې ناروغۍ د درملنو په واسطه ختمې شوې دي. زه باور لرم چې ډېر ژر به د کرونا واکسین هم جوړ کړي".

ای بدل ترور د لور د خبرو په منلو سره سر وښوراوه او ویې ویل:

"دریغې د کرونا واکسین یې ژر جوړ کړي وای، خلک به د دې بلا له غم هم خلاص شوي وای".

نادره په زګېرویو له یوه اړخ بل ته واوښته او په ناروغو سترګو یې مور ته وکتل او ویې ویل:

"اندېښنه مه کوئ، ډېر ژر به د کرونا واکسین هم جوړ کړي او حل لاره به ورته ولټوي".

ای بدل ترور د لور د خبرو په اورېدو په بېړه له کوټې ووته، څو دقیقې نه وې وتلې، په خړ سترخان کې چې خپله یې جوړ کړی و، ډوډۍ او په مسي پتنوس کې یې چای او شیدې راوړې. نادرې سره له دې چې اشتها نه لرله، نیمه پیاله شیدې یې په سر واړولې. مخکې له دې چې مور یې سترخان ټول کړي، په زنګنو کښېناسته او روغتون ته د تګ له پاره چمتو شوه. مور یې په بېړه سترخان ټول کړ، په لور پسې یې له کوټې ووته او ویې ویل:

"په تمه شه لورې، زه هم درسره ځم". او بیا له لور سره یو ځای له کور ووته.

مور او لور په رېکشا کې د روغتون پر لور روانې شوې. نادرې د روغتون د کرونا ناروغۍ په څانګه کې خپله وینه کتلو ته ورکړه. ډاکټرانو وویل:

"پایله به دوه یا درې ورځې وروسته په ټلیفون درته ووایو".

اړینې سپارښتنې یې هم ورته وکړې. نادره له روغتون څخه له وتلو مخکې درملتون ته لاړه، هغه درمل یې واخیستل چې ډاکټر په نسخه کې ورته لیکلي وو. یوه بسته ماسک، صابون او ویکس یې هم واخیستل. دواړه مور او لور بېرته کور ته را وګرځېدې.

نادرې خپل تدابير له پخوا هم ډېر سخت کړل چې ساه به يې تنگېده، له ترموز به يې تودې اوبه را اخيستې، ويکس به يې پکې اچول او بخار به يې تنفس کاوه. څو دقيقې وروسته به ارامه شوه. د ډاکټر لخوا تجويز شوي درمل به يې وخوړل. درملو به د ويروسي او ميکروبي ناروغيو پر وړاندې د وجود د مقاومت ارزښت پيدا کاوه. له همدې کبله به يې د ورځې يو يا دوه ځلې په تودو اوبو حمام کاوه. په داسې حال کې چې ډوډۍ ته به يې زړه نه کېده، بيا به يې هم تاوده او اوبلن خواړه خوړل لکه اش او اوماچ چې له سابو، گازرو، زنجبيل، شلغم او پالکو به تيار شوي وو.

يوه اونۍ وروسته ډاکټرانو له روغتون زنگ وکړ چې د نادرې د کرونا پايله مثبت ده. نادرې ټکان وخوړ او ويې ويل:

"فکر کوم کرونا ويروس مې د غاښونو له کلينيک راوړی دی. اوس مې ايله فکر کار وکړ. خدای ج دې وکړي له دې افت په خير روغه شم. خامخا به ترې روغه شم".

هغه څو دقيقې په فکر کې ډوبه وه، د کوټې پر فضا هم سکوت واکمن و. کوټې ته د ای بدل ترور په را د ننه کېدو سره سکوت مات شو. هغې نادرې ته مخ ور واړاوه او ويې پوښتل:

"څنگه يې لورې"؟

نادره په ډېرې سختۍ لږ راپورته شوه او مور ته يې ځواب ورکړ:

"دومره ښه نه يم، له روغتون يې زنگ وهلی و ويل يې، کرونا نيولې يې".

مور يې چې دا خبره واورېده رنگ يې والوت. حال دا چې ولاړه وه، له اوښکو څخه په ډکو سترگو د قبلې په لوري ودرېده، لاسونه يې په دعا سره پورته کړل، په لړزېدلي غږ يې وويل:

"لورې لاسونه دې پورته کړه! که مې نادره لور له دې ناروغۍ روغه شي نو هغه خوسی چې په غوجله کې مې ساتلی، د خدای ج په نوم خيراتوم. امين الله اکبر".

نادره په داسې حال چې په انديښنو کې ډوب وه او په څېره کې يې انديښنه

له ورايه څرګندېده، غوښتل مور ته يې ډاډ ورکړي:

"مه وېرېږه مورجانې! په ما هېڅ نه کېږي، رکه روغه يم. د وجود مقاومت مې ډېر دی. د ډاکترانو لارښوونې عملي کوم. زه به روغه شم" ای بدل ترور وليدل لور يې لوړه روحيه لري، فکر يې بدل شو. هيله ورته پيداشوه، مخ يې نادرې ته واړاوه، په مهربانه غږ يې وويل:

"له ژبې دې ځار شم. که د الله تعالی رضا وه لور به مې رکه روغه شي".

نادرې د خپلې مور انديښنه ښه حس کوله. يو ځل بيا يې په ټينګار سره وويل:

"مورجانې! انديښنه مه کوئ، په چين، اروپا، امريکا او نورو هېوادونو کې پوهان او څېړونکي جدي هڅه کوي، ډېر ژر به د کرونا واکسين جوړ کړي، او کرونا ته به ماتې ورکړي".

هره ورځ به نادره يو يا دوه ځله له نفس تنګۍ ځورېده. د هغې له پاره د



وېکسو د بخار تنفس کول ډېر ګټور وو. هغې به د ورځې څو ځلې د وېکسو بخار تنفس کاوه. غاښونه به يې سره ټينګ کړل چې درد يې وزغمي، خپله روحيه يې هم لوړه ساتلې وه.

نادرې به ټلويزيون هم ننداره کاوه. د خبرونو وخت راغلی و. په اکسفورډ پوهنتون کې د کرونا د واکسين د جوړښت خبر يې پاملرنه ور جلب کړه. د دې خبر په اورېدو سره يې خپل درد هېر کړ. په همدې شېبه يې مور د ډوډۍ له پتنوس سره کوټې ته راغله. ويې ليده لور يې په ډېر ښه وضعيت کې ده. روحيه يې له پخوا ډېره لوړه ده. لور ته يې په مسکا وکتل او ورته ويې ويل:

"لورې فکر کوم ښه شوې يې، په سترګو کې دې هيلې ځلېږي، شکر، خدايه سل ځلې شکر کوم".

د نادرې په څېره کې خوښي ځلېده ويې ويل:

"مورجانې! د کرونا ويروس له پاره يې واکسين جوړ کړي. خبر يې په ټلويزيون هم خپور شو. ای بدل ترور پتنوس پر ځمکه کېښود او ويې ويل:

"ويلي دې وو، څومره ښه وشول".

د يوې اونۍ په تېرېدو سره، نادره ورځ تر بلې په ښه کېدو وه. د دوشنبې ورځ وه. مور يې د غرمې له پاره خوندور اش پوخ کړی و، هغه يې وخوړ او مور ته يې وويل:

"نن ډېره ښه يم. فکر کوم نوره روغه شوې يم. شکر چې تاسې لرم. شل ورځې کېږي له ماسره په زحمت يې، په دعاوو مې مه هېروئ، ژمنه کوم تل به مو خدمت کوم. خدای دې تاسې راته روغه او جوړه لري".


نادره پاڅېده. د مور لاس يې ښکل کړ. ای بدل ترور هم خپله لور په غېږ کې ونيوه. دواړه له کوټې ووتې او د کور په انګړ کې يې قدم واهه. نادرې ژورې ساوې اخيستې. ژوند ورته وخندل او ښوونځې ته د تګ په هيله يې ژوند ته ادامه ورکړه.

## ازموینه[1]

ځوان متخصص ډاکټر ایدین سهار وختي روغتون ته د تګ له پاره چمتو کېده. مېرمنې یې یولدوز بوټونه ورته بورس کړل. ډاکټر ایدین د دروازې خواته په راځړېدلې هینداره کې د خپلو وېښتانو په ږمنځ کولو بوخت شو. یولدوز یې مخ مېړه ته واړاوه ورته ویې ویل:

«ایدینه ته پوهېږې پوهنتونونه دوه میاشتې کېږي ځنډېدلي دي، زه له کور څخه محصلینو ته انلاین درس ورکوم. درېغی ستا کارونه هم انلاین شوي وای. تابه هم له کور څخه انلاین کار کاوه. هره ورځ له کور څخه سهار وخته وځې، دوه درې ورځې په روغتون کې پاتې کېږې. په یوه اندېښمن او حساس وضعیت، په یوه خطرناک چاپېریال کې کار کوې. په رښتیا چې ووایم وېرېږم. هر څومره چې ځان وساتې، ویروس بیا هم ډېر زیان رسوونکی دی. زه وېرېږم کرونا دې ونه نیسي. خپله دې وویل همکاران دې کرونا نیولي. څو تنه یې ترې مړه شوي هم دي. څه به وشي څو ورځې کار

[1] ۱-لیکوال: محمد عالم کوهکن



ته لاړ نشې؟ اخېر تاسې هم...»

ډاکټر ایدین د خپلې مېرمنې خبرې په غور واورېدې. یو څه په فکر کې لاړ، لاس پوښونې یې په لاس کړل، نوی ماسک یې واخیست او د ماسک کړۍ تار یې په غوږونو کې بند کړ، خپلې مهربانې سترګې یې مېرمنې ته واړوې او ویې ویل:

«یولدوز جانې! ستاسې په پرېشانۍ پوهېږم، اندېښنه دې پر ځای ده. ګوره، ما اووه کاله په طب پوهنځي کې درس ووایه. درس مې د یوه لوی انساني نیت پر بنسټ چې د خلکو خدمت، د ناروغانو درملنه او د ژوند ژغورل وو، شپه او ورځ ووایه. څلور کاله مې د تخصص په اخیستو تېر کړل، د لا ډېرو زده کړو له پاره بهر ته لاړم. د دې له پاره چې په داسې ترینګلو شرایطو کې له خپلو خلکو سره و اوسم او انسانیت ته خدمت وکړم، سپینه چپنه مې واغوسته او قسم مې وکړ. زه او هم مسلکه مې حق نه لري، په داسې کړکېچنو حالاتو کې له خپلې جبهې شاته شي. موږ باید د کرونا په څېر ویروسونه او میکروبونه له بېخه وباسو. موږ به د علم او پوهې په واسطه په دې جګړه کې بریالي کېږو.

ډاکټر د خپلې مېرمنې لاسونه ونیول، د هغې مخ یې چې د منې په څېر برېښېده، ښکل کړ او خدای په اماني یې ترې واخیسته.

یولدوز دروازې ته تکیه کړې وه او د ډاکټر ایدین ګامونو ته یې کتل چې له زینو ښکته کېده. زړه یې را ډک و. غوښتل یې څه ووایي، خو نه یې شوای ویلی. ډاکټر ایدین چې له زینو ګرځېده یو ځل یې شاته وکتل. مېرمن یې ولیده چې په پرېشانه سترګو پسې ګوري. د خدای په اماني په توګه یې لاس پورته کړ او ویې ویل:

«ګرانې! پام کوه، په ټلیفون به خبرې کوو، اندېښنه مه کوه. دا ځل تر یوې اونۍ یا لسو ورځو راتلی نه شم. له کرونا ویروس سره د مبارزې له پاره په نوې څېړنې بوخت کېږم. دعا کوه چې نوې تجربه مې مثبته پایله ورکړي.

هغه ورو ورو د یولدوز له سترګو پناه شو.

یولدوز دروازه بنده کړه، بلې کوټې ته روانه شوه او د کور له شاتینۍ لوېې کړکۍ یې د کوڅې په لوري کتل. خپل مېړه یې د روغتون په موټر کې ولید چې د سړک په غاړه ولاړ و، کښېناست او د روغتون په لور روان شو.

د روغتون کوټې او بسترونه د کرونا له ناروغانو ډک وو. د ناروغانو خپلوان او دوستان په دروازه او د روغتون په انګړ کې راټول شوي وو. د ټولو ماسک په خوله دی. له ډاکټرانو یې مرسته غوښته، په روغتون کې اکسېجن کم و. هره ورځ دوه یا درې تابوتونه د هغوی خپلوانو ته تسلیمېدل. یو شمېر ناروغان ترې روغ شوي او د خپلو کورونو په لور روان وو.

ډاکټر ایدین د روغتون د رییس ډاکټر توماریس کاري خونې ته لاړ. د روغتون رییس تازه له کور راغلی و. یو بل ته یې ښه راغلاست ووایه او پر څوکیو کښېناستل. ډاکټر ایدین د روغتون رییس ته وکتل او ویې ویل:

«درېغې متخصص ملګري ژر راغلي وای چې د کرونا ویروس په هکله مو بحث کړی وای او یوې پایلې ته رسېدلي وای. په همدې شېبه کې درې، څلور متخصصین یو پر بل پسې شعبې ته را ننوتل. علمي غونډه پیل شوه. د روغتون رییس له ډاکټرانو وغوښتل، د کرونا ویروس د پرمختګ په هکله معلومات وړاندې کړي. د متخصصینو په وینا، وضعیت ښه نه و. په کرونا اخته کسان ډېر شوي وو. په روغتون کې د اکسېجن او نورو وسایلو کمښت احساسېده.

د روغتون رییس ډاکټر ایدین ته وکتل او ویې ویل:

« ډاکټر ایدینه! تاسې یو نوی فکر لرئ، څه باید وکړو؟

«قدرمن رییس صیب او درنو همکارانو! تاسې ښه پوهېږئ چې کرونا ویروس د نړۍ هرې برخې ته رسېدلی دی او له خلکو قرباني اخلي. د نړۍ د پرمختللو هېوادونو پوهان هم د کرونا ویروس د واکسین په جوړولو نه دي توانېدلي. شته درمل هم کومه ښه پایله نه لري. په امریکا، اروپا، چین او

روسیه کې هم متخصصینو د کرونا ناروغانو ته انتې ویرال ورکړي دي خو کومه پام وړ پایله یې نه ده ترلاسه کړې. خو زه یو نظر لرم».

ډاکټر ایدین مخکې له دې چې نظر یې وړاندې کړي، د روغتون رییس یې په خبرو کې ور ودانګل. د سترو متخصصینو په لور یې وکتل، خپله د یادښت اخیستو کتابچه یې واړوله او ویې ویل:

«ډاکټر ایدینه ته سم وایې، موږ هم له دوه میاشتو را په دې خوا د کرونا ویروس د زیانونو د مخنیوي له پاره خپل ټول وس وکړ. زموږ متخصصین دې ژوندي وي. په دې وخت کې زموږ ځینې همکاران په کرونا اخته شوي او څو تنه ترې مړه شوي هم دي. خدای دې هغوی وبښي. په همدې لنډو وختونو کې زموږ دوه، درې همکاران په کرونا ناروغۍ اخته شوي، بستري دي او د اکسیجن د ډبې په واسطه ساه اخلي. ډاکټر ایدینه، ستاسې نظر اورو»!

«زموږ پوهه او امکانات د پرمختللو هېوادونو له طبي مرکزونو سره د پرتلې وړ نه دي. نن یا سبا به د نړۍ د متخصصینو نظریې یوې کره پایلې ته رسېږي. هوښیار انسان چې تر دې دمه د ژوند په هر ترینګلي حالت برلاسی شوی نو دا افت به هم مهار کړي. د کرونا واکسین به هم تولید شي. تر هغه وخته پورې باید څه وکړو او څه کولای شو؟ موږ په خپل روغتون کې د پلازماتراپي د پلي کېدو شونتیا لرو. تاسې ښه پوهېږئ، چې پلازماتراپي په نړیواله کچه سل کلنه سابقه لري. د لومړي ځل له پاره سل کاله مخکې یوه الماني پوه د پلازما تراپي په واسطه د سرخکانو درملنه وکړه. زه په امریکا کې له یوه طبي مرکز سره اړیکه لرم. د دې مرکز متخصصین هم له ماسره هم نظره دي. که تاسې موافق یاست نو د کرونا ویروس ناروغانو ته به پلازما تراپي پلي کړو.

«ښه فکر دی. زه مخالفت نه لرم. ډاکټر توماریس متخصصینو ته مخ واړاوه او ویې ویل:

"درنو همکارانو تاسې څه نظر لرئ؟"

هغوی د سرونو په ښوروړلو سره خبره تایید کړه. ډاکټر زیب النساء لاس پورته کړ او د خبرو کولو اجازه یې واخیسته. د روغتون رییس وویل:

«مهرباني وکړئ»!

«ډاکټر ایدین ښه فکر لري. موږ په خپل مرکز کې د پلازما تراپي د پلي کېدو شرایط لرو. سره له دې چې زموږ لومړۍ تجربه ده، په خیر سره به بریالي شو. زه له ډاکټر ایدین سره له نژدې ملتیا کوم.

د روغتون د متخصصینو غونډې له ډاکټر ایدین وغوښتل خپله طرحه ژر تر ژره عملي کړي. ډاکټر ایدین او ډاکټر زیب النساء له یو بل سره په ملتیا د پلازماتراپي د پلي کېدو پلان برابر کړ. داسې نظریه یې لرله، د هغو ناروغانو له وینې چې له کرونا روغ شوي، پلازما جوړه کړي او د کرونا ناروغانو له وینې سره یې گډه کړي.

ډاکټر ایدین پوهېده چې د یوه همکار مېرمن یې دوه اونۍ مخکې له کرونا روغه شوې ده. هغه خپل ملگري ډاکټر سمندر ته زنگ وواهه او ورته ویې ویل، د پلازماتراپي د پلي کېدو له پاره اړ دي، د ده مېرمن گل اندام په داوطلبانه ډول وینه ورکړي. په سبا یې ډاکټر سمندر له خپلې ښځې گل اندامې سره روغتون ته راغی. د گل اندامې له رگونو یې وینه واخیسته. اړین طبي ازمایښتونه وشول او ډاکټر ایدین پلازما چمتو کړه.

ډاکټر ایدین پوهېده چې پلازماتراپي کوم ناروغ ته تطبیق کړي چې هغه ناروغ د روغتون یو تن کار کوونکی تورسون و چې په کرونا ناروغۍ اخته شوی و. د تورسون رگونو ته یې پلازماتراپي ډېر ژر ننویسته. ډاکټر ایدین په ساعتونو پایلې ته په تمه شو. په ۲۴ ساعتونو کې د ناروغ تفسي ستونزې پای ته ورسېدې او د هغه له پوزې یې د مصنوعي تنفس وسیله لرې کړه. اشتها یې ښه شوې وه. په ښېې علاقې سره به یې د پالکو او ترکارۍ سوپ نوش جان کاوه. د روغتون رییس له موضوع خبر شو او د روغتون د متخصصینو

غونډه یې ترتیب کړه. ډاکټر ایدین ته یې مبارکي ورکړه او ترې ویې وغوښتل د کرونا د نورو ناروغانو درملنه هم په پلازماتراپي وکړي. په تورسون یوځل بیا طبي ازمایښت وشو. پایله دا وه چې په وجود کې یې هېڅ د کرونا نښه نه وه.

ډاکټر توماریس له دې کبله په ځان ویاړ کاوه چې د هېواد په کچه د ده تر سرپرستۍ لاندې روغتون د کرونا ناروغ درملنه په پلازماتراپي سره وکړه. هغه تورسون خپلې کاري شعبې ته را وباله. له دې کبله یې هغه ته مبارکي ورکړه چې د روغتون د متخصصینو د زیار له کبله روغ شوی و. تورسون هم له سپین پوښه زیارکښو ډاکټرانو مننه وکړه او ویې ویل:

«زما ژوند درنو متخصصینو وژغوره، څو پورې چې ژوندی یم دا ښېګڼه به یې هېره نه کړم».

هغه کور ته د تګ اجازه وغوښته. تورسون چې د روغتون امبولانس، په کړکېچن حالت کې راوړی و، کور ته په خپلو پښو پلی لاړ.

د اټکل له مخې دوه اونۍ تېرې شوې وې. ډاکټر ایدین د پلازماتراپي په واسطه د کرونا د ناروغانو په درملنه بوخت و. یوه ورځ د روغتون رییس هغه خپل کاري دفتر ته وغوښت. اتاق ته چې ور ننوت ویې لیدل چې هلته یې خبریالان، عکاسان او کمره مینان راټګ ته په تمه دي. د کمرې لېنزونه یې په لوري وګرځېدل. فلشونو پرله پسې برېښناوې کولې. ډاکټر توماریس یې خبریالانو ته ور وپېژانده او ویې ویل:

"اوس چې هره پوښتنه لرئ نو زموږ له ځوان او تکړه متخصص یې پوښتی شئ".

خبریالانو د پلازماتراپي له لارې د کرونا ناروغانو د درملنې په هکله پوښتنې پیل کړې. هغه ټولو پوښتنو ته په خلاصه ډول ځواب ورکړ او ویې ویل:

«تاسې ښه پوهېږئ چې اوس کرونا د انسانانو ژوند ته تر ټولو لوی ګواښ

دی. تر اوسه د روغتیا نړیوال سازمان او نورو لویو مرکزونو د کرونا د درملنې له پاره کومه اغېزمنه درملنه نه ده پیدا کړې. د کرونا ویروس ضد واکسین هم نه دي جوړ شوي، دغه ویروس زموږ له هېوادوالو هم قرباني اخلي. موږ په کرونا ناروغۍ د اخته کسانو له پاره پلازماتراپي و ازمایه. له نېکه مرغه مثبته پایله مو ترې واخیسته. د دوو اونیو په موده کې له ۱۵ناروغانو ۱۳ تنه روغ شول. له بده مرغه دوه ناروغان وفات شول. دا زموږ له پاره یوه نوې تجربه وه. که ما په دې ترینگلو شرایطو کې په لږ کچه هم د خپلو هېوادوالو چوپړ کړی وي، ځان نېکمرغه بولم. تر ټولو د پام وړ خبره دا ده چې انسانان باید په دې ویروس ککړ نه شي. بشپړ باور لرم چې په لنډه موده کې به د کرونا واکسین جوړ شي. د دې له پاره چې په کرونا اخته نه شو، اړینه ده د روغتیا د نړیوال سازمان سپارښتنې پر ځان عملي کړو.

په نورو روغتونونو کې هم متخصصینو د کرونا ناروغانو د درملنې له پاره له دې اصولو گټه واخیسته. دا میتود د هېواد روغتیایي مرکزونو تایید کړ. ډاکټر ایدین د خپلو تجربو د تبادلې له پاره سیمه ییزو هېوادونو ته وبلل شو.



# توختهمېش[1]

توخته مېش ویده و چې سهار وختې یې د کور د چرګ په اذان را ویښ شو. بړستن یې یوې خواته کړه، د دې له پاره چې لمونځ یې قضا نه شي، له کوټې په بېړه ووت. په سفالي کوزه کې له منګي د اوداسه له پاره اوبه اخلي. مخ او لاسونه په هغه وریښمین دستمال چې یو کال مخکې یې په هرات کې ملګري ورکړی و وچوي. په بیړه کوټې ته ننوزي، خړ لمونځی چې په مېخ ځوړند و را اخلي. د سهار څلور رکعته لمونځ کوی، د خدای پاک شکر اداء کوي او لاسونه د دعا کولو په موخه پورته کوي. له خدای(ج) غواړي مور، پلار، اولادونه، خپلوان او دوستان یې له هرې اسماني او ځمکنۍ بلا، په ځانګړي توګه له هغه ویروسي افت څخه چې له بهره خپور شوی دی وساتي.

---

۱-لیکوال: محمد عالم کوهکن

توخته مېش لمونځی بېرته پر خپل لومړي ځای په مېخ ځوړندوي او له کوټې وزي. په همدې وخت کې یې پلار صوفي داروغ امسا په لاس له جومات څخه کور ته روان دی. صوفي داروغ خپل زوی ته وکتل او ویې ویل:

«توخته مېشه! لمونځ دې وکړ، ولې جومات ته نه لاړې، څه شوي خوب وړی وې»؟

«هو پلارجانه، خدای یې دې قبول کړي لمونځ مې په کور کې اداء کړ. د ډېرې ستړیا له کبله خوب وړی وم، جومات ته په تگ ونه توانېدم. ښه شو چې د کور د چرگ په اذان را ویښ شوم. که نه نو لمونځ مې قضا کېده.

«جومات ته هم خلک د کرونا وبا له وېرې د پخوا په څېر نه راځي. د چا اځل چې راغلی وي، که یې په پنبه کې هم وساتې مري. سړی حیران شي، د ناروغۍ په واسطه د مړینې له وېرې جومات ته نه راځي. له اځل څوک تښتېدی شي؟

توخته مېش د پلار خبرې په پاملرنې سره واورېدې، له لاسونو یې ونیو او کوټې ته یې راوست. ورو یې پر ځای کښېناوه او څه یې چې د کرونا په هکله اورېدلي وو، پلار ته یې وویل.

«پلارجانه، کرونا خطرناکه ناروغي ده، تر اوسه یې ډېر کسان وژلي دي، درمل یې هم تر اوسه نه دي پیداکړي. خلک باید له وبا او نورو ناروغیو ځان وژغوري. د رازي او ابن سینا په څېر پوهانو په خپل وخت کې د جذام او پیس په څېر وبایي خطرناکو ناروغیو په هکله خبر ورکړي و. له همدې کبله حکومت او د حج او اوقافو وزارت له خلکو غوښتنه کړې غوره ده په جماعت لمونځ ونه کړئ. دولتي ادارې یې رخصت کړې دي. ډېر به ښه وي چې تاسې هم د یو څه وخت له پاره لمونځ په کور کې وکړئ.

«زویه! فکر کوم خبرې دې سمې دي. اوس د جماعت لمانځه ته لږ کسان راځي. که داسې وي زه مې هم لمونځ په کور کې کوم.

توخته مېش له کوټې ووت. مېرمن يې ای‌جمال په دالان کې د چای له پاره د اوبو په ځوښ کولو بوخته ده. ورو هغې ته نژدې شو او ويې ويل:

«ښځې، چای دې ژر دم کړه، ناوخته نه شي، غواړم پلورنځي ته مې ژر ورسېږم.

ای‌جمالې چې په نغري کې د وښو اور پوکاوه، د ټيکري اوږده څنډه يې اوږې ته واچوله، مېړه ته يې مخامخ وويل:

«وايي کرونا په هر ځای کې شته، ټول ځايونه قرنطين دي، پلار ته دې وويل جومات ته لاړ نه شي، بيا خپله پلورنځي ته ځې؟ پر ځان دې زړه سوی نه لرې؟ که دې په خپل ځان زړه نه سوزي، په اولادونو دې زړه وسوځوه».

«ښځې رښتيا وايي! زه هم پوهېږم کرونا خطرناکه ده. خدای دې په هېچا نه ويني. بله لاره نه لرم. که دوه ورځې پلورنځي ته لاړ نه شم، وږي به پاتې شو. کورنۍ مو لويه ده، بل عايد هم نه لرم. که په جوال کې اوړه ونه لرې، د پور له پاره به چاته ورشو؟ له پور غوښتو مې بد راځي. انديښنه مه کوه! خدای پاک مهربانه دی».

توخته مېش په ښار کې د پلاستيکي وسايلو پلورنځی لري. هره ورځ د زرو يا يو نيم زرو افغانيو په کچه پلاستيکي وسايل پلوري او په دې عايد سره د يوې نهه کسيزې کورنۍ اړتياوې پوره کوي. د کرونا خپرېدو او قرنطين د توخته مېش پر عايد هم ناوړه اغېزه وکړه. ۷۰ سلنه عايد يې له لاسه ورکړ. بازار ته به ته، په پټه به پلورنځي ته د ننه کېده او دروازه به يې نيمه پرانيستې پرېښوده. چا به چې پلاستيک اخيست، پلاستيک به يې د دوکان له شا دروازې تر لاسه کاوه. وضعيت تر ځو اونيو پورې په همدې ډول و.

په ښار کې له درملتونونو او د خوراکي توکو له خرڅوونکو پلورنځيو پرته نور ټول پلورنځي او دوکانونه تړلي وو. اقتصادي فعاليتونه له رکود سره مخامخ شوي وو. د توخته مېش بازار هم سوړ شوی و. توخته مېش به له قرنطين مخکې کور ته کڅوړې کڅوړې مېوې وړې. خو اوس وختونو کې

کور ته تش لاس ځي. د اولادونو سترګې یې د پلار په تشو لاسونو لګېږي. د ای‌جمال دېګی هم هره ورځ نه پخېږي. هغه له دې حالت ستړې ده. له ځان سره ورو د خدایه شکر کلمه وایي او له سترګو یې اوښکو بهېږي.

ای جمال احساسوي چې د ژوند ملګری یې په ښه وضعیت کې نه دی. جرأت نه شي کوی ورته ووایي چې:

په کور کې اوړه، غوړي، کچالو، پیاز، نخود، بوره او نور ختم شوي او دا ورته حیرانه ده، د توخته مېش پام کېږي مېرمن یې د خیالونو په سمندر کې ډوبه ده. هغې ته ګوري او پوښتنه ترې کوي:

«مېرمنې خیرت دی! ولې دومره په فکر کې ډوب یې»؟

«هېڅ، هسې په فکر کې تللې وم».

بیا یې له ځان سره وویل:

«تر څه وخته به یې نه وایم، باید یې ورته ووایم».

ای‌جمال یې مېړه ته په پرېشانه سترګو ګوري او وایي:

«په کور کې هرڅه خلاص شوي دي. پخوا به دې تهوله سودا زما له ویلو پرته راوړه. دوه اونۍ کېږي هېڅ دې هم نه دي راوړي. اوړه نه لرو، نور شیونه هم خلاص شوي دي. یوه اونۍ کېږي غوښه مو نه ده پخه کړې. اولادونه پوښتي، مور جانې، په دې ورځو کې مو پلار ولې هېڅ شی هم نه راوړي؟ حیرانه یم هغوی ته څه ووایم».

«ریښتیا وایې، کرونا او قرنطین بازار خراب کړی دی، سودا نشته. د پلورنځي کرایه راباندې تاوان ده. پخوا ښه و، مشر زوی مو له حکومت سره یو کلن قرارداد کړی و، هره میاشت به یې معاش اخیست. د هغه قرارداد هم خلاص شو. اوس هغه هم څوک کار ته نه نیسي. په بازار کې هم کار نه پیدا کېږي. که هغه ایران ته ولېږو».

ای‌جمال یو ځل د توخته مېش په خبرو کې ور ولوېده او ویې ویل:

«د ایران نوم مه اخله، څوک چې ایران ته تللي کرونا نیولي، ډېری یې مړه

شول، که له لوړې مړه هم شو، ارسلان زوی مې ایران ته نه لېږم».

پر دې مهال د توخته مېش ټلیفون زنګ وکړ. موبایل یې له جېب را وویست، ټلیفون ته یې وکتل ویې ویل:

«بهرنۍ شمېره ده، سردار ورور مې له امریکا زنګ وهلی دی».

دواړو وروڼو په ټلیفون له یو بل سره خبرې وکړې، د کورنۍ د وضعیت او احوال پوښتنه یې وکړه. ماښام ته لږ وخت پاتې و. ای‌جمال پخلنځي ته لاړه. له خپلې لور ګلبدن سره یې یو ځای له دیګي ښوروا را وویسته او د خسر کوټې ته یې یوړه. صوفي داروغ له خپلې نګور پوښتنه وکړه:

«ای‌جمالې! توخته مېش چېرې دی؟ غږ ورته وکړه، ښوروا سړېږي.

«راغلی و، په انګړ کې دی، له ورور سره یې خبرې کوي.

ای‌جمال مخ دروازې ته واړاوه او په لوړ غږ یې وویل:

«د ارسلان پلاره! راشه چې ښوروا سړېږي».

لږ وروسته توخته مېش کور ته را ننوت، سلام یې وکړ او د پلار تر څنګ یې کښېناست. د ښوروا کاسې ته یې وکتل او ویې ویل:

«مېرمنې ښوروا دې پخه کړې، غوښه دې له کومه کړه»؟

«له کومه به مو کړې وه؟ اولادونه هر ساعت ویل، پلار غوښه نه راوړي، ما هم چرګ حلال کړ».

«ښه دې وکړل ښځې، بسم الله کړئ».

د شپې ډوډۍ وخوړل شوه، دعا یې وکړه. صوفي داروغ یې زوی ته وکتل ویې ویل:

«له ورور سردار سره دې وغږېدې، څنګه و، څه یې ویل»؟

«شکر ښه و، تاسې ټولو ته یې سلام وایه. هغه ویل امریکا ته هم کرونا ورغلې، دوی هم په قرنطین کې دي. کار ته نه ځي او په کور دي».

«دا سبیل مړې وبا امریکا ته هم رسېدلې، هغوی به څنګه کوي، که بې روزګاره پاتې شي ژوند به څنګه کوي»؟

«پلارجانه دعا وکړئ، خدای دې بې غمي راولي، د هغوی غم نشته».
«څنگه»؟

«سردار ویل د امریکا دولت اعلان کړی، څوک چې قرنطین دي او کور پاتې دي، هره میاشت به له زر ډالرو زیاتې پیسې ورکوي. هغلته هېڅوک هم د روزگار په غم کې نه دي. اولادونه يې د انټرنيټ له لارې په انلاين ډول درس وايي، لویديځ هېوادونه بډایه دي. د خپلو خلکو غم خوري».

د توخته مېش لور گلبدن هم په همدې شېبه کې خبرو ته خوله جوړه کړه، په افغانستان کې يې د ښوونځيو د ځنډېدلو له کبله شکایت وکړ:

«مور، ته هم د ښوونې او روزنې وزارت ويلي وو چې درسونه به په کور کې د انټرنيټ له لارې وايئ. چيرې دي درس، برېښنا، انټرنيټ او کمپيوټر؟ اې خدایه، مور، هم حکومت لړو کنه»؟!

صوفي داروغ هغه چای چې نږور يې په پیاله کې ورته اچولی و وڅښه. سوړ اسويلی يې وويست او په نیولي غږ يې وويل:

«په دې لنډ عمر کې مو څنگه ورځې ولیدې. څلوېښت کاله کېږي، جگړه ده. فساد، غلا او چپاول اوج ته رسېدلي، په کوڅه کې د یوه موبایل د غلا کولو له پاره خلک وژل کېږي، څوک پوښتنه نه کوي اوس دا کرونا پسې بل غم شو».

«پلارجانه رښتیا وايې، زه هم حیران یم. کرونا چې نه وه راغلې. یو څه لاس مې چلیده. په بازار کې کاروبار او ژوند روان و. کرونا دا هرڅه رانه واخيستل. سردار ورور مې پنځه سوه ډالر رالېږلي دي، ځم چې له بانک يې را واخلم. خدای پاک مهربانه دی».

توخته مېش د یوې لويې کورنۍ سرپرستي کوله. د کرونا خپرېدو يې ورځنی ژوند زیانمن کړی و. په پلورنځي کې يې چې کوم پلاستيکي وسایل لرل ارزانه يې وپلورل، کسب او کار يې له لاسه ورکړ. پورورړی شو. په اونيو کور کې اوزگار پاتې شو. ورځ تر بلې خپه کېده.

درې مياشتې وروسته قرنطين پای ته ورسېد. توخته مېش غواړي بېرته په بازار کې کاروبار پيل کړي، خو پانګه نه لري. بې پيسو دی. له اړې ورځې يې د کور قالينې او ګليمونه وپلورل. ای‌جمال ته يې قناعت ورکړ، د دې يوځه سپين زر چې مور يې په واده کې ورکړي وو وپلوري. د سرو زرو ګوتمه او يو، دوه لاسبندونه چې خپله يې په واده کې ورته اخيستي و، هم په زرګرۍ کې وپلورل.

که توخته مېش پانګه ولري، په بازار کې د کاروبار په چل ول پوهېږي. يو ځل بيا يې په بازار کې کار پيل کړ. دا ځل يې پلورنځی په اجاره وانه خيست ځکه چې زياتې پيسې يې نه لرلې. د بازار په منځ کې يې د چای، صابون، ګوګړ او نورو توکو پلورل پيل کړل. ترڅنګ يې خپل زوی ارسلان ته په لرګينه کراچۍ کې ګاذرې، پالک، بانجان، کچالو، پياز او نور د پلورلو له پاره برابر کړل. کورنی اقتصاد يې چې د قرنطين له کبله خراب شوی و، لږ لږ په غوړېدو شو. پلار او زوی وکولای شول خپل پوروونه خلاص کړي.

# قیزلرشاه[1]

د ساعت ستنه د مازیگر څلورو بجو ته نژدې شوې وه. له دفتر څخه د رخصتي وخت را لنډ شوی و. چاپېریال ورو ورو تیاره کېده. تورې ورېځې چې د قبلې له لوري په اسمان کې را ښکاره شوې وې، یو له بل سره یې یو ځای تالندې او برېښناوې کولې او د ښار تیاره چاپېریال به یې روښانه کاوه.

قیزلرشاه له ځان سره وویل:

«له دفتر باید ژر ووزم. که یو ناڅاپه باران پیل شي نو تر کوره پورې به مې کالي را لانده خیشته کړي.

هغه له دفتر ژر ووته. په کوڅه کې یې اسمان ته وکتل، تتو ورېځو ښار را چاپېر کړی و. څو قدمه لا تللې نه وه چې د باران څاڅکو یې ټنډه او مخ لانده کړل. شېبه وروسته د باران څاڅکي ډېر چټک شول. هغه په بېړه بلې کوڅې ته ننوته، ورو یې له ځان سره وویل:

د خدای پاک له قدرتونو ځار شم، سږ کال پسرلی ښه بارانونه لري. په غبرګولي کې هم باران ورېږي. یو ځل ور یاد شول چې څو ورځې مخکې په باران کې لنده شوې وه او شاوخوا یوه اونۍ د ناروغانو په بستر کې پرته

[1]- لیکوال: محمد عالم کوهکن

وه.

مبایل ته یې زنګ راغی:

«اورم، اورم»

قیزلرشاه!

«مورې څه خبره ده»؟

«لورې، ژر کور ته راشه. که باران تېز شي لنده به شې، بیا ناروغه کېږې، یوه اونۍ کېږي چې له ناروغۍ روغه شوې یې، دوه اونۍ کېږي پلار دې ناروغ دی، که تاسې هم ناروغه شئ، بیا به زه څه کوم»؟

«اندېښنه مه کوه مورې، لاره کې یم درځم. پلار مې څنګه دی»؟

«څه پوهېږم لورې! یو ډول خو دی. نه خواړه خوړی شي او نه هم سترګې پرانیستی شي. دا اوس مې هم په زوره څو قاشوقې شیدې په خوله کې ورکړې».

«خیر دی مور جانې ژر در رسېږم. که اوړه خمیره شوي وي، خپله به په تناره کې اور بل او ډوډۍ به پخه کړم».

«په تناره کې مې خس او لرګي اچولي څو پورې چې را رسېږې تنور به تود وي. نه یم پرې پوهه شوې خمیره مې ډېره ور اچولې، ژر خمیره شوي، په خیر راشې».

«دا دی ژر درځم مورې، الله مو مل».

قیزلرشاه کور ته په را نژدې کېدو وه. د ښار له لویدیځې تپې چې کوم ملایم شمال را روان و، پر مخ یې نرم نرم لګېده. د پسرلي نرمې هوا قیزلرشاه ته چې فکر یې له سل زره خیالونو سره په جګړه و، یو بې بېلګې احساس ورکاوه. قیزلرشاه له ځان سره وویل:

دا هم زما خوار بخت دی، دوه اونۍ کېږي بوډا پلار مې له ناروغۍ نه جوړېږي. ورونو مې ودونه وکړل، خوېندې مې هم پر خپل بخت پسې لاړې. پلار مې وایي، تا هم د خپل بخت کور ته لېږم، بیا کوم بل ارمان نه

لرم. فکر مې کاوه همدا موسمي ناروغۍ به وي، خو نه د پلار ناروغي د کرونا په ډول ده، دا ناوړه درد یو ناڅاپه له کومه را پیدا شو؟ د عزیز تره زوی مې له بهر راغلی و. پلار مې یې ښه راغلاست ته ورغلی و، دا ناروغي یې له هغه ځایه له ځان سره راوړه. هغه چې ځواکمن ځوان و، ژر روغ شو. خدای دې زما په پلار هم رحم وکړي. که خدای مه کړه وفات شي څه به کوم، خدای دې هغه ورځ نه راولي. ورونه مې شته. خو ورونه کله پلار کېدی شي! خدای خبر چاته مې ورکړي! هغه متل دی وايي یتیمه نجلۍ اووه پلاره لري. ای لویه ربه، ته رحم وکړه»!

قیزلرشاه چې په فکرونو کې ډوب وه، د ګاونډي د سپي حملې یې خیالونه ګډوډ کړل. د سترګو په رپ کې پر ځمکه ولوېده، موبایل یې درې-څلور متره لیرې غورځار شوی و. په همدې شېبه د ګاونډي مېرمن له کور را ووته. قیزلرشاه لاسونه په سینه کېښودل او د ګاونډي له مېرمنې تولګن ای سره د دوی انګړ ته لاړه. د قیزلرشا مور د تناره څنګ ته د ډوډۍ پخولو له پاره چمتو کېده. ګاونډۍ روغبړ ورسره وکړ او په قیزلرشاه یې د سپي د حملې کیسه ورته وکړه.

مور یې په پرېشانۍ او اندېښنې سره څو ځلې غږ ورته وکړ. قیزلرشاه ځواب ور نه کړ. بل ځل یې په لوړ غږ پسې چیغه کړه. د قیزلرشاه غږ د پلار له کوټې واورېدل شو:

«راغلم»!

«ژر راشه، د سپیو داړل ډېر بد وي، زړه دې نه وي اچولی، ژر راشه د دېګ تور دود وڅښه.

«د قیزلرشاه مور نازي خال، له خاورینو لوښو یوه وړه کاسه را واخیسته او په څمڅه یې تور دود ترې وګراوه. یو موټی تور دود یې په کاسه کې واچاوه بیا یې له چای جوشې لږ اوبه پکې واچولې ښه یې سره ګډ کړل. قیزلرشاه ته یې وویل سترګې پټې کړي او په یو ځل یې په سر واړوي، څو

یې چې قیزلرشاه خواته ورتله، مور یې خبرو ته دوام ورکړ:

«وایي بلا دې تر پښو لاندې ده. و نجلۍ ناڅاپه چېرته ورکه شوې. څو ځله مې غږ درپسې وکړ، وا دې نه ورېد؟

«مورې، د پلار کوټه کې وم پوښتنه مې یې وکړه».

قیزلرشاه راغله، د دېګي تور دود یې په سر واړاوه ویې لړزوله. په همدې شېبه کې ګاونډۍ تولګن ای وپوښتل:

«خیریت خو دی، زموږ په ګاونډي څه شوي»؟

«په بوډا به څه وشي، هغه بله ورځ یې د خپل ورور کره تللی و. بد پرهېزي یې کړې، اوس ناروغه شوی دی، بې سېکه دی او تر بړستنې لاندې ویده دی».

«پام کوئ چې کرونا شوی نه وي، زما د زوی د ملګري پلار له کرونا مړ شوی دی.

«خدای دې نه کړي، داسې خبرې مه کوئ، هېڅ هم نه دي پرې شوي، ځینې وخت همداسې کېږي. بیا بېرته خپله جوړ شي.

«موږ په خبرو یو، نژدې ده تناره کې ډوډۍ وسوزي».

نازي خال رپیده را وا خیسته او ډوډۍ یې لکه مرجان سرې پخې شوې وې، ګرمې ګرمې له تناره را و ایستې او ګاونډۍ ته یې مخ کړ.

«واخله توده ډوډۍ در واخله.

«نه، زړه ته مې نه کېږي».

«خیر دی لږ واخله».

«چې ډېره شله یې یوه ډوډۍ اخلم او ځم».

تولګن ای یوه ډوډۍ له ټوکرۍ واخیسته او د خپل شنه ټیکري په څنډه کې یې ونغاړله، ژر پاڅېده او په څو شېبو کې ورکه شوه.

روزي خال چې کومې ډوډۍ له تناره را ویستلې وې، هغې کوټې ته یې راوړې چې تر څنګ یې د اچیل تاغه کوټه وه. ډوډۍ یې له لوښي را

وویستې او په له وړیو جوړ سترخان کې یې کېښودې. ژر پخلنځي ته لاړه او د وریجو تودې اوبه یې خپل ناروغ مېړه ته راوړې.

قیزلرشاه یې پلار ته مخ واړاوه ویې ویل:

« خواږه مو تاوده تاوده وخورئ، مور مې له سبزیجاتو، پالک او پودینې تیار کړي دي.

«افرین لورې، له لاسه مې ونیسه».

پلار د لور په مرسته را پورته شو او پر خپل ځای کښېناست. اچیل تاغه چې ډېر کم ځواکه شوی و، نیمې د وریجو اوبه یې وڅښې او بېرته وغزېد.

«پلاره، نن چې زه نه وم، ډاکټر راغلی و، څه یې ویل»؟

«نه یم خبر، دوه اونۍ کېږي ساه مې بندېږي، کمزوری شوی یم. فکر کوم سترګې مې رالوېږي. ټول بدن مې درد کوي. ډاکټر راغی پوښتنه یې



وکړه، معاینه یې کړم، په خبرو یې پوه نه شوم».

روزی خال چې د کوټې په دروازه کې ولاړه وه، مخ یې لور ته واړاوه او ویې ویل:

«ډاکټر یو دوه پاکټه دارو راکړل ویل یې د پلار ناروغي دې تر ډېره کرونا ښکاري. خپله به روغ شي، دا ناروغۍ دارو نه لري، مقصد له حاجي سره احتیاط وکړئ. خواړه مه ورکوئ. اوبلن خواړه ډېر ورکړئ، او تاسې یو څه لیرې ترې اوسئ».

ډاکټر دوه پاکټه پراسټامول ورکړي وو. قیزلرشاه یې له پلار وغوښتل یو پراسټامول وخوري.

«مور جانې، ډاکټر ویلي پلار مې کرونا نیولی، تر هغو چې وینه یې لابراتوار کې ونه کتل شي، ناروغي یې نه تشخیص کېږي. پلار به مې روغتون ته بوزو او وینه به یې معاینه کړو.

«ته خپله ښه پوهېږې لورې، زه تللی نشم. ته یې خپله بوزه.

قیزلرشاه، خپل پلار په یوه ټکسي کې د ولایتي روغتون د کرونا څانگې ته ورساوه. وینه یې ترې واخیسته. ډاکټرانو وویل:

"مورږ دلته کرونا نه شو تشخیصوی، کابل ته یې لېږو. پایله یې یو څه وروسته راځي. حاجي کور ته بوزئ. په یوه بېله کوټه کې یې قرنطین کړئ. هر وخت چې پایله له کابل راشي، تاسې ته خپله زنگ وهو".

قیزلرشاه غوښتل پلار یې کور ته راولي او په یوه بېله کوټه کې یې قرنطین کړي خو اچیل تاغه وویل:

«لورې، دوه اونۍ کېږي په دې کوټه کې زنداني یم، ډېر پتنگ شوی یم. فکر کوم ټوله شپه ډېر باران و اورېده، نن اسمان شین دی. په دې لمر کې ځای راته جوړ کړه چې پیتاوي ته کېنم. لور یې په لاس جوړه شوې گلمچه پر برنډه وغوړوله. توشکې یې له کوټې څخه را واخیستې او پر گلمچه کېښناستل. اچیل تاغه د واسکټ له جېب څخه د نسوارو ډبلۍ را

وویست، لږ یې تر ژبه لاندې کړل. ورو یې پر خپل ځای کې پښې وغزولې او پرېووت. قیزلرشاه یې مور ته مخ کړ او ویې وویل:

«مور جانې، پلار ته به مې په یوه پیاله شیدو کې ویټامین ډي ورکړم. ډاکټرانو نور ویټامینونه هم ورکړل. پلار به مې له خیره سره رک روغ شي. هغوی د ویټامین ډي د شیشه یي بوتل سر مات او د پیچکاري په واسطه یې هغه له شیدو سره ګډ کړل او په پلار یې وڅښل. درې وخته یې پراستامول هم ورکاوه.

د قرلیزشاه مور له خپل مېړه وغوښتل لږ استراحت وکړي. هغه له خپلې لور سره د بلې برنډې پر لور لاړه. مور یې د حسرت اسویلی و ویست او د لور سترګو ته یې وکتل:

«لورې ډېره وېرېږم، د پلار عمر دې لوړ دی، وایي د کرونا ناروغي درمل نه لري. خدای مه کړه که څه پرې وشي، له تاسره به څه کوم؟ ورونه دې خبره نه مني. که هر یو ستا پر ولور جګړه وکړي بیا به څنګه کېږي»؟ له سترګو یې غټې غټې اوښکې تویي شوې. لور یې هم د مور پر اوږه سر کېښود او په سلګیو شوه.

قیزلرشاه او مور یې په ګډه د اچیل تاغه خدمت کاوه. ډول ډول خواړه به یې له سبزیجاتو، پالکو، پودینه او نورو څخه ورته تیارول. ویټامین لرونکي درمل به یې ورکول چې د ښار له درملتون یې اخیستي وو. دوه اونۍ نورې هم تېرې شوې. یوه ورځ سهار وختي د اچیل تاغه غږ واورېدل شو چې لور ته یې چیغې وهلې:

«لورې»!

«راغلم، پلاره»!

«راشه لورې! نن یو څه تکړه او روغ یم. سر مې نه خوږېږي. مور ته دې ووایه، له شیدو سره یو څه اړوب هم تیار کړي، زړه مې کېږي کوځې ته ووځم.

څو شېبې وروسته یې خواړه ورته راوړل. اچیل تاغه په خوند سره ډوډۍ خوړه. په تندي یې خولې روانې وې.

اچیل تاغه په لړزېدلي او ورو غږ وویل:

«زما امسا راوړئ»!

نازي خال، بوډا ته په یوه شېبه کې امسا راوړه.

ښځې، مېړه او قیزلرشاه یو له بل سره د زړه درد شریک کړ. ناروغه پلار وویل:

«پوهېږې ښځې، روح مې په ویښته راځړېدلی و. ډېر وېرېدلی وم، له ځان سره مې ویل. اچیله! د نړۍ پایه نه یې، د قرلیزشاه غم ډېر پرېشانه کړی وم.

هغه په سختۍ له ځایه پاڅېد او پر پښو ودرېد. امسا یې په لاس کې واخیسته، په انگړ کې یې قدم واهه. د نازي خال پر شونډو مسکا خوره وه ورته ویل یې:

«د خدای ج شکر دی چې جوړ شوې. قیزلرشاه ستاسې ډاکټره وه. همدې نجلۍ له مرگ وژغورلې. هر وخت به یې درته ویل روحیه له لاسه مه ورکوئ، د هغې همدې خبرو تاسې ته قوت درکړ.

«رښتیا وایې، مهربانو سترگو او شپه ورځ هڅو یې ماته ځواک راکاوه. پوهېږې خوب مې ولید. په کور کې ټول را ټول دي. ښځې دریا وهې او نجونې گډېږي. تاسې قیزلرشاه په غېږ کې نیولې وي. زه ورته دعا کوم. په یو سور دستمال یې ملا ورتړم. خپل ځان نه شم کنټرولوی او ژاړم».

«خوب دې یوسف پیغمبر(ع) تعبیر کړی دی. تاسې روغ شوئ. خدای پاک مهربانه دی. په همدې شېبه د قیزلرشاه مبایل ته زنگ راغئ.

«اورم، اورم، ستړی مشې، څوک یاست؟ له روغتون خبرې کوئ؟ هو، هو زه د اچیل تاغه لور یم. ښه ښه، د پلار پایله مې راغلې ده. څنگه وه ډاکټر صاحب؟ د خدای شکر جوړ شوی، هو جوړ شوی، ډېر ښه، مننه ډاکټر صاحب».

# وصیتپانه

اسدالله له خپلې مېرمنې او لور سره کابل ته په مېله تللی دی، هغه غواړي د کابل تاریخي سیمې له خپلې کورنۍ سره یو ځای وویني. د هغوی د سیاحتي سفر دوې ورځې لا نه وې وتلې چې په یوه مېلمستیا کې یې په کابل کې په کرونا ناروغۍ د لسو تنو د اخته کېدو خبر او د عامې روغتیا وزارت له لوري د دې ناروغۍ د مخنیوي له پاره ګڼې سپارښتنې واورېدې. د دې خبرونو په اورېدو سره ووېرېد او په دې تکل شو چې ژنګه بېرته خپل ولایت ته لاړ شي. خپل چکر یې نیمګړی پرېښود، سهار وختي د ملا له اذان سره له خوب را پاڅېد. د ټرانسپورټي شرکتونو په لور روان شو او یوه ټکټ پلورونکي ته یې ووول:

«وروره د مزار شریف دوه ټکټونه راکړه»!

خبر نه یې؟ دوه ورځې کېږي چې ولایتونو ته د لویو موټرونو تلل منعه شوي دي، ښه ده له وړو موټرو سره خبرې وکړې».

د اسدالله وېره لا پسې زیاته شوه. هغه یې تر ځان او مېرمنې وړې لورکۍ ته فکر وړی و، په همدې پرېشانۍ او وېره کې یې د وړو موټرونو د درېدو ځای وموند. په یوه ټکسي کې یې د وړو موټرونو اډې ته ځان ورساوه، په

نوبت کې د درېدلو کورولاوو له موټروانانو یې وپوښتل څه وخت حرکت کوي، خو له هېڅ یوه یې سم ځواب وانه ورېد. پخوانیو پروگرامونو او کرایو ټولو بدلون کړی و. یوه ډرېور اسدالله ته مخ کړ ویې ویل:

«وروره ځان مه سرگردان کوه! دا موټرونه د پخوا په څېر یو او دوه سواري نه اخلي، یوازې دربست ځي».

«فرق نه کوي، دربست دې وي».

«راځئ، زه مو ورسوم».

«سمه ده، کرایه مو څومره ده»؟

«پنځه لس زره افغانۍ».

«دا څه وایې، یو څه انصاف وکړئ. موږ پنځه ورځې مخکې په پنځه زره افغانۍ راغلو».

«ورورجانه، درې ورځې مخکې په قیر سړک او مستقیمه لاره راغلی یې، اوس به د فرعي کوڅو او خامو سړکونو له لارې ځو ځکه کرایه لوړه ده».

اسدالله موټروان په ډېرې خوارۍ په دوولس زرو راضي کړ او په موټر کې کښېناستل. له موټر یې مېرمنې ته زنگ وکړ چې د تگ له پاره چمتو شي، د هغو خلکو کور ته چې دوی ورسره مېلمانه و ورسېد، مېرمن او لور یې د تگ له پاره د دروازې په خوله کې ولاړ وو. له کوربنو سر له خدای پامانۍ وروسته په موټر کې کښېناستل او له لس ساعتونو ستړي مزل وروسته مزار شریف ته ورسېدل. له هغه ځایه یې بل دربست موټر ونیو او شاوخوا اته بجې په شبرغان ښار خپل کور کې وو.

که څه هم اسدالله ته هغه اندېښنې چې په کابل کې پیدا شوې وې اوس کمې وې، خو بیا یې هم طبي سپارښتنې ښې رعایت کولې. هیله یې لرله چې د ولایت مسؤلین به د دې ناروغۍ د مخنیوي له پاره اړین گامونه واخلي او د یوه مجهز روغتون په جوړولو سره به د کرونا ناروغان وژغوري، خو د دې خلاف یې د ماښام په خبرونو کې له سیمه ییزو رسنیو واورېدل،

په شبرغان کې به د هغو مړیو له پاره یوه پراخه ځمکه ځانګړې کړي چې د کرونا په ناروغۍ مړه کېږي. د دې خبرې تر اورېدو وروسته یې په ناهیلۍ له ځان سره وویل:

«له بده مرغه، د روغتون جوړولو او د خلکو د روحیې لوړولو پر ځای، هدیرې جوړوي او بیا دا ناوړه چاره په تلویزیونونو کې هم ښیي».

یوه میاشت ووته، د غبرګولي په تودو ورځو کې سره له دې چې اسدالله روغتیایي سپارښتنو ته ښه پاملرنه کوله، له سختې سر دردۍ سره مخ شو. هغه په شک او اندېښنې سره، پرته له دې چې چاته ووايي، مزارشریف ته روان شو. هلته یې د کرونا د تشخیص یوه مرکز ته خپله د وینې نمونه د کتنې له پاره ورکړه او بېرته شبرغان ته را وګرځېد. د بشپړ احتیاط له کبله یې له هېچا سره ونه لیدل. د خلکو له ګڼې ګونې لیرې پاتې شو. تر دې چې د کورنۍ غړو ته یې هم نژدې نه شو. په درېیمه ورځ یې ټلیفون ته زنګ راغی:

هلو، اسدالله یاستئ؟

هو، خپله یم.

«له بده مرغه ستاسې د کرونا د ټېسټ پایله مثبت وه. تاسې باید په کور کې پاتې شئ. که مو نفس تنګي پیدا کړه، کوم روغتون ته ځان ورسوئ. له دې پرته له یوه متخصص ډاکټر سره په اړیکه کې شئ او تداوي مو وکړئ. تاسې ته د ښې روغتیا په هیله یو».

اسدالله د دې خبرې په اورېدو سره د انګړ په یوه بېله برخه کې د ځان له پاره یوه کوټه وټاکله او خپلې مېرمنې ته یې وویل:

«ګرانې، زه کرونا ناروغۍ نیولی یم. تاسې ځان ته پام وکړئ. زه مې ځان ته پام کوم. پلار، مور او ایسلطان لور مه پرېږده، زما کوټې ته راشي».

«ډوډۍ، اش او چای به مو څنګه کېږي»؟

«خدای پاک مهربانه ذات دی، لاړه شه څه چې مې وویل، عمل پرې وکړه»!



وروسته اسدالله ماسک او لاسپوښوني واخیستل او د بازار په لور لاړ. له بازار یې ځان ته بېلابېلې مېوې او سابه واخیستل او له ځان سره یې کوټې ته راوړل.

د اسدالله سر پرلپسې درې ورځې داسې درد وکړ چې د غاښ ایستلو په وخت کې یې هم نه و کړی. په داسې حالت کې یې هم د ځان خوښ ساتل هېر نه کړل. په موبایل کې به یې مستې سندرې غږولې. د ورځې به یې پنځه شپږ ځلې حمام کاوه. د حمام د ننه به یې هم مستې سندرې اورېدې او له هغه سره به یې یو ځای زمزمه کولې. په دې کار سره به یې ښه احساس کاوه.

د اسدالله له پاره به یې مېرمنې په یو وار مصرف لوښو کې درې وخته ډوډۍ راوړه او د دروازې تر څنګ به یې ورته ایښوده. هغه به تر ډوډۍ خوړلو وروسته لوښي په توره پلاستیکي کڅوړه کې اچول او وروسته له هغه به یې کڅوړه د کثافاتو په سطل کې اچوله. هغه به هر وخت تر ډوډۍ خوړلو مخکې د ویټامین سي ګولۍ په یو ګیلاس اوبو کې اچولې او بیا به یې ګیلاس په سر اړاوه. د مېوې خوړلو وخت یې ټاکلی نه و، هر وخت به یې چې زړه ورته وشو وبه یې خوړه. لیمو به یې له پوستکي سره خوړ، پیاز به یې په ځمکه کېښود په سوک به یې وواهه، لومړۍ لایه به یې ترې لیرې کړه او پاتې پیاز به یې همداسې وخوړ. ترکاري به یې له دوه وخته ډوډۍ سره یو ځای نوش جان کوله. درې ورځې وروسته یې سر دردي یوڅه کمه شوه. خو ټوخی او پرنجی ورته پیدا شول. داسې سخت ټوخی چې ستوني به یې درد ورسره کاوه او پرنجی به یې هم ډېر و چې پوزه به یې سره ورسره اوښتې وه. اسدالله ډېر ووېرېد. یوه متخصص ملګري ته یې زنګ وواهه:

السلام علیکم ډاکټر لالا!

«وعلیکم السلام، اسد جانه چېرې یې»؟

«ډاکټر لالا، تاسې ته مې احوال نه و درکړی، کرونا نیولی یم. څو ورځې کېږي په کور کې قرنطین یم. سر دردي مې یو څه ښه شوې ده، خو داسې

ټوخی او پرنجی راته پیدا شوی چې هېڅ مې نه پرېږدي.

«زه اوس راځم او له نژدې دې ونیم».

پنځلس دقیقې لا نه وې تېرې شوې، متخصص راغی او د اسدالله کوټې ته ور ننوت. سیروم او اړین درمل یې ورته ولیکل او نسخه یې د اسدالله وروړ حفیظ‌الله ته ورکړه. حفیظ‌الله د کوڅې له درملتون درمل راوړل. ډاکټر اسدالله ته یې کنول ولگاوه او سیروم یې ورته تېر کړل. په سېروم کې یې ډېرې پیچکارۍ ور گډې کړې او د پاتې درملو د کارولو چل یې ور زده کړ، په همدې سره ډاکټر خدای پاماني وکړه او له کور څخه ووت.

اسدالله به خپل فېسبوک نه پرانیست، ځکه چې ډېری وخت به په کرونا د مړینو خبرونه پکې خپرېدل او اندېښنه به یې ورسره ډېرېده. د هغه پر ځای به یې له یوټیوب څخه مستې اوزبېکې سندرې ډاونلوډ کولې او اورېدې، په دې سره به یې د یو څه وخت له پاره خپلې اندېښنې هېرولې. له دریو ورځو وروسته یې ټوخی او پرنجی کم شو، خو نفس تنگي ورته پیدا شوه. کله به یې چې نفس تنگ شو نو اوبه به یې د منقل له پاسه اېښودې، د جوش اوبو لوښی به یې تر بړستن لاندې کړ چې بخار یې تنفس کړي. له دې سره به یې نفس تنگي یو څه ښه کېده، ځینې وخت به یې د سمې سا ایستلو له پاره چوکۍ تر شاور لاندې کېښوده او تر هغې به شاور ته ناست و چې تودې اوبه به تمامې شوې. په دې سره به یې نفس تنگي کمېده.

اسدالله چې دردونو پسې اخیستی و، په فکرونو کې ډوب و. یوه شپه یې خپله مېرمن را وغوښته، یوه پاڼه یې په لاس کې ورکړه او ورته یې وویل:

"هرڅه چې په دې پاڼه کې لیکل شوي، عمل به پرې کوې".

مېرمنې یې پاڼه پرانیسته او په لوستلو یې پیل وکړ:

"گرانې، زما د ژوند پرښتې! که زموږ گډه اړیکه اخیرت ته پاتې شوه، ای‌سلطان لور ته مې ښه روزنه ورکړه او لوړو پوړیو ته یې ورسوه! زه پرته له هغو نقدو پیسو چې له تاسې سره دي، نورې نه لرم، هغه زما په تجهیز او

تکفین ولګوه چې مړی مې د مور او پلار پر اوږو بار نه شي. انجنیر امین له ما څخه پنځه زره ډالر پوروړی دی، هغه چې نوم یې امین دی یادې پیسې به تاته درکړي. هغه به زموږ د لور ای‌سلطان په زده کړو ولګوي. اته لکه افغانۍ په عزیزي بانک کې پس انداز لرم، که غواړې را ویې باسه، که نه نو له کلني ګټې به یې ورځني لګښتونه کوي. که مې کوم وخت بد درته ویلي وي، هېڅ وخت مې بد نه دي در باندې لورېدلي. په هر حال له ما مه خپه کېږه".

د دې کرښو په لوستلو سره مېړه او مېرمنې اوښکې تویې کړې او تر ډېره یې یو بل ته وکتل، ښځې غوښتل کوټې ته د ننه شي، خو اسدالله هغې ته په ډېر ټینګار اجازه ورنکړه او ورته یې وویل:

«که مینه راسره لرې، نو د دې لیک په هکله به چاته څه نه وایې ځکه چې زما وضعیت لا تر اوسه معلوم نه دی.

په همدې شپه اسدالله ته هېڅ نفس تنګي پیدا نه شوه. په ارامۍ یې خوب وکړ او سهار وختي پاڅېد. مخ او لاسونه یې پرېمینځل، سندرې یې اورېدې چې مېرمنې یې د سهار چای ورته راووړ. څلور جوش کړې هګۍ یې له یو ګیلاس شیدو سره په اشتها نوش جان کړې، خو په خوند یې پوه نه شو او پام یې شو چې د خوند حس یې هم کار نه کوي، د عطرو بوتل یې پوزي ته نږدې کړ، پوه شو چې د بوی کولو حس یې هم کار نه کوي.

له دې سره یې هم ځان د تېر په څېر پیاوړی او ځواکمن احساس کړ او دا موضوع یې له متخصص ډاکټر سره شریکه کړه. ډاکټر د هغه له بشپړې روغتیا ډاډ ورکړ او ورته یې وویل، د دې ناروغۍ واړه عوارض هم ورو ورو له منځه ځي. له دې سره سره اسدالله درې ورځې په قرنطین کې پاتې شو. په پای کې یې حمام وکړ او نوي کالي یې واغوستل، خپلې کوټې ته لاړ او له مېرمنې سره یې روغبړ وکړ او په مسکا یې هغې ته وویل:

«اوس کولای شې وصیتپانه څیرې او ایسته یې واچوې».



## د ویرې او مړینې ورځې[1]

د ۱۳۹۹ل کال پسرلی د کرونا ناروغۍ د ویرې او وسوسې له سېلاب سره را ورسېد. هره ورځ به چې لمر د میمنې له غرونو را پورته کېده، لکه د اسمان په زړه کې چې د کرونا ناروغۍ د مرګونې له خپرېدو څخه کړوپ روان وي. زما پر غاړه چې د فاریاب ولایت مشري وه، د داسې یوه حالت په اړه له هرڅا لومړی زه پرېشانه وم او له ځان سره به مې ویل:

که وضعیت مدیریت نه کړای شم، څه برخلیک به ولرم؟

که خدای مه کړه ښار او کلی له مړو ډک شي، څه به پېښ شي؟

خو د ویرې او وسوسې په دې ګرداب کې، د دې ولایت د څوارلسو ولسوالیو د خلکو په څېره کې کوم د ویرې او ډار څرک نه تر سترګو کېده، ځکه چې خلکو د داسې زړه بوږنوونکې پېښې عیني تجربه نه وه ترلاسه کړې یا یې هم د دې مرګونې ناروغۍ په اړه په بشپړه توګه نه پوهېدل.

په لومړیو ورځو کې چې دا ناروغي له چین ایران ته ورسېده، پر ما او د

۱. راوي: ډاکټر نقیب الله فایق/ لیکوال: علي پیام

فارياب د نورو مسؤلينو پر وړاندې انديښنه پاروونکې شوه. ځکه په ايران کې زموږ کډوال هېوادوال، د ناروغۍ له وېرې بېرته د هېواد په لور د راستنېدو په حال کې وو چې په پايله کې د خلکو تر منځ د دې ويروس د لېږد او خپرېدو لامل و.

له کرونا سره د مبارزې او کنټرول په لومړيو ورځو کې مو د ولايت له مسؤلينو سره گډې ناستې وکړې ترڅو وکولای شو د ولايت په څوارلسو ولسواليو کې د دې ناروغۍ د مخنيوي له پاره روښانه او ټولنيز پلانونه برابرو و.

له دې وژونکې ناروغۍ څخه د خلکو د بې پروايۍ په اوج کې چې انديښنو مې په ټول بدن کې ريښې غزولې وې، دا چې زه لومړۍ درجه مسول او د دې ولايت والي وم، دا مې مسوليت و داسې يو پلان جوړ شي چې خلکو ته هيڅ ډول زيان ونه رسېږي. نو له دې کبله مې له کرونا سره د مبارزې او د هغې د خپرېدو په لومړيو ورځو کې حکومتي فرمان صادر کړ چې د هغه پر بنسټ هغه کډوال چې له ايران څخه خپل ټاټوبي ته راځي بايد لږ تر لږه دوه اونۍ په کور کې قرنطين، يوه کوټه ورته بېله شي او له هېچا سره اړيکه ونه لري ترڅو له دې لارې د کرونا ويروس د خپرېدو مخنيوی وشي.

نظر زما طبي زده کړو او پوهې ته، د ولايت د طبي ډلې د مشورې په مرسته مې د روغتيايي ټکو په هکله خلکو ته داسې خبر ورکړ:

۱. له ايران راغلي مسافرين او کډوال دې لږ تر لږه په کور کې دوه اونۍ قرنطين پاتي شي.

۲. هر څوک چې په خپل وجود کې تبه، ټوخی او نفس تنگي احساس کړي، بې له ځنډه دې روغتيايي مرکزونو ته مراجعه وکړي.

اما دې ته په پام سره چې د تېرو تاريخي وژونکو ناروغيو لکه توره مرينه، اسپانيايي طاعون او ايبولا او داسې نورو په څېر ناروغيو په اړه د پوهاوي د نشتوالي له کبله هغوی حکومتي فرمان ته کومه ځانگړې پاملرنه ونه کړه چې

روغتيايي مقرراتو ته د همدې نه پاملرنې په پايله کې راتلونکې اونۍ موږ هره ورځ د لسګونو نارينه وو، ښځينه وو او ځوانانو د مړينې او تدفين شاهدان وو. د مرګ او مړينې په ډېرېدو سره، خلک ورو ورو د دې ويروس وژنو او زيان ته متوجه شول چې نه ښايي د دې وژونکې ناروغۍ پر وړاندې بې احتياطي وکړي.

موږ معلومات ترلاسه کړل چې د کرونا ويروس له خپرېدو سره له ايران څخه، له شل زرو زيات د فارياب اوسېدونکي هېواد ته راغلي، نو د دې پر بنسټ د وېرې او انديښنې څپو زما او زما د ولايتي کاري ډلې په رګونو کې ريښې کړې وې. پر دې وژونکې هيولا د برلاسۍ له پاره په داسې شرايطو کې چې خلکو همکاري نه کوله او ډېری بېرته راستنېدونکي د طالبانو تر



نفوذ لاندې سیمو ته تلل چې دې چارې زموږ اندېښنې نورې هم ډېرولې.

وروسته مې له کرونا ویروس سره د مبارزې په دویمه ورځ، ټوله روغتیایي ډله، د رسنیو کار کوونکي، د مدني ټولنې غړي، مشران او سپین ږیري د ولایت په مقام کې خپل کاري دفتر ته را وغوښتل او یوه بېړنۍ غونډه مو برابره کړه ترڅو د کرونا ویروس له هیولا څخه د خلکو ژغورلو په برخه کې د پام وړ پلان ترتیب کړو. ما په دې غونډه کې د دې ناروغۍ د خپرېدو په ګوانښ او له هغه سره د مبارزې په هکله وینا وکړه او هغې ډلې ته مې وویل:

«دې ته په پام سره چې دې ناروغۍ له ښو روغتیایي امکاناتو سره سره هم د پرمختللې نړۍ د ډېرو وګړو ژوند اخیستی، دې وژونکې هیولا ډوله ناروغۍ ټوله نړۍ په خپل ورغوي کې نیولې او له بده مرغه زموږ د ګڼ شمېر ښاریانو د نه پاملرنې له کبله د ډېرو هېوادوالو د ژوند د پای ته رسېدو لامل شوې ده. موږ باید یو څه تدابیر ونیسو، په دې تدابیرو کې تر یوې میاشتې له خوراکه پلورونکو هټیو پرته د نورو ټولو دولتي ادارو، سوداګریزو او خرڅلاو مرکزونو بندول شامل وو ترڅو وکولای شو د دې خونړۍ ناروغۍ پر زیانونو برلاسي شو، که داسې ونکړو نو داسې ورځ به راشي چې د دې ولایت هره څنډه به د مړو بوی نیولې وي».

وروسته د ولایت د عامې روغتیا رییس د غونډې غړو ته، اړین روغتیایي معلومات وړاندې کړل او په خپلو خبرو کې یې وویل:

موږ وقایوي او روغتیایي وسایل او جامې نلرو. د بېلګې په توګه په کرونا ویروس ککړ کس سره د اړیکې پر مهال د ډاکټرانو او نرسانو ځانګړې لباس نلرو او دا وسایل په بازار کې هم نه موندل کېږي. په هره بیه چې وي باید دا وسایل برابر کړو ترڅو وکولای شو له مرګ څخه د خپلو هېوادوالو ژوند وژغورو.

موږ باید خپل هر مدیریتي پروګرام داسې جوړ کړی وای چې په لږ وخت کې ډېر څه ترسره کېدای. په همدې اړه مې په دې غونډه کې خپل

ساتونکي ته وویل، ژر تر ژره یو څو تنه ورړ خیاطان د غونډې تر پای پورې حاضر کړي. له لسو تر پنځلسو دقیقو پورې غونډې ته شپږ تنه خیاطان حاضر شول.

مخکې له دې چې وخت ضایع کړو، همغه شېبه مې د مېز له جعبې خپل فلش را واخیست او د دفتر رییس ته مې ورکړ چې په ټلویزیون کې یې ښکاره کړي. په فلش کې ډېر او بېلابېل معلومات د ډاکټرانو له پاره د کرونا ویروس پر وړاندې د ځانګړي لباس جوړولو او د ټول ولس له پاره د ماسک کارونې په اړه وو چې په معلوماتو کې خیاطانو ته د خپل کار د ترسره کولو په برخه کې ښه نظرونه شته وو چې له کرونا سره په مبارزه کې مرسته وکړي.

وروسته خیاطانو د کار له پاره خپل چمتووالی وښود، د دوی له ډلې نیک محمد خیاط وویل:

دا کار ډېر اسانه دی، تاسې ډاډه اوسئ . موږ به دا وسایل په ډېر لږ وخت کې چمتو کړو.

د هغې ورځې غونډه ډېره ښه وه. په همدې غونډه کې د هغو کسانو درملنه او ساتنه چې په کرونا ناروغۍ اخته او یا هم مشکوک وو او د کتنو پایلې یې تر اوسه له بلخ ولایت څخه نه وې راغلې او همدارنګه په دې جلسه کې د کرونا د روغتیایي ځانګې د ډاکټرانو او متصدیانو ټاکل وشول. له خبرتیا وروسته رسنیو ته، د روغتیایي اصولو د رعایت او د قرنطین د شرایطو په هکله پوهاوی وسپارل شو.

راتلونکې ورځ هم په وبرې او اندېښنې سره پیل شوه او لمر هم د دې له پاره چې د ژوند دوام وښيي د غرونو له شا را ښکاره شو. په دې ورځ مو هم غونډه وکړه، د غونډې بنسټیزه موضوع د کرونا له ویروس د وبرې ډېرېدل وو.

د غونډې په بهیر کې ناڅاپه خیاط نیک محمد له یوه جوړ لباس او لس دانو ماسکونو سره راغی، د خپل کار د بېلګې او دا چې څومره لګښت

پرې کېږي راپور یې راکړ. د خیاط کار مو خوښ شو، ځکه چې دې کالیو د بهرنیو کمپنیو له جوړو شوو کالیو سره ډېر توپیر درلود. د بېلګې په توګه که یو جوړ بهرنی لباس په اووه سوه افغانیو تمامېده، د خیاط نیک محمد یو جوړ لباس په څلور سوه افغانۍ تمامېده. سربېره پر دې د خلیفه نېک محمد او د هغه د ملګرو خیاطانو ګنډل شوي کالي د بهرنیو کالیو په پرتله بله ښېګڼه دا وه چې څو ځله وینځل کېدل خو بهرني کالي یو وار مصرف وو.

وروسته مې خلیفه نیک محمد ته فرمایش ورکړ چې خپل ولس ته د خدمت له پاره شپه او ورځ کار وکړي ماسک او کالي وګنډي. په پای کې مې پنځه سوه زره افغانۍ د رخت او داسې نورو توکو د چمتو کولو له پاره ورکړې.

ورځې ترخې، له وېرې او وژونکې چوپتیا ډکې وې. هرڅه د مرګ خبر ورکاوه. له نېکه مرغه وتوانېدو، په ټول ښار کې قرنطین پلی کړو. بازارونه، سړکونه او کوڅې غلې او ډاروونکې وې. ځینې وخت به په کوڅو کې یو یا دوه تنه د سیوري په څېر سرګردانه لیدل کېدل او دا سرګردانه خلک به د اړتیا وړ وسایلو د پیدا کولو له پاره په بازارونو کې ورکېدل او وروسته به پټ پټ د خپل کور د دروازې په لور تلل او په کور کې به غلي شول.

د کرونا ویروس خپرېدل ډېر شوي وو. هره ورځ د مرګ او هدیرې خبره وه. هره ورځ به لږ تر لږه لس جنازې په جومات کې څنګ تر څنګ اېښودل کېدې چې هدیرې ته یوړل شي. په ښار کې د مرګ بوی لګېده. هر چا به په دې ناروغي د اخته کېدو او مرګ ته شېبې شمارلې.

هره ورځ د جنازې د مراسمو اعلانونه وو. لاوډسپیکرونو به تل د مړینې خبرتیاوې خپرولې او ټولنیزو شبکو هم همداسې خبرونه خپرول چې د خلکو ارواوې یې وېرولې او اوږه کولې.

د دې له پاره چې د خلکو تر منځ د وېرې، اندېښنې او پرېشانیو کچه کمه شي، دستور مې ورکړ، نور دې د جنازې خبرتیاوې د مسجدونو له

لاوډسپیکرونو نه اعلانېږي او نه به هم څوک د مړینې د مراسمو په هکله د تېلنیزو شبکو له لارې خبرتیاوې ورکوي ترڅو د خلکو اندېښنې یوڅه کمې شي.

سره له دې چې د ولایت رهبري مې پر غاړه وه، ترڅنګ مې یې پرېکړه وکړه خپله تخصصي او تحصیلي دنده هم ترسره کړم. له طب پوهنځي د فراغت پر مهال مې خپل ولس ته د صادقانه خدمت قسم یاد کړی و. له همدې کبله مې هوډ وکړ د ولایت پر رهبری سربېره، د امکان تر کچې کلیو، ښارونو او لیرې پرتو سیمو ته لاړ شم او د خلکو حالت له نژدې مدیریت کړم. نو ځکه مې له صندوق سپینې طبي جامې را واخیستې او له خپلو نورو هم مسلکانو سره مې یو ځای په ځینو کورونو او کلیو کې پل کېښود او په کلیو او بانډو کې مې د دې وژونکې ناروغۍ د مخنیوي لارې چارې ورته وښودې.

یوه ورځ مې واورېدل چې ښار ته نژدې یوه کلي کې د عبدالسلام په نوم یو کس په کرونا ویروس اخته شوی دی. له ګمارل شوو ډاکټرانو سره یو ځای د روغتون په امبولانس کې کلي ته ورسېدو ترڅو نوموړی او د هغه کورنۍ له دې مرګونې ناروغۍ وژغورو.

د عبدالسلام د کور له پیدا کولو وروسته، یوه ډاکټر د کور دروازه ټک ټک کړه. له یوڅه ځنډ وروسته، یوه نوراني ځوان دروازه پرانیسته ویې ویل:

خیریتي ده؟

ډاکټر وویل:

هو خیر او خیریت دی، موږ اورېدلي عبدالسلام یو څه ناروغ دی. موږ ډاکټران یو د هغه پوښتنې او مرستې ته راغلي یو. ځوان، یو ځلې د کور په دروازه کې وېرېدلی او اندېښمن شو او وروسته یې په تریو تندي او تېزه ژبه وویل:

«دلته عبدالسلام او مبدالسلام نشته. لاړ شئ چې دربانديې ناوخته نه

شي».

ډاکټر د ځوان په لوري وکتل او په ډېره ارامه ژبه او درناوي يې ورته وويل:

«گرانه وروره! د کلي له خلکو مو پوښتنه کړې. ټولو ويل همدا د عبدالسلام کور دی. خدای دې نه کړي موږ د کوم ناوړه هدف له پاره نه يو راغلي. موږ له ليرې راغلي يو او اوږد مزل مو کړی چې ستاسې له ناروغ سره مرسته وکړو. موږ ډاکټران يو او د هغو ژمنو پر بنسټ چې موږ يې لرو بايد له ناروغ سره مرسته وکړو او د روغتيا له پاره يې هڅه وکړو».

ځوان يو څه تند شو او په غوسه ناکه لهجه يې وويل:

«لاړ شئ چې درباندې ناوخته نه شي. وايئ ډاکټران يو، ښکاري بې پيسو شوي ياست او اوس غواړئ له دې لارې پيسې پيداکړئ».

ډاکټر بيا هم هڅه وکړه ځوان په ارامي سره قانع کړي ډاکټر وويل:

« گرانه قدرمنه وروره»!

له دې خبرې سره يې ډاکټر ته يوه مضبوطه څپېړه ورکړه. ټولو ډاکټرانو ته يې د پوچ او پاش په ويلو پيل وکړ او غوښتل يې کور ته ننوزي او د کور دروازه له شا پسې بنده کړي.

ما تر هغه وخته يوازې ننداره کوله، خو د دې وضعيت په ليدو سره مې خپل هغه ساتندويان چې په پنځه سوه متري واټن کې ولاړ وو، د مخابرې له لارې را وغوښتل او وروسته مې له مخ دستمال ليرې کړ چې مخ مې پرې پټ کړی و.

ځوان زما په ليدو پر خپل ځای لکه وچ لرگی پاتې شو. خپلو ساتندويانو ته مې وويل ځوان په موټر کې واچوئ او خپله له ډاکټرانو سره کور ته ننوتم او هغې کوټې ته چې عبدالسلام پکې ويده و لاړم.

عبدالسلام يوه اونۍ مخکې له ايران راغلی و. پنځه ورځې کېدې سخته تبه، ټوخی او ځان درد يې درلود. اشتها يې نه لرله او د ناوړه تبليغاتو له کبله

هېڅ روغتیایي مرکز، ډاکټر او روغتون ته تللی نه و او له کورنۍ سره یې په یوه کوټه کې ژوند کاوه.

هرڅه ډېر په بېړه روان وو. هغه ځوان چې د دروازې په خوله کې یې ډاکټر په څپېړه وهلی و او هغه ناروغ چې د دې ناروغۍ له کبله په ناوړه وضعیت کې و، سره ورونه وو. ډاکټرانو د معایناتو پر بنسټ وښوده چې عبدالسلام په کرونا ویروس اخته دی. ډاکټرانو غوښتل عبدالسلام روغتون ته یوسي خو د عبدالسلام اویا کلنې مور او د کورنۍ غړو غالغال وکړ او روغتون ته یې د عبدالسلام د بېولو مخه ونیوه.

پر دې مهال مې دې کورنۍ ته وویل:

«نه یوازې عبدالسلام بلکې تاسې ټول باید معاینه شئ. د دوی د خبرو په کیسه کې نه شوم، روغتون ته د عبدالسلام، د هغه پنځلس او اووه لس کلنو زامنو، مېرمنې او مور ټولو د بېولو امر مې وکړ».

پر دې مهال د عبدالسلام بوډۍ مور مخ را واړاوه ویې ویل:

«که دوی بیایئ، بویې زئ خو زما مړی یوه پیسه ارزښت هم نه لري، ما پرېږدئ چې کور وساتم».

په پای کې مو روغتون ته د عبدالسلام په ګډون د دوی د کورنۍ د دریو غړو په لېږد سره په دې کلي کې زموږ د کرونا د ناروغۍ د تجربو او مسؤلیتونو دوره پای ته ورسېده او په دې سره د بل کلي په لور لاړو».

بل کلي ته لاړو. کلی له مرګ او ژوند سره لاس او ګرېوان و، هماغه ورځ په دې کلي کې پنځه مېرمنې مړې شوې وې. په کلي کې د مړو بوی لګېده. کلی ژړاوو او سلګیو په سر اخیستی و او د کرونا ویروسو خلک په دره وهل.

موږ غوښتل د یوه مړي کور ته د غم شریکۍ له پاره لاړ شو، هلته د ښځو د ژړاوو او سلګیو چیغې تر اسمان رسېدې.

د کور انګړ له مېرمنو ډک و چې په یوه تابوت را ټولې وې، چیغې او وېر

یې کاوه.

له ځان سره مې وویل:

«که وضعیت په داسې بڼه مخکې لاړ شي، د کرونا ویروس به ټوله سیمه ونیسي او د کلي هره څنډه به له جنازو ډکه شي.

نژدې ورغلم دستمال مې له مخ لیرې کړ او په لوړ غږ مې ښځو ته وویل:

«درنو غمجنو خویندو او میندو! تاسې کولای شئ، له جنازې یو څه لیرې ویر وکړئ او مړي ته دعا وکړئ. په داسې شرایطو کې چې قرنطین لومړیتوب دی، اړینه نه ده چې تاسې له یو بل سره دومره نژدې کښېنئ».

زیاته مې کړه:

"دغې وژونکې ناروغۍ چې ټوله نړۍ یې په ویر کښېنولې، غوره به وي کورونو ته لاړې شئ، روغتیایي او وقایوي لارښوونې چې د ټلویزون او راډیو له لوري وړاندې کېږي واورئ. تاسې خویندې او میندې د خپلې کورنۍ د غړو له پاره یوه نمونه یاست. له تاسې هیله کېږي خپل لاسونه هره ورځ له پنځلسو تر شلو دقیقو پورې په اوبو او صابون ومینځئ. هغه کسان چې د کرونا ناروغۍ شک پرې کېږي، روغتون ته یې ورسوئ. هغه کسان چې له ایران راځي باید چې لږ تر لږه دوه اونۍ په یوه بېله کوټه کې قرنطین کړل شي".

د خبرو په اورېدو سره ښځې د خپلو چادریو په سر کولو سره یو پر بل پسې له جنازې لیرې شوې او د وتلو پر مهال مې اورېدل چې ویل یې:

"مور د دې له پاره راغلې وو چې د مړي کورنۍ خفه نه شي، که نه له خپل ژوند نه یو ماړه شوي. وروسته یې ماته دعا وکړه او جنازه یوازې پاتې شوه".

مور په هغې ورځ څو کلیو ته لاړو او له خلکو سره مو له نژدې ولیدل او مسؤلانه خبرې مو ورسره وکړې او له دوی سره مو د ساتندویه او روغتیایي سپارښتنو په هکله لارښوونې وکړې. د مازیگر د لمانځه مهال بېرته ښار ته

راغلو او نېغ د کرونا ویروس ناروغانو پوښتنې ته د کرونا ځانګړي روغتون ته ورغلو.

په روغتون کې مو د هر ناروغ بېله پوښتنه وکړه دوی ته مو روحیه ورکړه چې د هېڅ شي په اړه اندېښنه ونه کړي:

«موږ تاسې ته د اړتیا وړ هرڅه چمتو کړي دي. لکه درمل، خواړه او اکسیجن. زموږ ګمارل شوي ډاکټران څلورویشت ساعته ستاسې په خدمت کې دي».

هغه ورځ مو د ماښام لمونځ خپل استوګنځي ته ورساوه.

پرېشانه او ځوروونکې ورځې یو پر بل پسې تېرې شوې، یوه اونۍ بشپړه شوه. د کرونا ناروغانو روغتون له ناروغانو ډک و. د کرونا د بستر شوو ناروغانو شمېر نژدې سل تنو ته رسېده چې لا یې هم له بلخ څخه د کتنو پایله راغلې نه وه. یوه ورځ د کرونا ناروغانو د پوښتنې له پاره روغتون ته لاړم عبدالسلام مې ولید. پوښتنه یې وکړه او ویې ویل:

ښه شوی یم، وروسته یې هغه ځوان ته چې د خپل کور په مخه کې یې ډاکټر په څپېړه وهلی و، اشاره وکړه او زیاته یې کړه:

«هغه هم اوس ښه دی، دغه ډاکټران هغوی نه دي چې په اړه یې ویل کېدل بلکې هر یو یې پرښته دی چې خدای زموږ مرستې ته رالېږلي دي. د خدای پاک ج شکر اداء کوم چې زما د اولادونو او مېرمنې د کتنې پایلې منفي وې او کور ته لاړل، خو زما بوډۍ مور د ډېرې تبې او تفس تنګۍ له کبله ساه ورکړه. مور مې روغتون ته نه راتله. خپله یې ځان ته مرګ وټاکه.

د عبدالسلام د اویا کلنې مور په اړه مې فکر وکړ چې ویل یې:

«که دوی له ځان سره بیایئ، بو یې زئ خو دا چې زما مړی یوه پیسه ارزښت هم نه لري، ما پرېږدئ کور وساتم».

د عبدالسلام د مور ګونځې مخ مې بېرته له سترګو پناه شو او پام مې شو په روغتون کې یم.

د مړینو او اندېښنو ورځې یو پر بل پسې تېرېدې او د کرونا ویروس د نامحدود او پټ لښکر په څېر، ښار او کلي تر پښو لاندې کول. خو دا چې د ولایت رهبري مې هم پر غاړه وه، دا وضعیت مې پر اوږو تر هرڅه درونډ و.




# پېريان[1]

د ۱۳۹۸لمريز کال د سلواغې نيمايي ده. له ايران څخه د کرونا ناروغۍ د خپرېدو اوازې د هرې ژبې پر سر پرتې دي. د ۱۳۹۸ لمريز کال د لېندۍ د څلورويشتمې ورځې راهيسې چې دغه ناروغي د چين په ووهان ايالت کې پيدا شوې وه، درې مياشتې يې تېرې شوې دي. په دې ناروغۍ د اخته کېدو له وېرې له ايران څخه ځينو افغان کډوالو بېرته افغانستان ته راتګ پيل کړی و چې شاوخوا ۳۰۰ کورنيو د ۱۳۹۹لمريز کال د وري مياشتې تر اووه لسمې نېټې پورې جوزجان ته بېرته راستنې شوې وې. له دې ډلې مسافرو څخه يو هم د ارباب حميدالله زوی حفيظالله دی.

حفيظالله د ۱۳۹۹ لمريز کال په غويي مياشت کې له هرات څخه شبرغان ته راغی. د شبرغان هوا ورو ورو د تودېدو په لور روانه ده او کرونا ويروسي ناورغي هم په ټوله نړۍ کې د خپرېدو په حال کې ده. په سخت ټوخي او تبې د شبرغان د ځينو اوسېدونکو اخته کېدل هم خوله په خوله

۱ ليکوال: علی پيام

شوي وو او ویل کېدل به چې حکومت د قرنطین کېدو حکم صادر کړی دی، خو خلکو حکومتي مقرراتو او قرنطین ته کومه ځانګړې پاملرنه او د درملنې له پاره ډاکټر او روغتون ته نه تلل.

سره له دې چې د افغانستان د روغتیا وزارت خبرتیا خپره کړې وه چې تر اوسه پنځه زره او ۲٦٦ وګړي په افغانستان کې په دې وژونکې ویروسي ناروغۍ اخته شوي چې له دې جملې ډلې ۱۳۲ وګړو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی، خو د جوزجان ولایت په ځانګړې توګه د شبرغان خلک روغتون ته د دې وژونکې ناروغۍ د مشکوکو ناروغانو له رسولو ډډه کوي.

حفیظ‌الله خپل کور ته رسېږي، د خوښۍ څپو یې د کور انګړ رانغاړلی و او د کورنۍ ټول غړي یې په لیدو سخت خوشاله وو، په داسې حال کې چې حکومت اعلان کړی و، هغه کډوال چې له ایران څخه هېواد ته را ستنېږي باید له دوو اونیو زیات په کور کې قرنطین شي، خو د حفیظ‌الله کورنۍ حکومتي اعلان شوی فرمان او د قرنطین مقرراتو ته په نه پاملرنې سره له ایران څخه راغلی حفیظ‌الله د نورو عادي ورځو په څېر په غېږ کې نیسي او خپل کورني ژوند ته ادامه ورکوي.

ورځې تېرېږي او په شبرغان کې د کرونا ناروغۍ نښې لیدل کېږي. حفیظ‌الله له هرات نه کور ته د راتګ له اوومې ورځې وروسته، نفس تنګي، تبه، ټوخی او په ټول وجود کې یې درد پیداکېږي. وروسته د حفیظ‌الله ناروغۍ ډېره شوه تر دې چې له تبې سره یې وېره هم یو ځای شوه.

اوس یې مور او پلار خپلو اولادونو ته اندېښمن دي او د چارې په لټه دي، دوی وایي:

«نه باید اولادونه له لاسه ورکړو. باید یوه حل لاره ورته ولټوو».

په داسې حال کې چې حفیظ‌الله په تبه او درد کې سوزي او هډوکي یې بند په بند خوږېږي او لکه مار چیچلی سره تاوېږي. حفیظ‌الله په همدې تبه او بې حالۍ کې مور او پلار ته وایي:

«ژر مې روغتون ته ورسوئ چې له تبې او درد خلاص شم».

د حفیظالله مور او پلار یې حالت په سترګو ویني چې زوی یې د ټوخي او تبې په اور کې لکه پاڼه چې په باد کې بنده پاتې وي لړزېږي.

د حفیظالله مور او پلار له یو بل سره خبرې کوي. وروسته د حفیظالله پلار ملک حمیدالله له کور بهر کېږي او غوجلې ته ځي. ملک حمیدالله خپله غوا چې د کور یوازینۍ پانګه او اقتصادي سرچینه وه، له غوجلې را باسي په غاړه کې یې پړی اچوي او له کور لیرې کېږي. څه شېبې نه تېرېږي چې د ملا صالح د کور دروازې ته چې د ښار نامتو تعویذ لیکونکی او کوډګر دی، رسېږي.

د ملا صالح د دروازې مخې ته څو نفره ولاړ دي. ملک حمیدالله څو شېبې درېږي. خلک له دروازې بهر کېږي خو ځینې د ننه ور ننوزي. ملک حمیدالله د هغوی خپلمنځي خبرې اوري چې وایي:

"زموږ ناروغ په تبه کې سوزي او دومره زیات ټوخېږي ته به وایې ساه ترې وزي، خو کېدای شي چې یوازې د ملا صالح تعویذ یې درد ته درمان شي او که نه نو له دغې د شیطان ځالې روغتون او ډاکټر هسې هم څه نه جوړېږي".

ملا صالح له کور راوزي. سترګې یې په ملک حمیدالله لګېږي چې له غوا سره د دروازې په څنګ کې ولاړ دی، حیرانېږي. سترګې یې د یوه الوتونکي مرغه په څېر ځرخېږي او په خوند سره یې لاسونه په ږیره تېروي او وایي: "ملک حمیدالله ښه راغلاست. حفیظالله څنګه دی، ناروغي یې اوس څنګه ده؟ روغ شوی دی او که نه"؟

وروسته مخ د اسمان پر لور اړوي او د زړه له تل وایي:

"لوی څښتن عزوجل او اولیاء دې ستاسې زوی روغ رمټ کړي".

ملاصالح خپلې سترګې له ملک څخه د غوا پر لور اړوي او ټوله غوا په سترګو تول کوي لکه د غوا په وېښتو کې چې کوم څه لټوي. وروسته مسکا

کوي او تر ژبې لاندې کوم څه زمزمه کوي: "ملک حمیدالله راځئ کور ته د ننه راځئ".

د ملک حمیدالله له څېرې ناهیلۍ او سرګردانۍ اورېږي، ملاصالح ته مخ اړوي او وايي:

"خیر دی". وروسته خپلې سترګې له ملاصالح څخه د غوا په لور اړوي او وايي:

"ملا صیب! له خدای ج او له مبارکو اولیاوو به کېږي، زما لاس ستاسې په څولۍ کې دی، زما د زوی روغتیا او مرګ ستاسې په لاس کې دی".

وروسته د غوا پړی د ملاصالح په لاس کې ورکوي او وايي:

"زما ټوله سرمایه او شتمني همدا غوا ده، خو دا غوا دې زما د زوی له یوه تار وېښته ځار وي".

ملاصالح وروځې پورته کشوي او وايي:

"ملک حمیدالله خانه! خبره څه ده"؟

ملک حمیدالله وايي:

"دا غوا مې تاسې ته راوستلې چې زوی ته مې دعا وکړئ او تعویذ او ورکړئ چې له ناروغۍ روغ شي".

هغه زیاتوي:

"تاسې پوهېږئ چې نه زه او نه هم د کلي نور خلک په ډاکټر، روغتون او کلینیک باور لرو، یوازې زموږ روغتیا او مرګ د ستاسې په څېر ملایانو په لاس کې دی چې دعا او تعویذ ورکوي".

ملاصالح سملاسي د غوا پړی په لاس کې نیسي، د کور د ننه ځي او غږ کوي:

"ملک حمیدالله، ولې نه راځې؟راشه چې زوی ته دې داسې تعویذ او ځانښت درکړم چې سمدلاسه یې له وجود څخه ټول پېریان غرونو او دښتو ته وتښتي».

ملک حمیدالله د ملا کوټې ته ننوزي. خوسا بوی او پاڼو ټوله کوټه داسې نیولې وه چې ان سپی به هم په هغې کوټه کې د ژمي له سړې هوا هم یوه شپه تېره نه کړي".

ملاصالح یو چرمي پوښ لرونکی څیرې او ټوټې کتاب را اخلي چې په پوښ یې لیکل شوي وو:

"مجمع الدعوات کبیر" خزائن الاسرار، اسم اعظم، ځانګړې دعاګانې، (د ارواح، سحر، جادوګانو او شیطانانو د احضار کتاب)، د مار مهره دعاګانې، خرمهره، حرز، کنزالعجایب یا ادعیه او طلسمات، علوم جفر او نورو څیرې او زړو کتابونو څخه په ارامۍ او زغم سره یوه خیرنه پاڼه پرانیزي او د ملک حمیدالله سترګو ته ځیر کېږي او ورته وایي:

"د خپل فال نیت دې ونیسه، ملک حمیدالله".

ملک حمیدالله یې سترګې پټوي. له سترګو یې څو څاڅکي اوښکې بهېږي. هغه تر ژبه لاندې یو څه چې نه اورېدل کېږي وایي. وروسته ملاصالح د کتاب له مخې د پاڼې پرمخ یو څه کاږي، څو کرښې او مکعبونه هم پرې رسموي. وروسته پاڼه درې کونجه قات کوي، چوپ پرې کوي او ملک حمیدالله ته یې ورکوي او ورته وایي:

"ملک حمیدالله خانه! دا تعویذ واخله او د حفیظالله په کیڼه اوږه یې ور وتړه".

ملک حمیدالله غوښتل پورته شي او لاړ شي، خو ملاصالح په نازک اواز ورته وایي:

"صبر وکړه ملک حمیدالله، تر اوسه لا کار پاتې دی".

وروسته له بې رنګه پاڼو او بوټو یو څو بوټي وچ واښه په موټي کې اخلي او د دعا په ویلو او زمزمه کولو پیل کوي او ملک حمیدالله یوازې دا اوري:

"الحلول الحلول الحلول".

وروسته ملا صالح، ملک حمیدالله ته وایي:

"دا یوسه او د حفیظ‌الله مخې ته یې دود کړه چې د حفیظ‌الله له پوستکي ژر تر ژره پیریان ووزي. پام کوئ چې خپل ناروغ مو ډاکټر او روغتون ته ونه رسوئ چې هغوی به مو ځوان ووژي".

وروسته زیاتوي:

"ډاکټران کله پوهېږي چې جنیات او پېریان څنګه د انسان پوست ته حلول کوي"؟

ملاصالح خپلې تسبېح اخلي، سترګې یې پټوي او تر ژبې لاندې یوڅه زمزمه کوي:

"ای د فال خاونده... "!

وروسته ملک حمیدالله ته مخ اړوي او په نرم او ملایم غږ توري داسې اداء کوي لکه د رېړې له تیت پرکو تارونو سره چې یې همغږي لري:

"ستاسې فال په خوښۍ او خوشالۍ دلالت کوي. څرنګه چې په دې فال کې ښکاري، تاسې ته ډالۍ له اسمان رسېږي. د پېریانو پاچا پر تخت



ناست دی او د غرونو په لور سرگردانه روان دی...".

وروسته ملاصالح له ختېنې کوزې څخه یو څه اوبه په یوه کوچنې پلاستیکي لوښي کې اچوي او تر ژبه لاندې د کوم څه زمزمه کولو او په اوبو کې په چوف کولو سره یې ملک حمیدالله ته ورکوي او وایي:

" دا خاښت یوسه چې حفیظ‌الله جان یې وڅښي".

وروسته په مهربانه او غوړېدلې څېره ملک حمیدالله ته گوري او له یوه لنډ ځنډ وروسته ورته وایي:

"د خدای پاک په حکم او د دې دعاگانو او تعویذونو په مرسته به ستاسې ناروغ رک روغ شي. ښه دې وکړل چې دلته راغلې. کومه اغېزه چې په نذر او تعویذ کې نغښتې ده، له زرگونو ډاکټرانو او روغتونونو غوره ده. ستاسې د زوی په بدن کې جن حلول کړی دی. ډاکټران او روغتونونه نشي کوی د هغه له پوستکي یې لیرې کړي".

د ملک حمیدالله څېره غوړېږي. له یوې اونۍ وروسته یې پر شونډو موسکا غوړېږي. د ملاصالح لاسونه نیسي، سترگو ته یې نژدې کوي او وایي:

"پر دې ډاکټرانو او روغتونونو باور نه لرم، خو پر خدای ج او ولیانو یې باور لرم. د ملایانو تعویذونه او دعاگانې به زموږ ناروغانو ته شفا ورکوي".

ملک حمیدالله په بېړه له ملا لیرې کېږي او په خوښۍ او تلوسه خپل کور ته د ننه کېږي او خپلې مېرمنې ته وایي:

"بې غمه اوسه، زموږ حفیظ‌الله جان به رک روغ شي".

وروسته هغه مقدار بوټي چې ملاصالح ورته دم کړي وو، له جېب را باسي او خپلې مېرمنې ته په ورین تندي وایي:

" ژر کوه! دغه دم شوي خاشاک دود کړه چې د حفیظ‌الله له پوستکي پېریان ووزي".

لږ وروسته، د کور چاپېریال لوگي ونیو. د حفیظ‌الله مور او پلار د لوگي

په توره لړه کې یو بل ته وخندل او ویې ویل:

"له خیره سره به ټول هغه پېریان چې زموږ د زوی په پوستکي کې ننوتي وتښتي، دښتو او غرونو ته به لاړ شي».

وروسته د حفیظالله مور درې کونجه تعویذ په یوه ټوټه کې ګنډي او د هغه پر مټ یې ور تړي. بیا یې یوه اندازه اوبه په ګیلاس کې تویې کړې او د ملا ورکړل شوی څاښت یې پکې واچاوه. حفیظالله ته یې وکتل او ورته ویې ویل:

"زما ګرانه زویه! دا اوبه به تاسې ته شفا درکړي. په ډاکټر او روغتون پسې مه ګرځه ځکه چې دا ټول شیطاني افعال دي".

شپه ډېره ارامه او له خوښۍ ډکه ده. د مور او پلار او د کور د غړو خوښۍ د کور په انګړ کې په ولولو دي، خو حفیظالله هماغسې په تبه کې سوزي او له پرله پسې وچ ټوخي لکه باد وهلې ونه لړزېده.

د حفیظالله مور او پلار له یوې اونۍ وروسته په ارامۍ ویده کېږي او یوازې د حفیظالله په وچ او پرلپسې ټوخي را ویښېږي. حفیظالله په تبه او لړزه کې سوزي او هره لحظه په خوب کې ټوپ وهي او زګېروي کوي. سبا چې لمر خرګ وهي، د حفیظالله رنګ زېړ اوړي او نفس تنګي د ساه اخیستو ځواک ترې اخلي. د حفیظالله مور خپل زوی ته ګوري او په وارخطایي چیغې وهي:

"حمیدالله چېرې یې؟ زوی مو نشي کوی ساه واخلي. راشه وګوره رنګ یې بیخي تښتېدلی، ساه یې بنده شوې".

ناڅاپه د ملک حمیدالله د کور په انګړ کې د ماتم او ژړا څپې خورېږي، د دوی غږ له کور وزي او ګاونډیان یې کور ته راځي. د کورنۍ غړي فکر کوي حفیظالله مړ شوی دی. له ګاونډیانو یې یو بسترې ته ور نږدې کېږي، نبض یې ګوري او بیا یې مور او پلار ته مخ اړوي او ارامۍ سره ورته وایي:

"مه وارخطا کېږئ، د خدای ج شکر دی، ژوندی دی".

بیا نورو کسانو ته مخ اړوي او وايي:

"هلئ ژر کوئ له جومات یو کټ راوړئ چې حفیظالله روغتون ته ورسوو".

کټ یې راووړ، څلورو تنو په اوږو کړ او د کرونا له پاره نوي جوړ شوي روغتون ته یې چې ریاست یې د ډاکټر ذاکر په غاړه و او د طبي تجهیزاتو او امکاناتو له اړخه هم بسیا و ورساوه.

حفیظالله چې څنګه د کرونا روغتون ته رسېږي، ډاکټران، نرسان او طبي پرسونل په بېړه سره لاس په کار کېږي او ناروغ بېړني اطاق ته انتقالوي. ډاکټر ذاکر ناروغ معاینه کوي، خپلو همکارانو ته مخ اړوي او وايي:

"د ناروغ وضعیت ښه نه دی او د بدن د اکسیجن کچه یې د ۳۰ او۴۰ تر منځ ده".

بیا یې ناروغ ډېر ژر اکسیجن وتاړه او د حفیظالله مور او پلار ته یې مخ واړاوه او ویې ویل:

"پام مو وي که په کرونا ناروغۍ اخته کس په یوه دقیقه کې ۲۴ ځلې ساه وانخلي او همدارنګه د ناروغ د وینې اکسیجن کم شي او له ۹۰ ښکته شي نو دا د خطر زنګ دی او ناروغ باید بې له ځنډه روغتیایي مرکزونو ته ورسول شي. د څه له پاره مو خپل زوی دومره ناوخته روغتون ته را ورساوه؟ وینئ یې چې هغه د مرګ په حال کې دی. تاسې موږ ته مرګ ته رسېدلي ناروغان راولۍئ"؟

د حفیظالله مور چې سلګۍ یې وهلې، د ژړا او ماتم له لاسه یې وېښتان شکول، په لړزېدلي غږ یې ویل:

"وېرېږم ډاکټران مې په حفیظالله جان کومه بلا را نه ولي".

د دوی هماغه ګاونډی چې د حفیظالله مور او پلار یې قانع کړي وو ناروغ روغتون ته ورسوي، دوی ډاډه کړل او د حفیظالله مور ته یې وویل:

"پرېږدئ چې ډاکټران خپل کار په ارامۍ سره وکړي".

ډاکټر ذاکر په هر ساعت کې یو ځل حفیظ‌الله معاینه کاوه او د اړتیا وړ دارو یې ورته تجویزول. حفیظ‌الله چې لس ورځې کرونا ناروغۍ یې د بدن ټول اکسیجن ورختم کړی و او وجود یې له ۳۰-۴۰ پورته اکسیجن اخیستی نه شوای.

د حفیظ‌الله د ناروغۍ یوولسمه ورځ وه، وضعیت یې خطرناک حالت ته رسېدلی و او د بدن د اکسیجن کچه یې ۲۰ ته راښکته شوه. مؤظف ډاکټران وارخطا کېږي او ملک حمیدالله، را غواړي. ډاکټر ذاکر هڅه کوي د څېرې پرېشاني یې کمه شي، په یوې دردمنې مسکا سره د ناروغ پلار ته وایي:

"موظفو ډاکټرانو ستاسې د زوی د ژغورلو له پاره، بې ساري هڅې کړې دي خو دا چې تاسې خپل ناروغ روغتون ته ناوخته راووست، ستاسې د ناروغ بدن اکسیجن نشي لوړوی".

وروسته یې یوڅه لنډه ساه واخیسته او بیا یې په ماتو کلمو سره وویل:

" غوره به وي تاسې کور ته لاړ شئ او د سبا ورځې له پاره تابیا ونیسئ، ځکه چې ستاسې د ناروغ وضعیت داسې دی چې کېدای شي یوازې تر نن شپې پورې ژوندی پاتې شي".

وروسته یې په خوابدې څېره له ملک حمیدالله هیله وکړه کور ته لاړ شي او د حفیظ‌الله مور ته ډاډګېرنه ورکړي.

ملک حمیدالله یې کور ته ځي. اسمان یې پر سر را لوېده او ځمکه نه دوه ټوټې کېده چې خپله یې د زوی پر ځای پکې خښ شي. په کور کې ماتم او خپګان خپور شو او د ښځو او نارینه و غمځپلي غږونه خپاره شول. د حفیظ‌الله مور د مېره ګرېوان ونیو په ویر او واویلا یې وویل:

"ومې ویل زوی مې د ډاکټرانو منګولو ته مه سپارئ. دریغې بیا هم ملاصالح ته ورغلي وای. دریغې کوڅه په کوڅه ګرځېدلی وای چې یو غوره تعویذ لیکونکی دې پیدا کړی وای".

وروسته یې په ملاصالح هم نفرت ووایه، ویې ویل:

"هغه ناپوه په دې ونه توانېده د زوی له پوستکي مو پېریان وباسي چې په پای کې مو زوی د ډاکټرانو منګولو ته ولوېده او په پېچکارۍ یې وواژه په پېچکارۍ...".

ډاکټر ذاکر د حفیظالله له خولې او پوزې اکسیجن لیرې نه کړ بلکې د ناهیلۍ په اوج کې یې د هغه په سېروم کې د اړتیا وړ ځینې پېچکاریانې ور زیاتې کړې او په ناهیلۍ سره یې وغوښتل، په کرونا د اخته ناروغ د روغتیا له پاره خپله وروستۍ هڅه هم وکړي، که وکولای شي د مرګ له خولې یې وژغوري. وروسته یې د ناروغ کوټه پرېښوده او نرسانو ته یې لارښوونه وکړه چې د ناروغ وضعیت ته پاملرنه وکړي.

شپه پای ته ورسېده د هوا له وضعیت د سهار څرک مالومېده. ډاکټر ذاکر د سهار د لمانځه له اداء کولو وروسته، د خپل ناروغ پوښتنې ته ورغی. د حفیظالله وضعیت ته د زړه له تله په اندېښنه کې و. د حفیظالله کوټې ته د تګ په لاره کې یې زړه د ډېرو بدو وړاندوېینو ښکار و، خو کله چې د حفیظالله خواته ورسېد، د ډاکټر ذاکر په سترګو کې د خوښۍ رڼا داسې وځلېده، تا به ویل په یو ځل د نړۍ ټولې خوښۍ یو ځای شوې او د ډاکټر ذاکر مخ ته راغلې دي. یوځه په ځیر یې د حفیظالله د اکسیجن درجې ته وکتل، بیا یې سترګې پټې او خلاصې کړې او د ناروغ د اکسیجن وضعیت ته یې وکتل، د ناروغ د اکسیجن کچه له ۷۰-۸۰ پورې لوړه تللې وه.

ناروغې څېرې ته یې وکتل، ناروغ یې سترګې پرانیستې، رنګ او څېره یې په عادي او نورمال حالت وو. ډاکټر ذاکر د ناروغ له خولې او پوزې اکسیجن لیرې کړل او ورو یې له ناروغ سره خبرې پیل کړې. حفیظالله وپوښتل:

"زه چېرته یم"؟

ډاکټر ذاکر ورته وویل:

"دلته د شبرغان د کرونا ناروغۍ روغتون دی او تاسې د یوولسو ورځو راهیسې دلته بستر یاست. خوښ یم چې خدای پاک ج تاسې ته یو ځل بیا

ژوند درکړ".

حفیظالله په ډېر سترې او ورو غږ ورته وویل:

"ډاکټر صیب! ما د ناروغۍ په لومړیو ورځو کې غوښتل روغتون ته راشم خو د کورنۍ غړو په ځانګړې توګه بوډۍ مور مې اجازه را نه کړه".

د خولې اوبه یې تېرې کړې او زیاته یې کړه:

"پلار او مور زموږ د کور یوازینۍ غوا چې د کور یوازینۍ شتمنۍ او اقتصادي سرچینه وه، ملاصالح ته ورکړه او ماته یې تعویذ او څاښت پرې واخیست او ځینې بوټي یې هم ترې راوړل، خو تاسې ښه پوهېږئ چې یو ناروغ په جادو، تعویذ او څاښت نه جوړېږي، ایا جوړېږي"؟

وروسته یې د ډاکټر ذاکر څېرې ته وکتل چې د خوښۍ څرکونه یې له څېرې ځلېدل او د نرسانو او ډاکټرانو په لور به یې په خوښۍ کتل.

ډاکټر ذاکر د خپل ناروغ بې حاله او ستړو سترګو ته وکتل او زیاته یې کړه:

"په تېر پسې مه خفه کېږه او مور دې هم مه ملامتوه. د ملاصالح په څېر ملایان زموږ له ساده خلکو ناوړه ګټه اخلي. دوی ډاکټر او روغتون د خلکو پر وړاندې بدنامه کړي دي. دوی د تعویذ، څاښت او کوډو په واسطه د خلکو شتمنۍ ترې اخیستې دي".

وروسته چې له روغتون بهر ډېر غالمغال و یو ځل بیا یې د حفیظالله په خوله او پوزه اکسیجن وتاړه. ډاکټر ذاکر په وارخطایي د روغتون له سالون ووت، د سالون له دروازې بهر شو او څنګه یې چې ښه د روغتون په انګړ کې کېښوده، د بوډۍ مېرمنې ویر او فریاد د روغتون چاپېریال په سر اخیستی و. ډاکټر ذاکر د خلکو په ګڼه ګونه کې د حفیظالله په مور سترګې ولګېدې چې د روغتون په انګړ کې راټول شوي وو. د حفیظالله مور چیغې وهلې او ډاکټر ته یې ویل:

"زما زوی مو مړ کړ. اوس یې ولې جنازه نه راته سپارئ"؟

ډاکټر ذاکر حیران و، په داسې حال کې چې غږ یې د حفیظالله د مور په چیغو کې ورکېده ویې ویل:

"کوم مړی"؟

په دې کې د حفیظالله مور په شلېدلي ګرېوان وویل:

"زما د حفیظالله زوی مړی یادووم".

ډاکټر ذاکر چې مسکا یې په خوله ښکاریده، د حفیظالله مور ته یې وویل:

"ارامه اوسه! د خدای پاک ج په فضل حفیظالله ژوندی دی او ډېر ښه شوی دی. له تاسې دوه تنه له ما سره راشئ او حفیظالله جان ووینئ".

بیا ډاکټر د حفیظالله مور او پلار ته وکتل ویې ویل:

"تاسې دواړه راشئ. نور کسان دې بېرته لاړ شي چې د ژوند چارې ترې پاتې نشي".

ډاکټر ذاکر د حفیظالله مور او پلار ته ماسک او دستکشې ورکړې او د حفیظالله د بستر کوټې ته یې بوتلل. حفیظالله چې خپل مور او پلار ولیدل د دوی په درناوي نیمکښ را پاڅېد. ډاکټر ذاکر د حفیظالله له خولې او پوزې د اکسیجن ماسک لیرې کړ.

حفیظالله چې په غږ کې یې ستوماني او بې ځواکي له ورایه ښکارېده، مور او پلار ته یې وویل:

د ناروغۍ په لومړیو ورځو کې مې درته وویل روغتون ته ځم، خو تاسې نه پرېښودم او ویل مو، دعا او تعویذ درته راوړو را مو وور. دودونه مو وکړل، سحر او کوډې مو وکړې او ځابښت مو هم راکړ، خو ومو لیدل چې هېڅ ګټه یې ونکړه.

وروسته یې ډاکټر ذاکر، د روغتون روغتیایي پرسونل او نرسانو ته وکتل چې په کوټه کې ولاړ وو او زیاته یې کړه:

"اړینه ده موږ له ډاکټرانو، روغتیایي پرسونل او نرسانو چې شپه او ورځ

د زړه له تله د ناروغانو خدمت او ساتنه کوي او موږ ته دارو، خواړه او روغتيايي مراقبتونه وړاندې کوي، ځانګړې مننه وکړو".

د حفيظالله مور چې د خوښۍ اوښکې يې له سترګو څڅېدې او غږ يې له ډېرې ښادۍ لړزېده وويل:

"زويه! ملاصالح او بخشي بابا ته دې خدای د دنيا او اخرت ښېګڼې نه ورکوي، ويل يې، د زوی په پوستکي کې دې پېريان ننوتلي دي، که يې روغتون ته يوسئ، ډاکټر به تاسې ته يوازې مړی په لاس درکړي. هغه ويل که مې ستاسې د زوی له پوستکي پېريان ونه ويستل خپل نوم بدلوم. له همدې کبله مې باور وکړ او ملا صالح ته مې خپله غوا ورکړه ".

د بوډۍ مور خبرې په ژړا او سلګيو کې ورکې شوې.

د سترﻳا او خپګان شپې او ورځې تېرېدې او څو ورځې وروروسته د اکسيجن کچه ۹۶-۹۰ پورې ورسېده او د حفيظالله په څېره کې وينه وغوړېده، په دې سره يې ټوخي او دردونه هم ختم شول. ډاکټر ذاکر خپل وروستي معلومات وکړل او پايله دا شوه چې حفيظالله له روغتون رک روغ رخصت او له خپلې کورنۍ سره يو ځای شو.



# په ځمکه کې پټه اروا[1]

زینب شاه، لاس په ملا نیولې ولاړه ده او د ناروغانو د بستر کتار ته ګوري چې د کور هره څنډه یې د درد، تبې او ټوخي له کبله څرخېږي او د دښتې وچ بوټي د توفان له کبله لړزېږي. وروسته یې پر تندي او سپینو اننګو اندېښنې له ورایه ښکاري. په هغو لومړیو ورځو کې چې د کرونا ویروس په نړۍ کې را څرګند شوی او فاریاب ته را رسېدلی و د میمنې په نهمه ناحیه سربلاق او همدارنګه په دهن دره، خواجه پایتخت، لوی او کوچني چغاتک او د میمنې ښار په نورو برخو کې د خپرېدو په حال کې و.

د زینب د کور انګړ د کرونا له ناروغانو ډک دی. باید هر یوه ته بېل پام وکړي، اوښی، خواښې، مور، دوه لوراني او یو زوی یې د کرونا ویروس د ناروغۍ له کبله په بستر پراته وو. زینب باید هر یوه ناروغ ته پرهېزانه چمتو کړې وای او د لیمو او زنجبیل چای یې ورته دم ککړی وای، د ناروغانو د

---

۱-لیکوال: علی پیام

تنفس له پاره يې د پياز بخار تيار کړی وای. ويل کېږي که د کرونا په ويروس ککړ ناروغان دا شيان وخوري، وخښبي او تنفس يې کړي نو په ساه اخيستو کې مرسته ورسره کوي.

زينب شاه ستړې ده. اندېښنې يې د وجود هرې برخې ته رسېدلې او د هډوکو پر مغز يې ګوزارونه کوي. د زينب شاه له کور څخه بهر په سربلاق کې د مړينو اوازو ټول ښار په سر اخيستی او سربلاق په غم او وير کې ډوب دی. په سربلاق کې تر اوسه چا په دې اړه فکر نه دی کړی چې که يې قرنطين پلی کړی وای، مسافر په ځانګړې توګه له ايران څخه راغلي يې د دوو اونيو له پاره قرنطين کړي وای، دا بلا به نه پرې راتله. خو خلکو د حکومت له لوري په ميمنه ښار کې د کرونا پر ضد د مبارزې کمپاين ته پام ونه کړ او اوس د خپلو خپلوانو د ماتم پر ټغر ناست دي.

د کرونا ويروس د ناوړه ناروغۍ د خپرېد پر مهال، اسدالله او ضياءالله هم له ايران څخه بېرته راغلل او پرته له دې چې قرنطين شي د کورنۍ له غړو سره يو ځای شول. دوی دواړو د کرونا ويروس له وېرې له ايران را تښتېدلي وو. دواړه د کورنۍ غړو ته کيسه کوي چې په ايران کې د کرونا ويروس د خپرېدو له کبله يې د کوټې ملګري په کرونا ويروس اخته کېږي او ډاکټر ته ځي، خو دوی د تل له پاره ورک کېږي، مړی او ژوندی يې نه مالومېږي.

وروسته زياتوي:

"دا چې زموږ د کوټې ملګري ورک شول، موږ هم وارخطا شوو، څه پيسې مو پور کړې او خپل هېواد ته راغلو. سرحد ته چې را ورسېدو، دواړه هېوادونه زموږ مانع شول له ايران څخه د بهر کېدو او افغانستان ته د ننه کېدو، خو سرحدي پوليسو ته مو د رشوت په ورکړې سره ځانونه هرات ته را ورسول".

اسدالله او ضياءالله له هرات څخه بادغيس او له هغه ځايه ميمنې ته راغلي. اسدالله او ضياءالله د بادغيس له لارې په پټه کور ته رسېږي، د دې

له پاره چې حکومت پرې خبر نه شي کور کې پټېږي. د دوی د پوښتنې له پاره یې ډلې ډلې خپلوان کور ته ورځي او د حکومت او عامې روغتیا ریاست له سپارښتنو پرته یو بل ته غېږ ورکوي او یو بل ښکلوي. دوی قومیان او خپلوان یوبل ته وایي:

"وګورئ دوی جوړ تیار دي، نو بیا ولې لیرې ترې و اوسو".

خو څو ورځې وروسته یې ډېری خپلوان او دوستان یو پر بل پسې په یوه ناپېژانده ناروغۍ اخته کېدل چې سخته تبه، د ستوني درد، ټوخی او نفس تنګي یې نښې وې.

وروسته له دې چې مسافر له بهر په ځانګړې ډول ایران څخه میمنې ته راغلل او د خپل کور په بېله کوټه کې قرنطین نه شول، نو په سربلاق کلي کې مرګونه پیل شول. هره ورځ به له څلورو تر پنځو پورې نارینه او ښځې مړې کېدې. د مړینې اوازه دومره ډېره شوه چې ان د ولایت د والي تر غوږو ورسېده. والي او له کرونا ویروس سره د مبارزې ډله سربلاق او نیغ د اسدلله کور ته لاړل.

اسدالله د ناروغۍ په بستر پروت و چې څنګه خبر شو له حکومت خلک راغلي، وارخطا او پرېشانه شو، د تېښتې هڅه یې وکړه، چې حکومت یې له راتګ خبر نه شي.

والي امر ورکړ په امبولانس کې یې روغتون ته ولېږدوي. وروسته یې د سربلاق اوسېدونکو ته وویل:

"ولې د کرونا ناروغۍ ته جدي پاملرنه نه کوئ؟ ولې هغه کسان چې له بهرنیو هېوادونو څخه فاریاب او سربلاق ته راځي، د دوو اونیو له پاره په بېله کوټه کې نه قرنطین کوئ؟ اوس ورته وګورئ چې ستاسې خپلوان او دوستان هر یو ستاسې د سترګو پر وړاندې مري"؟

والي اواز پورته کړ او په لوړ غږ یې وویل:

"تاسې ته مې په ځلونو اعلان کړی و چې له ایران څخه هره ورځ د دوو

زرو په شاوخوا کسان هېواد ته راځي، تاسې باید له هغوی سره ټولنیز واټن مراعات کړئ که نه نو د کرونا ویروس په ناروغۍ به اخته شئ"

والي پسې زیاته کړه:

"په کرونا ناروغۍ د اخته کسانو ټوله درملنه د دولت پر غاړه ده، د روغتون د لګښتونو اندېښنه مه کوئ".

د فاریاب والي له دې خبرو وروسته په کرونا ویروس شکمن لس تنه روغتون ته ولېږدول او د دوی د وینو نمونې یې د کتنې له پاره د بلخ ولایت مزار شریف ته ولېږلې. د معاینو پایلې درې ورځې وروسته میمنې ته را ورسېدې. پایلو وښودنه چې د اسدلله په ګډون پنځه تنه د کرونا ویروس په ناروغۍ اخته دي.

زینب شاه یې لاسونه تر ملا تاو کړل او د انګړ دروازې ته یې تکیه وکړه چې سترګو یې کار وکړ او بهر یې وکتل، ویې لیدل چې هرې خواته غم او ویر په چیغو دی. یاد ته یې ورغلل چې همدا څو ورځې مخکې یې د مومن بای ګاونډي مېرمن د کرونا ویروس له کبله مړه شوه او ټول زیورات یې ورک شول، ځکه چې روغتیایي او خدماتي کسانو ویلي وو چې د مومن بای مېرمن یې له ټولو وسایلو سره خاورو ته سپارلې ده.

په سبا یې اوښی مړ شو، زینب شاه په خپلو سترګو ولیدل چې د عامې روغتیا ریاست کار کوونکو یې جنازه په نایلون کې وپېچله، په صندوق کې یې واچوله او ویې ویل:

«نه باید صندوق خلاص کړئ، ځکه که صندوق خلاص کړئ تاسې هم په کرونا ویروس اخته کېږئ».

د مړي لورانو د جنازې تر څنګ چیغې وهلې او وېښتان یې شکول. وروسته پرته له دې چې د عامې روغتیا د کارکوونکو سپارښتنو ته پام وکړي د صندوق میخونه یې وویستل. ویې لیدل چې جنازه په نایلون کې په داسې ډول پېچل شوې چې خلاصول یې ناشوني دي.

زینب شاه یو پر بل پسې د خپلو خپلوانو په غم کې ښکېل شوې ده. د کرونا وېروونکي ناروغي چې د سربلاق پر کلیوالو راغلې، یو یو یې د هدیرې په لور وړل. زینب شاه د خپلوانو د مړینې په غم بوخته وه چې ناڅاپه یې د کور انګړ ته صندوق ورته راووړ او ویې ویل:

"زینب شاه! خدای دې دا ستاسې وروستی غم کړي".

زینب شاه حیرانه او پرېشانه ودرېده او یوه ورته وویل:

"د مور د مړینې غم دې وروستی غم شه".

وروسته یې د زینب شاه سپېرې او پرېشانه څېرې ته وکتل. زینب شاه لکه ونه چې له د ننه تشه شي داسې شوه، وروسته ولړزېده او پر ځمکه را پرېوته. څو شېبې وروسته چې په هوښ راغله، د غم او وېر په حال کې یې



وویل:

"مور مې وصیت کړی، که هر وخت مړه شوم، غسل دې زما خپلې لورانې راکړي. نو زه مې باید خپله مور ووینځم".

وروسته یې لستوڼي بډ وهل او په ټیکري یې ملا وتړله په سلګیو سره یې وویل:

"رایې وړئ چې مور مې ووینځم"

د بهر پر لور لاړه او په وارخطایي یې وویل:

"رایې وړئ چې ویې مینځم چې... "

خو هغو کسانو چې د زینب شاه د مور جنازه یې راوړې وه، ژر او بې له ځنډه یې یوړه او د انګړ له دروازې ووتل. د زینب شاه خبرې په خوله کې وچې شوې او د جنازې پر لور یې وکتل، ته به وایې، جنازه یې په لړه کې ورکه شوه.

په خلکو کې ورو ورو له راټولېدنو وېره پیداشوه، نو د زینب د مور فاتحه او غم شریکي هم د ډېرو لږو خپلوانو او دوستانو له خوا وشول.

د زینب شاه ځواک چې د مور او نورو خپلوانو مړینې ترې اخیستی و، بیا هم د خپلې کورنۍ د غړو چې د کرونا ویروس په ناروغۍ اخته او په کور کې پراته دي خدمت کوي. هغه په دې لوړ عمر او دا چې د خپلوانو او مور مړینې یې ملا ماته کړې بیا هم یوازې ده او د سربلاق کلیوال نه ترې خبرېږي.

له څو ورځو وروسته، د زینب شاه خوابښې او لورانې جوړېږي. پر دې مهال زینب شاه ته سخت ځان درد او سر درد پیداکېږي. ډاکټر ته ځي درمل اخلي بېرته کور ته راځي او د ناروغانو خدمت ته درېږي. د ځان له پاره د لیمو او زنجبیل چای تیاروي او څښي یې.

په داسې حال کې چې د زینب شاه ټول وجود له درد سوزي، بې حاله او ګېچ ده، مشره لور دلبرشاه یې د ناروغۍ له بستر را پورته او روغه شوه.

زينب شاه هڅه کوي ناروغي پرې بريالۍ نه شي او دې ته ماته ورنکړي. د زينب شاه او ناروغۍ ترمنځ د مبارزې يو دېوال دی.

په پای کې د دوو اونيو له درد او رنځ وروسته زينب شاه روغه شوه. هغه ښځه چې د کرونا د ناروغۍ پر مهال يې په کرونا ويروس د اخته کسانو خدمت وکړ، غواوو او پسونو ته يې واښه رېبل او ورته به يې اچول، چرگانو ته به يې دانه ورکوله، غواوې به يې لوشلې او د کور ټول کارونه به يې په يوازې ځان کول، بېرته خپل ژوند ته را وگرځېده او په کرونا ناروغۍ بريالۍ شوه. خو په سربلاق کې ډله ډله خلک د قبرونو پر لور وړل کېدل او کورونه له غمونو ژړېدل.



## د تودې ډوډۍ بوی [۱]

په میمنه ښار کې چې کرونا ناروغي زیاته شوه، د فاریاب سیمه ییز حکومت، په ښار کې په ډله ییز ډول ګرځېدل او یوه میاشت قرنطین یې اعلان کړ. له خوراکه پلورنځیو، درملتونونو او کلنیکونو پرته نور یې ټول بند کړل. حکومت په دې ډول غوښتل په میمنه ښار او ولسوالیو کې د کرونا ویروس د خپرېدو مخه ونیسي.

د میمنې قرنطین کېدل او د کاروبار بندېدل د دې لامل شول چې د خلکو ورځنۍ چارې او فعالیت بند شي. دوکانداران، مزدورکاران، چلوونکي او لاس پلورونکي چې په کراچیو سره د خپلې کورنۍ لګښتونه پیداکوي ټول په کور کښېناستل.

د خلکو د کسب او کار په ټپه درېدو له کبله هره ورځ د میمنې اوسېدونکي

۱-لیکوال: علي پیام

په فقر، لوږه اخته کېدل. د هرې ورځې په تېرېدو سره، په مسجدونو کې د لسګونو جنازو خبرونه خپرېږي. کرونا، هغه ویروس چې د خلکو ژوند یې تر اغېزې لاندې راوستی و، هره ورځ به یې خلک د ډله ییز مرګ لوري ته وړل.

پر کرونا ویروس د اخته کېدو وېرې د میمنې د اوسېدونکو پر رواني حالت سیوری غوړولی و. ان ویل شوي وو دوو، دریو تنو چې هېڅ ناروغي یې نه لرله له وېرې یې زړه درېدلی و او مړه شوي وو، دغه خبر خوله په خوله شوی او ټول ښار ته رسېدلی وو. همدې وېرې، د حکومت له لوري له ګرځېدو او راټولېدو منعې او پر کرونا له اخته کېدو وېرې خلک بې روزګاره او بېوزله کړي وو.

حاجي عبدالرحمن چې د طالبانو او دولت تر منځ د جګړې له کبله له قیصار ولسوالۍ را کډه شوی و، په میمنه ښار کې یې د موټر جوړولو دکان درلود، د بازار په تړل کېدو سره د عبدالرحمن مستري خانه هم وتړل شوه او په کور کښېناست. د عبدالرحمن مستري خانې د بازار له تړل کېدو مخکې ښه جوش درلود. هره ورځ به یې په دوکان کې په لسګونو موټر جوړېدل او کوپي کشي کېدل.

حاجي عبدالرحمن چې له اړمنو سره د مرستې له پاره یې پرانیستی لاس او ښه زړه درلود، د خپلې مسترې خانې یوه برخه عاید یې خیریه بنسټ ته بېل کاوه چې د خیریه چارو له پاره یې جوړ کړی و. هغه له همدې بېلو شوو پیسو د ډېرو بې وزلو ډوډۍ او جامې برابرولې.

د حاجي عبدالرحمن نوم خوله په خوله شو، د ښار او سیمو ټول بېوزله له دې اوازې، د ده له فعالیتونو او د بېوزلو له لاسنیوي خبر شول. خو د مستري خانې په بندېدو سره یې عاید نه درلود او نه یې شوای کوی له بېوزلو سره مرسته وکړي، خو بیا به هم تل د بېوزله او فقیرو هېوادوالو په فکر کې و.

حاجي عبدالرحمن د خپل کور په کنج کې ناست او د بېوزلو په اړه فکر

کوي چې د قرنطين او د کسب او کار د مرکزونو او بازار بندېدو په بهير کې يوه مړۍ ډوډۍ پيداکوی نشي، پر دې مهال يې مبايل ته له ناپېژاندې شمېرې زنګ راغی، ورته ويې ويل له سويس هېواد يې زنګ وهلی او زياته يې کړه:

«حاجي عبدالرحمانه! موږ تاسې پېژنو. تاسې د باور وړ شخص ياست. هغه وطنوال چې دلته ژوند کوي، شپه ورځ د هغو بېوزلو په اړه فکر کوي چې په قرنطين کې د ګهيځ او بېګا نلري».

وروسته يې عبدالرحمن ته وويل:

«دلته اوسېدونکو وطنوالو، يو څه پيسې د صرافۍ له لارې ستاسې پر نوم حواله کړې دي. دغه پيسې کېدای شي د کرونا ناروغۍ پر مهال يو شمېر خلکو ته ډوډۍ برابره کړي».

د عبدالرحمن په سترګو کې خوشالي وځلېده او له ځايه يې پورته شو، له ځنډه پرته يې خپله چپنه پر اوږه کړه او د صرافۍ په لور لاړ. صرافي د ډالرو بسته ورته وړاندې کړه، داسې وه لکه ټولې نړۍ چې عبدالرحمن ته خندي وي. پيسې يې واخيستې او په بيړه د نانوايي په لور لاړ.

نانوای ته يې سپارښتنه وکړه چې هره ورځ له پنځه لس تر شل زرو پورې ډوډۍ ورته تيارې کړي. پر همدې مهال چې په نانوايي کې څومره ډوډۍ شته وې، ټولې يې واخيستې يوه ريکشا يې کرايه کړه، د بېوزلو او کډوالو کورنيو په لور يې حرکت وکړ.

حاجي عبدالرحمن تر پنځو ورځو پورې هره ورځ د شل زره په شاوخوا ډوډۍ په ريکشا کې بارولې، ليرې او نژدې کليو کې به يې په بې کوره، په قرنطين کې وزګارو او بې وزلو وېشلې، د ډېرو کورنيو ژوند به يې له لوږې او مرګ ژغوره. دا کار د دې لامل شو چې په حاجي عبدالرحمن قيصاري د خلکو باور نور هم زيات شي.

پنځمه ورځ چې پيسې خلاصې شوې، عبدالرحمن هغو کسانو ته اندېښنه لرله چې اوس به د ريکشا راتلو او وچې ډوډۍ اخيستو ته سترګې

په لاره وي چې هره ورځ به يې په رېکشا کې تر کورونو رسېده. وروسته به يې د بې وزلو وتلې شونډې، تښتېدلي رنګونه او ورېږ ګېډې ور په ياد کړې چې د خپلو کورونو په دروازو کې به انتظار وي چې ريکشا له ګرد او دوړو سره راشي او په کوڅه کې د وچې ډوډۍ بوی والوزي.

هغو کورنيو ته چې يوه وچه ډوډۍ ورته د خپل ژوند په کچه ارزښت لري، يوه وچه ډوډۍ کولای شي د هغو کسانو ژوند وژغوري چې اونۍ وشوې لاس يې جېب ته نه دی تللی او هغه لږ ورځ مزدوري يې هم کرونا ترې اخيستې ده.

د حاجي عبدالرحمن د تندي ګونځې يو پر بل پرتې دي او د مخ هره ګونځه يې د پرېشانۍ ښودونکې ده، پر دې مهال يې مبايل ته زنګ راځي، ناپېژانده شمېره او غږ دی او وايي:

«حاجي صيب د هغې باور له مخې چې پر تاسې يې لرو له تاسې مرسته غواړو».

حاجي عبدالرحمن چې د مرستې کلمه واورېده، مخکې له دې چې خبرې يې تمامې شي ورته وېې ويل:

«بازارونه تړلي دي، قرنطين د کسبګرو، کراچيوانانو او لاس پلورونکو کارونه درولي دي، ځينې بې وزله کسان له بدترين وضعيت سره مخ دي».

هغه کس په مبايل کې وايي:

«له همدې کبله مې زنګ وکړ. زموږ بېوزله خلک اوس مهال لاسنيوي او مرستې ته اړتيا لري. له همدې کبله مو ستاسې په ادرس دوه موټره وريجې او اوړه در لېږلي. تاسې بې وزله وګړي او اړمن کسان ښه پېژنئ. ايا په وېش کې يې مرسته کوئ»؟

حاجي عبدالرحمن له ځنډ پرته هوکې ورته وايي وروسته هغه کس زياتوي:

«بار به سبا در ورسېږي. ستاسې شمېره مې چلوونکو ته ورکړې ده.

څنګه چې بار ورسېږي له تاسې سره به اړیکه نیسي».

عبدالرحمن په همغه شپه د اړمنو کسانو لېست نیسي، د سبا ورځې لمر ختلو او هغو بار موټرو ته په تمه کېږي چې د لسګونو کورنیو ژوند او مرګ ور پورې تړلی دی. په سبا ورځ چې موټرونه رسېږي، حاجي عبدالرحمن د لېست له مخې وریجې او اوړه وېشي.

حاجي عبدالرحمن بېرته کور ته راځي. د هغو بېوزلو مسکا چې د موادو اخیستو پر مهال یې پر مخ ښکارېده ور یادېږي او خپله هم له خوښۍ موسکا کوي. وروسته د ټوخي او تبې احساس کوي. له یو څه زمانې وروسته یې تبه سختېږي او ټوخی ارامي ترې اخلي او درد یې د هډوکو پر مغز واکمنېږي او ناڅاپه بې حاله کېږي.

حاجي عبدالرحمن د کرونا ناروغۍ د نښو په اړه له خلکو اورېدلي، نو ډېر ژر پوهېږي چې کرونا ناروغۍ نیولی دی، له همدې کبله خپله کوټه یې له نورې کورنۍ بېلوي. خپلې ټولې کورنۍ ته وایي له ده سره اړیکه ونه نیسي.

وروسته عبدالرحمن خپلې کورنۍ ته د هغو روغتیایي سپارښتنو د رعایتولو وایي چې د عامې روغتیا ریاست خلکو ته وېشلي وو. د همدې سپارښتنو له مخې یې کورنۍ ټول هغه ځایونه چې دوی یې په لاس لمس کوي ضد عفوني کوي، د کورنۍ ټول غړي هره ورځ له پنځه لسو تر شل ځلو پورې د شل ثانیو له پاره لاسونه په تودو اوبو او صابون وینځي.

حاجي عبدالرحمن له شل ورځو ناروغۍ وروسته ښه کېږي. له وجود څخه یې د کرونا ناروغۍ اغېزې لا پاکې شوې نه دي چې مبایل ته یې زنګ راځي. یو څوک زارۍ کوي چې خلک یې وږي دي او د شپې وږي ویده کېږي.

وروسته زیاتوي:


«حاجي صیب! نژدې دېرش تنه له لوږې د مړه کېدو په حال کې دي. که

مرسته ورسره ونشي، موږ به د لوږې له لاسه د ډېرو د مرګ شاهد و».

حاجي عبدالرحمن د مبایل له پرې کېدو وروسته، له خپل ځایه ستړی او سرګردانه را ولاړېږي، ګنګس دی، نه پوهېږي په کور کې یې څو ځله ګرځېدلی راګرځېدلی دی. خپل د اوس مهال تش جیب او هغه ورځې چې په مستري خانه یې ګټه ګوټه وه او عاید یې په دوو برخو وېشل کېده. یوه برخه یې د کور په لګښتونو او بله برخه یې خیریه بنسټ ته بېلېده.

حاجي عبدالرحمن فکر کوی خو فکر یې هېڅ ځای ته نه رسېږي. داسې ښکاري چې ټولې لارې پرې تړل شوې دي. له ناچارۍ ولاړېږي، څادر یې په اوږه اچوي، له کرونا د مخنیوي له پاره ماسک هم په پوزه او خوله تړي، لاس پوښونې په لاس کوي او له کوره وزي.

د سړک له سر یوه رېکشا کرایه کوي، د رېکشا چلوونکي ته وایي:



«هر ځای مې چې وویل ودرېږه، هلته ودرېږه».

خپله ښه پوهېږي څه وکړي، له همدې کبله د هغو کسانو په دروازه کې چې یو څه بډایه دي درېږي، رېکشا چلوونکي ته وایي:

«همدلته انتظار شه».

حاجي عبدالرحمن د سیمې ټول اوسېدونکي پېژني چې څه لري او که یې نه لري.

یو ساعت نه تېرېږي چې د دریو سوو ډوډیو پیسې راوړي. وروسته ډوډۍ له نانوایي اخلي او په رېکشا کې روانېږي، هغو ورږو ته یې رسوي چې له لوږې یې په خېټه ډبرې تړلې دي. نوموړی سره له دې چې خپله هم په کرونا ناروغۍ اخته دی، هره ورځ یې همدا کار دی.

د میمنې په ښار کې ګرځي، پیسې او جامې راټولوي، اړمنو کسانو او هغوی ته یې رسوي چې د کرونا له کبله قرنطین او وزګار شوي دي.

له یوې میاشتې تېرېدو وروسته د کرونا ناروغي مخ په کمېدو کېږي، د میمنې ښار وضعیت خپل لومړني حالت ته ګرځي، حاجي عبدالرحمن هم خپله مستري خانه پرانیزي او کار پیلوي، او خپلو خیریه کارونو ته ادامه ورکوي.

# آی‌جمال[1]

ای‌جمال او مېړه يې سردار بېگ، هغه وخت چې ترکيې د ۱۳۹۸لمريز کال په کب مياشت کې د کرونا ويروسي ناروغۍ د خپرېدو له کبله پروازونه او گډ سرحدونه وتړل شول. دوی له ترکيې افغانستان ته راغلل او وروسته له هغه يې خپل کلي د تخار ولايت تالقانو ته ورسېدل. ای‌جمال او سردار بېگ د سردار په پلرني کور کې د سردار له ورېنداري او نورو خپلوانو سره ژوند پيل کړ.

د ۱۳۹۹ لمريز کال د اوړي په را رسېدو سره، د کرونا ويروسي ناروغۍ د خپرېدو په اړه د سيمه ييز حکومت اندېښنه ډېره شوه، خو د تالقانو په گډون د تخار د شپاړسو ولسواليو اوسېدونکو د قرنطين له مراعات کولو پرته خپل عادي ژوند ته ادامه ورکړه. د ۱۳۹۹ لمريز کال د وري مياشتې په درېيمه اونۍ سيمه ييز حکومت اعلان وکړ چې د کرونا ويروس له کبله يو بوډا مړ شوی او زوی يې هم په کرونا ويروس ککړ دی.

وروسته د تخار سيمه ييز حکومت پر کرونا له مړ شوي کس وروسته په تگ راتگ بنديزونه ولگول چې د خلکو په ارواييي حالت يې وېره خپره کړه.

۱- ليکوال: علي پيام

وېره د خلکو تر منځ ډېره شوه چې دولت د ۱۳۹۹ لمریز کال د ثور په ۲۳مه اعلان وکړ چې د ولایت په کچه ۱۱۸ تنه د کرونا په ناروغۍ اخته شوي دي او تر اوسه په دې ولایت کې په کرونا د اخته کېدو له کبله ٦ تنه مړه شوي دي.

حکومت د ۱۳۹۸ لمریز کال په کب میاشت کې له کرونا ناروغۍ سره د مبارزې له پاره اړین تدابیر پیل کړل. د کرونا په ویروس د اخته ناروغانو له پاره یې په تخار ولایت کې ځانګړی روغتون جوړ کړ چې د تخار ولایت د عامې روغتیا ریاست له لوري به یو ټاکل شوی موټر په تالقان ښار او کلي کې ګرځېده او له کرونا ویروس څخه د ځان ساتنې په اړه به یې خلکو ته د عامه پوهاوي ورکولو دنده ترسره کوله، خو خلکو د دې ناروغۍ پر وړاندې بندیزونو ته کومه ځانګړې پاملرنه ونه کړه، په پایله کې کرونا ناروغۍ په پراخه کچه په خپرېدو پیل وکړ.

ای‌جمال او سردار بېګ سره له دې چې تالقان ته له بهر راغلي وو، خو د تګ او راتګ له بندیزونو پرته او د قرنطین مقرراتو ته په نه پاملرنې سره یې د خپلوانو کورونو ته تګ او راتګ کاوه او په ښار کې ګرځېدل. ځینو ګاونډیانو او خپلوانو یې ورته وویل، د دوه اونیو له پاره باید په کور کې قرنطین شي، خو ای‌جمال او سردار بېګ د هغوی خبرو ته یوه ذره ارزښت هم ورنکړ او لکه د ګرځنده بمونو په څېر هر لوري ته لاړل او تګ او راتګ یې کاوه.

په کرونا ویروس د یوه کس له مړینې او د هغه د زوی تر اخته کېدو وروسته، د حکومت اندېښنه پسې ډېره شوه او په پای کې د ۱۳۹۹ لمریز کال د وري په لومړۍ نېټه د جمعې په ورځ د تخار په تالقان کې ټول عمومي ځایونه د پولیسو له لوري بند شول او د خلکو هر ډول را ټولېدنې منعه شوې.

د حکومت له فشار سره سره هم خلکو پاملرنه نه کوله. دا نه پاملرنه هغه

مهال نوره هم ډېره شوه کله چې په تخار کې سلګونو خلکو د تالقان ښار په لومړۍ ناحیه کې د یوه بوډا د جنازې په مراسمو کې چې د کرونا ویروس له کبله وفات شوی و ګډون وکړ. په داسې شرایطو کې د خلکو پراخ ګډون، د حکومت اندېښنه څو چنده زیاته کړه.

د حکومت له لوري د قرنطین په اوج کې هم خلکو خپل نورمال فردي او ډله ییز ژوند ته ادامه ورکوله. ای‌جمال چې د خپل مېړه سردار بېګ په پلرني کور کې د خپلې کورنۍ له غړو سره ژوند کاوه، د لېوره حاتم بېګ په خوښه، د دوی د کورنۍ ماشومانو ته یو ښوونیز او روزنیز ټولګی پرانیزي.

د پسرلنیو ورځو په یوه مازیګر، حاتم بېګ سردار بېګ ته یو وړاندیز وکړ:

«سرداره! دا چې ستا مېرمن ښوونکې ده، نو د کور له کارونو خلاصه ده او د کور په کارونو کې به د مرستې پر ځای، هر مازیګر ستاسې ټول ورېرونه را ټولوي، درس دې ورته وایي او له هغوی سره دې د ښوونځي په درسونو کې مرسته کوي.

دا خبره د سردار خوښه شوه. له حاتم بېګ سره یې چې مخه ښه وکړه، کور ته لاړ، له ای‌جمال سره یې د حاتم بېګ وړاندیز شریک کړ او ورته ویې ویل:

«مازیګر چې له ښوونځي راځي، د کورنۍ ټول ماشومان دې راټولوي، پنځه وخته لمونځ او د ښوونځي کتابونه دې ور زده کوي».

ای‌جمال له څنډ پرته او د قرنطین وضعیت ته په کتلو او د کرونا ناروغۍ د لېږد اندېښنو ته په پاملرنې سره خوښه شوه، په شونډو یې مسکا خپره شوه او د زړه له کومې یې وویل:

«ډېر خوشالوونکی وړاندیز دی».

د سبا ورځې په مازیګر چې ای‌جمال له ښوونځي کور ته راغله، کور ته د راتګ پر مهال یې، څو جلده نوراني قاعدې، دوه درجنه کتابچې او د پنځوسو په شاوخوا کې قلمونه او پنسلونه واخیستل. کور ته چې ورسېده

د خپلې کوټې تر څنګ کوټه یې منظمه کړه او وروسته یې له کوم ځنډ پرته غږ وکړ:

«ماشومانو راشئ چې درس درکړم».

دوی چې په یوه کور کې ډېره ګڼه کورنۍ اوسېدل، له پنځو کلونو لوړ عمر لرونکي هلکان او نجونې یې ای‌جمال ته د زده کړې له پاره ولېږل او په همدې ډول، له ټولنیز واټن او ګڼې ګونې د منعې فرمان ته په نه کتلو سره څو تنه پر یوه ځای، د کور په یوه کوټه کې په زده کړه بوخت شول.

له ای‌جمال څخه په لویو او وړو ماشومانو کې نوراني قاعده، قران شریف، تجوید او ځینو هم د ښوونځي د ځینو کتابونو زده کړه پیل کړه. ای‌جمال به د ورځې په ښوونځي کې معلمي کوله او مازیګر مهال به یې د کورنۍ ماشومانو ته درس ورکاوه. هغه سره له دې چې لوستې وه، خو اجتماعي فکر یې بل څه ویل.

ای‌جمال، مېړه یې او د کور غړو یې هېڅ کله فکر ونکړ چې دوی به له ترکیې څخه تالقان ته د کرونا ویروس راوړی وي. ای‌جمال د دې پر ځای چې ځان قرنطین کړي، د ښوونځي په ترلي چاپېریال او د کورنۍ ښوونځي په چاپېریال کې چې خپله یې جوړ کړی و، له ماشومانو، ښوونکو او د ښوونځي له مسؤلینو سره به یو ځای وو.

ورځې یو پر بل پسې تېرې شوې. د پسرلي په ورځو کې یوه ورځ ای‌جمال ته سر دردي پیدا شوه. د شپې له خوا به د سر درد له کبله بې تابه وه. د درد د ارامولو له پاره به یې د درد درمل خوړل او تدریس ته به یې ادامه ورکوله.

په سبا یې ای‌جمال د خپلې سختې سر دردۍ او ستوني درد مسله د ښوونځي له نورو ښوونکو سره شریکه کړه.

مستوره چې د ای‌جمال ډېره نژدې ملګرې وه ای‌جمال ته یې یې وویل:

«ډېر ژر باید کلینیک ته لاړ شو».

ای‌جمال وویل سمه ده او زیاته یې کړه:

«کلینیک ته له تګ مخکې باید یو ځل کور ته لاړه شم».

ای‌جمال او مستوره چې ځنګ په ځنګ د ای‌جمال کور ته لاړل، ای‌جمال ناڅاپه بې حاله شوه او ضعف یې وکړ.

مستوره دې وضعیت ډېره پرېشانه کړه او کلینیک ته یې زنګ وکړ. لس دقیقې وتلې نه وې چې امبولانس را ورسېد او ای‌جمال یې روغتون ته انتقال کړه. د روغتون روغتیایي پرسونل د ای‌جمال وضعیت معاینه کړ. له کتنې وروسته څرګنده شوه چې نوموړې په کرونا ناروغۍ اخته شوې ده.

لړزوونکې تبه، ټوخی، نفس تنګي، سخته ستړیا، د غړو دردونه، سر درد، د بوی او خوند حس له لاسه ورکول، د ستوني وچېدل، د پزې د اوبو بهېدل، زړه بدوالی ټولو ای‌جمال را ایساره کړې وه، که یې لږ ناوخته را رسولې وای کېدای شي تلف شوې وای.

کله چې ای‌جمال په هوښ راغله، ډاکټرانو کور ته ولېږله او سپارښتنه یې



ورته وکړه پرته له دې چې د کورنۍ له غړو سره اړیکه ولري، ځان دې په یوه بېله کوټه کې قرنطین کړي. وروسته د روغتون سر طبیب د ای‌جمال په اړه پوښتنه وکړه چې د ناروغۍ پر مهال له چا سره په اړیکه کې وه او کوم بهرني هېواد ته یې سفر کړی و او که نه؟

سردار چې تازه د ای‌جمال څنګ ته رسېدلی و وویل:

«هو، زه او مېرمن مې څو اونۍ مخکې له ترکیې راغلي یو».

ډاکټر په ځیر سره سردار ته وکتل او په تریو تندي یې وویل:

«ایا موږ څو ځلې اعلان نه دی کړی هر څوک چې له بهرنیو هېوادونو راځي باید تر دوو اونیو په کور کې قرنطین شي او له هېچا سره اړیکه ونه نیسي»؟

ډاکټر نور څه ونه ویل. درمل یې ورکړل، روغتیایي سپارښتنې یې ورسره شریکې کړې او ورته ویې ویل:

«که غواړې مېرمن مو روغه شي نو د بېل اوسېدو او قرنطین شرایط پرې پلي کړئ، که نه نو، نه یوازې ستاسې مېرمن بلکې ستاسې ټوله کورنۍ او ښار به په کرونا ویروس اخته شي».

ای‌جمال سره له دې چې له تبې او سر دردي سره لاس او ګرېوان وه، خو د خپلو زده کوونکو زده کړو ته هم پرېشانه وه. په ډېرې پرېشانۍ یې سردار ته وویل:

«زده کوونکي مې له زده کړو پاتې شول»،

هغه ډېره ناهیلې ده او سردار بېګ ته ناهیلې سترګې ور اړوي. د روغتون ډاکټر ای‌جمال ته په غوسه سترګې ور اړوي او ورته وایي:

«آیا تاسې نه پوهېږئ چې د کرونا ویروس په هکله مو تبلیغات د ۱۳۹۸لمریز کال د کب په څوارلسمه پیل کړي دي؟ تاسې ولې دومره بې فکره او بې پامه یاست؟ ایا تاسې نه پوهېږئ چې که کرونا ویروس یو ځل د خلکو وجود ته لاړ، ښار او کلی به له مړو ډک شي».

وروسته يې سردار ته په تريو تندي وکتل او په لوړ غږ يې ورته وويل:

«موږ د تېر کال د کب له مياشتې د کرونا ضد کمپاين پيل کړی دی، ايا تاسې پرې خبر نه ياست؟ ايا تاسې نه پوهېږئ چې د عامې روغتيا رياست د تالقانو ښار په کوڅو کې ګرځېدلي او خلکو ته يې د کرونا ويروس په اړه معلومات ورکړي دي؟ او په دې هم خبر نه ياست چې له کرونا سره د مبارزې ډلې خلکو ته د معلوماتو له پاره تبليغاتي پاڼې ورکړې دي»؟

ای‌جمال يې په کور کې قرنطين شوه. ټوله شپه به د سر او ستوني له درده کړېده، غاښونه، ستونی او غوږونه به يې له درده چاودل. سردار د کلينيک د مؤظفو ډاکټرانو په سپارښتنه ای‌جمال په يوه بېله کوټه کې قرنطين کړه، ای‌جمال د کورونا ناروغۍ له لاسه د قرنطين دوه اونۍ په سخت حالت کې تېرې کړې، داسې درد چې له سر تر پښو يې خوړېده.

سردار بېګ د ډاکټرانو په سپارښتنه، ښه ډېره غوښه، سرکه او ليمو برابر کړل، له غوښې به يې يخني جوړوله او ای‌جمال ته به يې ورکول چې تقويه شي.

ای‌جمال دوه مياشتې د کرونا ويروسي ناروغۍ نيولې وه، له دوه مياشتې وروسته يې جسمي او رواني حالت ښه شو.



# تور قارچ[1]

د سرې تبې له لاسه د کاکا جبار وجود لکه د مني خزان چې پاڼه رپوي، رېږدېده. تار تار سپينه ږيره يې لکه د اغزي د بوټو د ښاخونو په څېر ښورېده. څو ساعته وروسته د بدن د غړو دردونو کاکا جبار داسې کړی و لکه وچ واښه چې په دښته کې بړبوکۍ لاندې کړي.

د کاکا جبار ټوخي د ساکتې شپې چوپتيا ماته کړه، هوا د تياره کېدو په لور وه، نيمه شپه د کاکا جبار ساه په بندېدو شوه. نرۍ يې په سترگو کې توره شپه ښکارېده.

مېرمن يې نورجهان د خپل مېړه نفس تنگي ته پرېشانه شوه. ليدل يې چې د مېړه رنگ يې الوتی دی. وارخطا شوه، ژر يې خپل زوی ته ټليفون وکړ او په ټپ او ژړغوني غږ يې ورته وويل:

---

۱-ليکوال علي پيام

«راشه چې د پلار حالت دې ښه نه دی».

صبور په خپل مازدا ډوله موټر کې روان شو چې څو کوڅې وړاندې یې د پلار کور ته لاړ شي، خو د پولیسو پوستې ودراوه د پولیسو سرتېري ورته وویل:

«قرنطین دی او د حکومت په حکم سره ګرځېدل منع دي. خپله وینې چې ښار له کرونایي ناروغانو ډک دی».

صبور پولیسو ته توضیح ورکړه چې چېرته د څه له پاره ځي، خو پولیسو د تګ اجازه ور نه کړه.

صبور د موټر له سوچبورد یو څو پیسې را وویستې او سرتېرو ته یې وړاندې کړې، هغوی پیسې ترې واخیستې او ویې ویل:

«ځه»!

صبور روان شو، د پلار کور ته چې ورسېد، کور ته وارخطا ننوت. خپل پلار یې ولید چې له ډېره درده تاوېږي راتاوېږي، ساه یې بندېږي او د اسهال له امله د حاجت رفع کولو ته ژر ژر بهر ځي.

پلار یې په غېږ کې واخیست او د خپلې مور په مرسته یې پلار موټر ته پورته کړ، د موټر له کړکۍ یې خپلې مور ته وویل:

«اندېښنه مه کوه، په خیر سره یې ژر روغتون ته رسوم».

روان شو، د صبور موټر هارن وکړ او له سلنسر یې دود پورته شو. د ټایر د اوښتو دوړه د اسمان لور ته والوته، موټر د سمنګان ښار په لور مخکې لاړ.

د روغتون په مخه کې ډېری ناروغان چې ځینې یې ځوانان او ځینې یې بوډاګان وو ځینې ولاړ او ځینې یې ناست وو. وخت په سختۍ مخکې ځي. لحظه په لحظه د خلکو ګڼه ګونه ډېرېږي.

ځینو ویل:

«ډېر وخت کېږي چې موږ دلته په تمه یو».

دا خبره د خلکو ترمنځ خوله په خوله شوه:

«داسې ښکاري چې روغتون له کرونايي ناروغانو ډک دی او ځای پکې نشته».

لمر پرېوت او د هوا له تیاره کېدو سره د خلکو شور هم زیات شو. درې ډاکټران او دوه ټاکل شوي سرتېري دروازې ته راغلل او ويې پوښتل:

«څه خبره ده»؟

خلکو په یوه غږ وویل:

«موږ ته د ننه کېدو اجازه نه راکوي او ناروغان مو هم د مړينې په حال کې دي».

صبور د خلکو له منځ هڅه وکړه، له یوه مسول سره خبرې وکړي چې پلار يې روغتون ته د ننه یوسي خو یو ساتونکي په لوړ غږ وویل:

«د ننه ځای نشته».

وروسته د یو بل تن لوړ غږ هم د روغتون د ښیښو له شا واورېدل شو:

تاسو خپله وینئ چې ځای نه لرو. کټ نه لرو او ټول بسترونه ډک دي.

صبور ډېرو اندېښنو حیران کړی و، ګڼه ګونه لا پسې ډېره شوه، صبور یوه نرس ته په زاریو وویل:

«پلار مې د نفس تنګۍ، د وجود د غړو درد او نس ناستي له امله په ډېر بد حالت کې دی. تاسې څه کوی شئ»؟

په ځواب کې يې وویل شو:

«دا پر مونږ پورې اړه نلري چې ستا پلار په کوم حالت کې دی، ځای نشته روغتون له کرونايې ناروغانو ډک دی».

د (ځای نشته) کلمه يې په ډېر ځواکمن غږ سره وکړه چې ان د روغتون د ودانۍ په هنداړو کې راغبرګه شوه. بیا هم صبور په ناصبرۍ هڅه وکړه چې کېدای شي یوه دروازه ورته پرانیستل شي. پلار يې د روغتون دروازې سره پرېښود په سرګردانۍ يې شاوخوا کتل، ډېر وګرځېد، خو بېرته ناهیلی دپلار خواته راغی.

خپل موبایل یې له جېب را وویست او له کوم چا سره یې خبرې وکړې. وروسته د خلکو له ګڼې ګوڼې را ووت او هغه کس چې مخکې یې ورته ویلي وو ځای نشته، ورباندې غږ وکړ:

«صبوره! صبوره!»

صبور په چیغو سره ځان د خلکو د ګڼه ګوڼې له منځه ور ورساوه.

صبور ته غږ کوونکي، خوله لکه د سپي په ډول پرانیستې او غاښونه یې له ورایه برېښېدل، په غوسه ناک غږ یې صبور ته وویل:

«ته چېرته وې، ناروغ دې چېرته دی، ولې دې دومره ځنډ وکړ، ارباب غفور دې ولې خبر کړ»؟

او اشاره یې ورته وکړه چې ناروغ د ننه یوسي.

صبور خپل پلار د ګڼې ګوڼې له منځه چې د روغتون د دروازې پر وړاندې را ټول شوي وو، یوور او په دهلیز کې یې خوشې کړ او خپله لاړ چې د پلار د بستر کېدو کارونه وکړي. په دې ګڼه ګوڼه کې یې د یوه ناروغ پایواز ولید چې یو څو روپۍ یې د هغه سړي په لاس کې ورکړې چې لږ مخکې یې په لوړ غږ نارې وهلې چې ناروغانو ته نور ځای نشته. دغه سړي چې پیسې واخیستې، نو هغه ناروغ یې له هغې دروازې را د ننه کړ چې هنداري یې په تورو ټاپو او داغونو خیرنې وې. ناروغ یې د ننه سالون ته راووست، د ناروغ پایواز یو سوړ اسویلی وویست او یو څه خوشاله ښکاره شو چې ایله یې ناروغ سالون ته را د ننه کړای شو.

په پای کې، له ډېرو هلو ځلو وروسته صبور ته وویل شول:

«پلار دې هغې خواته ته بوزه او بستر یې کړه خو دا درته وایم چې موږ د انټیلاټور دستګاه نه لرو».

صبور یې بېرته د پلار خواته راغی، ویې لیدل چې پلار یې له ډېره درده سره تاو شوی دی او نفس په سختۍ سره باسي، بیا یې هم ډېرې منډې را منډې وکړې خو هېڅ ورته پام ونکړ.

په پای کې بیا هغه کس ته ورغی چې د ننوتلو اجازه یې ورکړې وه:
«داسې ښکاري چې د مصنوعي ساه اخیستو ماشین نلرئ»؟
هغه کس په ډېره بې پروایي دروازه نیمه پرانیسته او ویې ویل:
«نو ورشه، له بهر یې راوړه».
صبور بېرته سالون ته لاړ. د روغتون یوه مسول ته چې لاسونه یې جېب کې د ننه کړي وو او څو ځلې یې له مخې تېر شو، وویل:
«مرسته راسره وکړه پلار مې له لاسه وزي».
صبور په خپل لاس د خپل تندي روانې خولې پاکې کړې او پرته له دې چې دا کس ترې وپوښتي، ویې ویل:
«ساه یې بندېږي، نس ناستی لري، بدن یې خوږېږي، لوړه تبه...»
یاد پرته له دې چې پام ورته وکړي ویې ویل:
«اکسیجن نه لرو».
صبور څو روپۍ په لاس کې ونیوې، د هغه کس لاس یې په لاس کې ډېر کلک ونیو او په زاریو یې ورته وویل:
«د خدای په لحاظ همکاري راسره وکړئ...»
بیا یې پیسې د هغه په لاس کې ور کېښودې.
هغه کس شاوخوا وکتل، پیسې یې واخیستې، د صبور څېرې ته یې چې له ستومانۍ، پرېشانۍ او ناهیلۍ ډکه وه، رډ وکتل او ویې ویل:
«ته یوه شېبه همدلته صبر وکړه زه ژر بېرته راځم او...»
خپله خبره یې نه وه ختمه کړې چې یوې کوټې ته ننوت، بېرته ژر راغی او ویې ویل:
«پلار دې...»
خپله خبره یې پرې کړه او روان شو، صبور ته یې اشاره وکړه:
«پلار دې راوله».
صبور خپل پلار له اوږو ونیوه چې لکه یوه زړه ټوټه داسې په لاره روان

و. يوې کوټې ته ننوتل.

صبور چې کوټې ته وکتل په دوو دريو تشو چپرکټونو يې سترګې ولګېدې، ډېره غوسه ورغله، پلار يې پر يوه کټ څملاوه او ډاکټر ته په تمه شو. د غرمې خواته يو ډاکټر اتاق ته را د ننه شو، صبور هم په ډېرې وارخطايي ډاکتر ته وويل:

«مرسته راسره وکړه، پلار مې له لاسه ورکوم، معاينه يې کړه».

وروسته يې په ډېره غوسه وويل:

«دا څه ډول روغتون دی»؟

ډاکتر صبور ته ډېر بد بد وکتل او ويې ويل:

«غواړې چې تاسې او پلار دې له روغتونه بهر وغورځوم»؟

د دې خبرې په اورېدو سره صبور لکه واوره چې د لمر په وړانګو ويلې کېږي ويلې شو.

ډاکټر هم د څو کرونايي ناروغانو له کتلو وروسته چې ځينې يې د کوټې پر کټونو او ځينې يې د اتاق پر مخ پراته وو، د کاکا جبار کټ ته ورغی او د کاکا جبار تر کتنې وروسته يې صبور ته وويل:

«پلار دې نفس تنګي لري او موږ د اکسیجن ډبه نه لرو».

د صبور خوله تريوه، ترخه او وچه شوه، له ناچارۍ يې ډاکټر ته وويل:

«څه بايد وکړم»؟

«لاړ شه او له بهر يې راوړه».

صبور پرته له دې چې کومه خبره وکړي، پلار ته يې وويل:

«پلارجانه! قوي اوسه، دوی وايي اکسیجن نه لرو، زه يې بايد له بهر راوړم».

د دې خبرې له ويلو وروسته صبور د دروازې په لور روان شو.

صبور د ښيښه اي دروازې په مخکې هغه کس ته چې پخوا يې ورته ويلې وو ځای نشته، وويل:

«زه باید بهر لاړ شم او اکسیجن راوړم، بېرته راځم».

له دروازې داسې په بیړه بهر شو، لکه یوه ډبره چې له مچنوغزې وزي.

صبور د اکسیجن د یوې ډبې د اخیستو له پاره بازار ته لاړ او هلته یې له یوه بوډا هټیوال چې د خپل دوکان تر مخ یې ولاړ و، وپوښتل:

«د اکسیجن ډبه لرئ»؟

هټیوال ورته وویل:

«څو دانې غواړې»؟

«یوه ډبه غواړم».



صبور ته د يوې ۱۰ لېټره ډبې بيه معلومه وه چې تر دې مخکې په ۲۰۰۰ افغانۍ وه، نو ځکه يې له خپل جېبه دوه زره افغانۍ را وويستې او تر دې مخکې چې ډبه له دوکانه را وباسي، هټيوال ورته وويل:

«پاتې پيسې نه راکوې»؟

صبور هک پک پاتې شو، هټيوال ته يې په ځير ځير وکتل:

«د څه شي پاتې»؟

هټيوال په تريو تندي او غوسه ناک ورته وکتل او ويې ويل:

«د ډبې بيه ۷۰۰۰ افغانۍ ده».

«د کرونا په لومړيو ورځو کې زموږ د دوستانو يو کس ناروغ شوی و، ما خپله له تاسې يوه ډبه په دوه زره افغانۍ واخيسته».

هټيوال په بې حوصلې سره ډبه بېرته ورڅخه راکش کړه او ورته ويې ويل:

«قيمته شوې ده، هرڅه قيمته شوي که يې اخلې واخله، که نه اخلې، ځه لار دې وهه».

وروسته يې د کوڅې پای ته اشاره وکړه او ويې ويل:

«ښه راغلې».

صبور هم د ناچارۍ له کبله ۵۰۰۰ نورې هم ورکړې او پرته له دې چې کوم څه ووايي له دوکان ووت.

صبور د اکسيجن ډبه په خپل موټر کې کېښوده، کله يې چې غوښتل د روغتون په لور روان شي، د دوی يو ګاونډی ورباندې پېښ شو، صبور ترې وپوښتل:

«خيريت خو به وي»؟

ګاونډي يې وويل:

«مور مې ناروغه ده، په روغتون کې يې وويل ځای نشته، راغلم چې د اکسيجن ډبه واخلم».

صبور وویل:

«ستاسې کور د روغتون په لاره دی، ژر یې واخله چې کور ته دې ورسوم».

ګاونډي یې وویل:

«په څو دې واخیسته»؟

صبور په اندېښمنه ژبه وویل:

«ژر یې واخله چې زه مې باید پلار ته اکسیجن ورسوم».

د صبور ګاونډي له دوکاندار وپوښتل:

«۴۱لیټره ډبه په څو ده»؟

هټیوال ورته په ځوا ب کې وویل:

«په۳۰۰۰۰ افغانۍ ده، خو ستاسو له پاره په ۲۵۰۰۰».

ګاونډي یې وویل:

«دا څه بې انصافي ده. داسې فکر مه کوه چې موږ یې له بیو بې خبره یو».

وروسته یې هټیوال ته مخ کړ او ورته ویې ویل:

«همدا ۴۱ لیټره ډبه له کرونا وبا مخکې په ۸۰۰۰ افغانۍ وه».

خبرې یې ور پرې کړې او صبور ته یې وویل:

«ته لاړ شه چې ناوخته کېږي، څکه ما سره ۲۵۰۰۰ افغانۍ نشته».

مخکې له دې چې خبره یې پای ته ورسوي له کوم چا سره په اړیکه کې شو.

صبور چې حرکت وکړ دا یې واورېدل چې مقابل لوري ته وایي:

«پیسې راوړه...»

او د خپل ګاونډي نورې خبرې یې وا نه ورېدې.

روغتون له کرونایي ناروغانو تر څوکو ډک و، صبور چې روغتون ته ورسېد، یوه ارامه ساه یې وویسته. د ناروغ پلار د کټ تر څنګ یې د روغتون

نرس احمد خان چې د دوی گاونډی و ولید چې د پلار خدمت یې کوي. صبور احمد خان ته وویل:

«ډېری خلک د خپلو ناروغانو په له لاسه ورکولو غمجن دي، ځکه یې ناروغان تلف شول چې روغتون کې اکسیجن نشته».

احمد خان وویل:

«صبور جانه! له رسنیو دې نه دي اورېدلي چې د مصنوعي ساه اخیستلو ۳۲ ماشینونه له روغتیا وزارت څـخه پاکستان ته قاچاق شوي دي»؟!

وروسته صبور ته را نږدې شو او په ډېرې ارامې یې ورته وویل:

«دا دستگاوې له روغتیا وزارت غلا شوې دي، هرې دستگاه له ۱۸ تر ۲۵ زرو ډالرو بیه لرله، سره له دې چې زموږ ناروغان د روغتیایي وسایلو د نشتوالي له کبله له مرگ سره لاس او گرېوان دي».

صبور غوښتل څه وواېي خو نرس په ډېرې خواشینۍ وویل:

«د دې ماشینونو ارزښت ٦۰۰ زره امریکایی ډالرو ته رسېږي».

وروسته یې په داسې حال کې چې د کاکا جبار تبه یې کتله صبور ته وویل:

«داسې ښکاري، خبر نه یې چې لویې څارنوالۍ، والي او د عامې روغتیا د رییس په گډون شل تنه نور، درې تنه د ولایتي شورا کار کوونکي، د اسیا فرمان د شرکت مرستیال او استازي، د مستوفیت ریاست د کنټرول مدیر، د کرونا پر وړاندې د مبارزې د تجهیزاتو مدیر، د ارزونې د هیأت غړی او د ارزونې کمېټې دوه تنه ډاکټران د کرونا وبا د مصرفي بودیجې د فساد په تور محکمې ته استولي دي».

احمد خان په ډېرې خواشینۍ صبور ته نږدې راغی او زیاته یې کړه:

«اداري فساد په دې هېواد کې د کرونا وبا په څېر ریښې غزولې دي او د ټولنیزو اخلاقو نښه هم پاتې نه ده. وروسته یې بیا وویل:

«یوازې دکرونا له بودیجې د ۲۰ میلیونو افغانیو اختلاس، راپور ورکړل

شوی».

دوی په همدې خبرو بوخت وو چې له ټلویزیون څخه د ازبکستان هېواد له لوري د ۱۰۰۰ دانو اکسیجن ډبو د مرستې خبر خپور شو. د کرونایي ناروغانو پایوازان د دې نوي خبر په اورېدو ډېر خوښ شول او ویې ویل، له دې مرستې سره به د ۱۰۰۰تنو کرونایي ناروغانو ژوند وژغورل شي.

سبا سهار د ناروغ لرونکو په څېرو کې د خواشینۍ نښې له ورایه ښکارېدې.

صبور وپوښتل څه خبره ده؟

نرس راغی او ویې ویل:

«د عامې روغتیا وزیر په پارلمان کې ویلي، د ازبکستان ۱۰۰۰ مرسته شوې ډبې بې اکسیجنه دي».

د صبور له کور د ښکته کوڅې ګاونډی چې پخوا د ولایتي شورا غړی و، په پرېشانۍ یې سره وښوراوه او ویې ویل: «همداسې ده بلکل....هو»،

نورې خبرې یې ونه کړې، صبور نږدې ورغئ د هغه پرېشانه څېرې ته یې وکتل او ترې ویې پوښتل:

«کېدای شي تاسې به پر دې پوهېږئ چه د دې قضیې تر شا کومه خبره ده»؟

د ښکته کوڅې ګاونډي وویل:

«تر لمر روښانه راته معلومه ده».

«څنګه؟ څه شی درته معلوم دي»؟

«اداري فساد خو څه ښکر نه لري».

وروسته یې مکس وکړ او بیا یې وویل:

«په دې خبرو کې د مافیا لاس دی، مافیا په لارو کې په زرګونو بالونونه پر تشو ډبو بدلې کړې دي که نه اوزبکستان خپل نوم نه بدوي».

د صبور دوی له کور ښکته کوڅې ګاونډی په خپله ګډه وډه ږیره لاس

تېر کړ، بیا یې ټولو هغو ناروغ لرونکو ته وکتل چې د روغتون په اوږده سالون کې پرېشانه او په خواشینۍ سره له یو بل په واټن کتار ناست یا ولاړ وو، وروسته د همغې دروازې په لور روان شو چې د سالون په پای کې وه، همداسې پسې ووت او له سترگو پناه شو.

د دې ورځې په سبا د کاکا جبار پر مخ تورې لیکې او ټاپې را څرگندې شوې. همداراز یې نفس تنگي هم ډېره شوه. معالج ډاکټر د جبار کاکا سرته ودرېد او څو معاینې یې وکړې. د معاینو پایلو ته یې چې وکتل، یو څه په اندېښنې سره یې له جیب مبایل را وویست او زنگ یې وواهه. معلومه نه شوه چېرته یې زنگ وواهه، خو دومره وپوهېدو چې ویې ویل:

«په خواشینۍ سره د ناروغ له ښېو داسې ښکاری چې د تور قارچ ویروس د ناروغ سینې، تنفسي سېستم او ان مغزو ته رسېدلی دی».

معالج ډاکتر پورته شو او د ناروغ له کوټې ووت، صبور هم ورپسې ووت دهلیز ته چې ورسېدل، د ډاکتر تر مخ ودرېد ترې ویې پوښتل:

«څه خبره ده او څه ستونزه ده»؟

له ډاکټر یې هیله وکړه موضوع ورته ووایي، ډاکټر صبور ته وویل:

«ستاسې پلار په ښه حالت کې نه دی. خدای مهربانه دی، رښتیا خبره دا ده چې ستاسې پلار د تور قارچ په ناروغۍ اخته شوی دی. په دې څو ورځو کې تور قارچ د هغو ناروغانو تر مینځ چې پر کرونا اخته وو او یا یې هم د شکرې ناروغي لرله په افغانستان کې ثبت شوي چې له ډلې یې یو په سمنگان ولایت کې دی».

د دې خبرې له ویلو سره سم ډاکتر د وره په لور روان شو او صبور ته یې وویل:

«لومړۍ پېښه د کابل ښار د وگړو تر منځ ثبت شوې وه، دوهم ځل هم په بغلان ولایت کې ثبت شوې وه چې له کابله ورته انتقال شوې وه او درېیمه پېښه هم دا دی په سمنگانو ولایت کې ثبت شوه چې همدا ستاسې پلار

دی. ډاکتر د دې خبرو په ادامه وویل:

«تور قارچ په هغو ناروغانو کې راځي چې په کرونا ویروس اخته شوي وي او یا هم هغه کسان چې د شکرې پر ناروغۍ اخته وي.»

صبور ډاکټر ته وویل:

«نو د تور قارچ له پاره کومه درملنه شته»؟

په ډېرو پېښو کې، د دې ناروغۍ مخنیوی یوازې د بدن د یوې برخې د پرې کولو په ذریعه کولای شو او په ښه حالت کې کېدای شي ۵۵ سلنه خلک وژغورل شي».

شپېږې په سختۍ تېرېدې او صبور لحظه په لحظه په کرونا د اخته ناروغانو د مړینې شاهد و. هره دقیقه به چې اکسیجن ناوخته رسېده یو دوه ناروغان مړه کېدل. ټولو لیدل چې د کرونا ناروغۍ په اوج کې، روغتون ته اکسیجن ناوخته رسېده.

صبور په دغو شپو ورځو کې چې په روغتون کې یې د پلار پایواز و، په ښه ډول په دې وپوهېده چې د اکسیجن د ناوخته رسېدو او د اکسیجن د بیو د لوړېدو له کبله هره ورځ څو ناروغان خپل ژوند له لاسه ورکوي، مړي یو پر بل پسې په پلاستیک کې پېچل کېږي او له کفن او جنازې پرته خاورو ته سپارل کېږي.

صبور په دوهمه شپه د اکسیجن د مسول په څېره کې د خپګان او پرېشانۍ ژورې نښې ولیدې، ورغئ پوښتنه یې ترې وکړه:

«خیریت دی؟»

د اکسیجن مسوول وویل:

«د اکسیجن د راوړلو موټر تر اوسه له لارې نه دی را رسېدلی، د ای‌سی‌یو د اکسیجن ډبه هم مخ په خلاصېدو ده اوس نو کېدای شي تر لس یا پنځلسو دقیقو وروسته موجود اکسیجن ختم شي».

نیم ساعت وروسته په ای‌سی‌یو یا جدي څارنو په څانګه کې اووه تنه

یو ځای په حق ورسېدل، د اکسیجن مسول پر خپل تندي لاس کېښود او په ډېره خواشینۍ یې وویل:

«د اکسیجن مافیا د خلکو وژونکي دي»!

د همدې خبرې په ویلو سره له ای‌سی‌یو خونې ووت. د کاکاجبار د کټ مخامخ ناروغ بستر و چې د ډېرې سختې نفس تنګۍ له کبله ومړ.

نرسانو یې جنازه په تورو پلاستیکونو کې غوټه او له ای‌سی‌یو یې د باندې وویسته.

د وفات شوي خپلوانو ډېر وژړل او صبور په دې پلمه چې د سندرو اورېدل د کرونایي ناروغ له پاره ښه دي، خپل پلار ته د سندرو زمزمه پیل کړه چې پلار یې د کرونا د ناروغ په مرګ او د خپلوانو په حال پوه نشي.

سبا سهار وختي صبور په خپلو سترګو ولیدل چې د پلار ساه یې بندېږي.

نرس ته یې غږ وکړ، خو هغه ډېر ناوخته راغی او په ډېره غوسه یې وویل:

«څه خبره ده! ولې دومره چیغې وهې»؟

صبور خپل پلار ته اشاره وکړه او ویې ویل:

«پلار مې ساه نشي اخیستی».

نرس په ډېره غوسه وویل:

«چې ساه نشي اخیستی نو زه څه وکړم؟، زه خو ستا پلار ته ساه نشم ورکوی، کېدای شي پلار دې مړ شوی وي».

د صبور ټول وجود له غوسې لمبه لمبه شو، خو هېڅ یې هم نشو کوی، ځکه چې کار یې همدې نرسانو او د روغتون نورو کار کوونکو ته بند و. که نرس ترې وتلی وای، نور نو هېڅوک نه وو چې مرسته یې وکړي، صبور خپل لاس موټی کړ او پر دېوال یې یو ګوزار وکړ او خپل تندی یې له ډېرې خواشینۍ پر دېوال کېښود. د نرس غږ راغی چې وایي:

«پلار دې مړ شوی دی».

صبور داسې احساس کړه لکه غوړونه یې چې هېڅ نه اوري. په سترګو

يې توره شپه شوه. احساس يې وکړ ويروونکی خوبويني. فکر يې وکړ هېڅ يې نه دي اوربدلي، يو ځل بيا يې د نرس غږ واورېد:

«پلار دې مړ دی.»

د صبور باور نه کېده، نرس ته په غوسه و، له غوسې تاو راتاو شو او له ځان سره يې وويل:

«که مې دلته پر وس وای، نو ستا په خوله کې به مې يو غاښ هم نه وای پرېښی»



خو خبره یې تېره کړه او د خپل پلار کټ ته ور نږدې شو، تر اوسه یې هم باور نه راته، خو دا یو واقعیت و. پر خپلو سترګو یې ولید چې پلار یې (کاکا جبار) په تورو غبرګو پلاستیکونو کې ووپېچه، له روغتون یې وویست او په امبولانس کې له روغتون بهر یوړل شو. صبور په ای‌سي‌یو کې لکه یو وچ لرګی پاتې شو.

پر دې نه پوهېده څومره وخت تېر شوی، خو نرس یې په اوږه لاس کېښود ویې ویل:

«پلار دې مړ شوی او هدیرې ته یوړل شو چې خاورو ته یې وسپاري».

وروسته یې هغه خبرې چې په سختۍ یې وکړې ویې ویل:

«کور ته دې لاړ شه، دلته ولې د وچ لرګي په څېر ولاړ یې»؟

صبور ټکان وخوړ، د وچ لرګي په څېر و، فکر یې شو تازه نفس پکې راغلی. ستونی یې وچ شوی و، په سترګو کې یې اوښکې نه وې لکه سمندر چې وچ شوی وي. له روغتون بهر یې دېوال ته تکیه وکړه، د خپل پلار په سوچ کې شو چې څو شېبې مخکې ژوندی و، مور ور په یاد شوه چې اوس به یې دوه سترګې دروازې ته نیولې وي چې د مېړه د جوړېدو ښه خبر واوري.

خو صبور یې ذهن قلف کړی و، په هېڅ نه پوهېده او هېڅ پرېکړه یې هم نشوای کوی. هغه شېبه ور یاده شوه چې پلار یې خپل مازدا موټر کې روغتون ته ورساوه، ورو یې ورته ویلي وو چې:

«دا دی له خیره روغتون ته را ورسېدو».

روغتون ته په سوچ کې شو چې یوه قصابخانه وه، ټول کارونه یې داسې وو چې ناروغ لرونکی به په هر ګام کې پیسې ورکوي، له رشوت پرته هېڅ کار نه کېږي. ټولې ګډوډۍ د صبور د سترګو ترمخ په کرارۍ سره تېرې شوې.